

# د ملي او ایتنیکي مسایلو تیوریکي اړخونه


لیکوال:

کاندید اکاډیمیسن م. انور نومیالی



د ملي او ایتنیکي مسایلو تیوریکي اړخونه

لیکوال: کاندید اکاډیمیسن م. انور نومیالی


د نونسمي پېړۍ په منځنیو کلونو کې چې د بېلابېلو ملتونو د کارګري طبقې د سیاسي پیوستون نړیوال سازمان جوړېدی، نو په دې دوران کې د ملي مسألې یا پرابلم د حل دپاره داسي پرنسیپونه د مارکس او اینګلس له خوا څخه منځ ته راغلل، چې: «هر ملت چې بل ملت مریی کوي، هغه خپل ځان ته ځنځیران جوړوي!» او یا دا چې «یو ملت چې تر څو پر بل باندې ظلم کوي، په خپله هم نه سي کېدلای، چې آزاد سي!»

د کتاب له متنه...

# د ملي او ایتنیکي مسایلو تیوریکي اړخونه

لیکوال

کاندید اکاډیمیسن م. انور نومیالی

ټایپ او ترتیب: خورشید خاوړي

# فهرست

مقدماتي ټکي ........................................................ ۵
ټیک کلماتو ته اړتیا: ................................................. ۵
ایتنوس ethnos: ...................................................... ۵
ایتنیکوس ethnicos: .................................................. ۷
تنیکواین ethnicon: .................................................. ۸
ایتنو ethno: ........................................................ ۹
ایتنوجیني ethnogeny: ................................................ ۱۰
ایتنوسینتریزم ethnocentrism: ......................................... ۱۰
ایتنیک ethnic: ...................................................... ۱۰
ایتنوگرافي او ایتنولوجي ethnography and ethnology: .................. ۱۱
«ایتنولوجي (او همدارنګه ایتنوګرافي): ................................. ۱۳
د ایتنوس په معادله کي ژوره ګډوډي: ................................... ۳۲
ملت: ................................................................ ۳۵
نېشن Nation: ........................................................ ۴۰
ناځیه Нация: ........................................................ ۵۰
ملي مسأله او که ایتنیکي مسأله؟ ...................................... ۶۲

د ملي مسألې نوعیت او حل ئې ....................................................۶۸
د ایتنیکي مسألې نوعیت او حل ئې ..............................................۷۷
طبیعي حل:..........................................................................۷۸
اجتماعي حل: ......................................................................۷۹
سیاسي حل:.........................................................................۸۱
د ملي او ایتنیکي مسألې په حل کې ځیني آزموینې .............................۸۵
تبلیغاتي اړخ:.......................................................................۹۵
واقعي اړخ: .........................................................................۹۶
د مناقشې اړخ:......................................................................۹۹
د ملیتونو د مسألې په باب دوه دریځونه .......................................۱۰۲
د ایتنیکي هویت په ټاکنه کې د شاخص مسأله ..............................۱۲۳
مأخذونه .............................................................................۱۲۸

یادونه: په متن کې د اقتباسونو له اړخه سره د «ش» توری د مأخذونو شماره او د «م» توری د مأخذ د مخ نښه ده.

# مقدماتي ټکي

## ټیک کلماتو ته اړتیا:

د ملي یا ایتنیکي مسایلو په برخه کي علمي څېړني او لیکني نن تر هر څه دمخه دا غواړي، چي د دې ساحې پر متداولو او اصطلاحي کلماتو یا (ټرمونو) باندي یوه نوې کتنه وسي او د پېچلو مطالبو د سمي پېژندني او پوهېدني دپاره ئې د دلالت او افادې مفهومي پولي د امکان تر حده روښانه سي؛ ځکه یو خو دغې ساحې ته ځیني نوي خارجي لفظونه راغلي او لا هم را روان دي، چي د استعمال له خپرېدو سره ئې د پېژندني ضرورت مخ پر زیاتېدو دئ او بل یو شمېر پخواني کلمات، چي یوازي په تعاملي توګه د لغوي یا رواجي سابقې په عنعنوي روحیه تر عادي استفادې لاندي را ځي؛ نو د اوسني ژوند د ترکیبي جریاناتو او حالاتو په نوو انکشافاتو کي د مفهومي بدلون له پلوه د ګډوډۍ او التباس سبب کیږي. د اصطلاحي لغاتو او کلماتو دپاره د ټاکلي معنا او روښاني افادې ضرورت؛ په تېره بیا، په هغو مواردو کي خورا زیات عملي اهمیت پیدا کوي، چي د بیان او متن برخه ئې سیاسي یو حقوقي اړخ ولري.

## ایتنوس ethnos:

د دغه شان کلماتو په ټل کي تر ټولو مهمه او بنیادي کلمه، چي د دباندنیو ژبو تر علمي اغېزې لاندي په اصطلاحي توګه نوې استعمال ته راغلې ده او یو زیات شمېر ارزښتمن مشتقات ئې هم د خپرېدلو په حال کي دي، هغه د «ایتنوس» کلمه ده. د دې لفظ ریښه د یوناني ژبي تر لرغوني سابقې پوري رسېدلای سي. معتبر قاموسونه وایي، چي د «ایتنوس» یوناني کلمه د «نېشن Nation» له کلمې

سره په لغوي معنا کي برابره ده؛ یعني هغه شان، لکه «نېشن» چي «قوم» افاده کوي، «ایتنوس» هم کټ مټ په دغه معنا دئ.

خو څه رنګه چي د «نېشن» کلمې په خپله ژبه کي تل تر تله د ځان دپاره یو ثابت مفهوم نه دئ ساتلی او د زمانې په دوران کي ئې معنوي افادې د قومي یا نسبي تجمع له خاص حالت څخه د وطني یا سیاسي تجمع عام حالت ته انکشافي بدلون کړی دئ، نو ځکه د معنا لغوي برابري ئې په اصطلاحي ساحه کي له «ایتنوس» څخه خورا ډېره بېله سوې ده.

«ایتنوس» په خاصه اصطلاحي معنا د وګړو هغه ثابت غوندي ټولنيز هویت افاده کوي، چي په ټاکلې سیمه کي په تاریخي لحاظ جوړ سوی وي او د ژبې، کلتور، روحیاتو او ځاني احساس ټاکلي خصوصیات ئې، چي په نسبتي توګه ثبات لري، تر ځانګړي نامه لاندي تثبیت کړي وي. (ش: ۱، م: ۸۹)

د پورتني بیان په رڼا کي نو هر لوی یا وړوکی ټولنيز هویت، چي وګړي ئې د یوه یا بل تاریخي اشتراک په وجه خپل تر منځ د یووالي او له مشابهو واحدونو څخه د بېلوالي احساس کوي، هغه په عام ډول د «ایتنوس» تر اصطلاحي نامه لاندي راتللای سي. «ایتنوس» نو په هر حال د «ایتنوګرافی» یا «ایتنولوجی» په ساحه کي د یو «واحد» په څېر مطرح کیږي. «ایتنیکي جمعیت» یا «ایتنیکي هویت» او داسي نور ترکیبي نومونه هم د «ایتنوس» له واحد سره په معنا کي برابرېدلای سي.

په دې باب چي د لغاتو په زیاترو کتابو کي د «ایتنوس» کلمه په «نژاد» سره معنا کیږي؛ باید دا خبره درته څرګنده سي، چي دغه شان لغوي معنا ئې په اصطلاحي

توګه د اوسني «ایتنوګرافۍ» له مضمونه سره سر نه خوري، ځکه نن ورځ «ایتنوس» د یوې علمي مقولې په څېر هغه راز پدیده ده، چې د وګړو له تاریخي اشتراکه څخه منځ ته را ځي. خو «نژاد» بیا په خپل واقعي مفهوم یوه داسي پدیده ګڼل کیږي، چې له جینیټیکي اشتراکه سره اړه لري.

په پښتو ژبه کي دا کېدلای سي، چي «ایتنوس» په ځینو ځایو کي په «قوم»، په ځینو ځایو کي په «توکم» او په ځینو ځایونو کي په «ذات» ترجمه سي؛ اما هر څوک چي ئې په هر نامه ترجمه کوي، له هغه څخه غوښتل کیږي، چي د خپلي خوښي مفهوم ئې په خپله لیکنه کي ارو مرو د توضیح په بڼه لوستونکو ته روښانه کړي.

## ایتنیکوس ethnicos:

د هر سوچه «ټیپیک» قوم دپاره، چي د «ایتنوس» اصطلاحي کلمه په ټاکلي تعبیر ومنل سي، نو تر هغه وروسته بیا دا پوښتنه مخ ته را ځي، چي کوم ټاکلي ایتنوس ته منسوبي ډلي، چي په بېلا بیلو سیمو او هیوادو کي پاشلي پرتې وي، نو هره لویه یا کوچنۍ ډله ئې باید د کوم واحد په نامه باندي یاده سي. شوروي پوهانو خپل تر منځ داسي پرېکړه نیولې ده، چي په یوه دولتي سیمه کي دننه یو «ایتنوس» د «ایتنیکي-ټولنیز اورګانیزم[1]» په نامه سره وبولي، خو د هغه «ایتنوس» خپرې ډلي، چي په بېلا بیلو دولتي حوزو کي مېشته وي، ټوله یو ځای د «ایتنیکوس» په نامه سره یادي کړي. پوهاند «بروک» لیکي: «شوروي پوهان نن ورځ د کلمې محدوده معنا د ایتنوس (چي د ایتنیکوس په څېر پېژندل سوې ده) او «ایتنیکي-ټولنیز

[1] Ethno-social organism

اورګانیزم» تر منځ توپیر سره کوي. ایتنیکوس هغه کلمه ده، چي د یوه ټاکلي ایتنوس ټول ګروپونه، چي په هر ځای کي وي، په مجموعي توګه غونډ افاده کوي (مثلاً په پولنډ، شوروي اتحاد، امریکا، کاناډا، فرانسې او نورو هیوادو کي ټوله اوسېدونکي پولنډیان یو واحد ایتنیکوس جوړوي)، خو یو «ایتنیکي-ټولنیز اورګانیزم» بیا د دولت له ساحې سره ارتباط نیسي (چي په دې صورت کي نو مثلاً د پولنډیانو ایتنیکي-ټولنیز اورګانیزم یوازي له هغي پولنډی ټولی څخه جوړیږي، چي د پولنډ په خاوره کي ژوند کوي).» (ش: ۱، مخ: ۸۹)

زما پیشنهاد دا دئ، چي پر دغه پرېکړه باندي د امکان په صورت کي له سره څخه نوې کتنه وسي؛ ځکه له یوې خوا «ایتنیکوس» د یوې اشتقاقي کلمې په توګه ښایي تر «ایتنوس» وروسته را پیدا سوې وي، خو له بلي خوا د یو ایتنوس مهاجرتي خپرېده او تیت کېده هم البته یوه داسي پروسه ده، چي د ایتنوس تر بشپړ جوړښت وروسته منځ ته را ځي. د دې دپاره چي لفظي اشتقاق له تاریخي اشتقاقه سره سر وخوري، نو باید «ایتنوس» ټولو ته وویل سي او «ایتنیکوس» د «ایتنوس» د هغي برخي یا ډلي علمي نوم وګرځي، چي په یوه ټاکلې دولتي حوزه کي مېشته وي. د دې خبري د منلو په صورت کي نو د «ایتنیکي-ټولنیز اورګانیزم» هغه ترکیبي نامه ته ضرورت نه پاتیږي، چي څېړنه ئې تر «ایتنوګرافی» د «ټولنپوهني» په ساحه کي مناسبه ښکاري.

## ایتنیکون ethnicon:

له «ایتنوس» څخه را وتلې بله ګټوره اشتقاقي کلمه، چي ښایي کله ناکله په دې راز څېړنو کي په مخه را سي، هغه «ایتنیکون» ده. دغه کلمه چي په عامه توګه د

«ایتنیکي» شاخص دپاره رواجېدلای سي، د «پوهاند بروک» په لیکنه کي د داسي شاخص په معنا راغلې ده، چي یو قوم (یعني له یو شمېر قبیلو څخه جوړه سوې متحده کانفدریسي) له ور څېرمه قبیلو یا قومونو څخه په همدې ممیزه باندي پېژندل سوی وي.

«بروک» لیکي: «کله چي قومونه جوړ سوه او د دوی د ترکیبي عناصرو تر منځ اقتصادي او کلتوري اړیکي پیاوړي سوې، نو د دوی له منځه یوه ژبه (چي عادتاً به زیات شمېر کسان په رږغېده او یا به ئې ډېره وده کړې وه) مشترکه ژبه وګرځېده او نوري قبیلوي ژبي د لهجو درجې ته را ټیټي کېدې او یا خو حتی له منځه وتلې. له دې سره سم نو یو ټاکلی سیمه‌ایز، کلتوري او اقتصادي یووالی منځ ته راغی، چي البته تر دغه وخته ئې لا په تېره له اقتصادي پلوه څخه ډېر ټینګ او ثابت حالت نه درلودی. د دې نوي یووالي د شاخصونو له جملې څخه یو هم نوی ځانته «ایتنیکون» وو، چي د هغه له مخي دغه قوم د ور څېرمه قبیلو یا قومونو له خوا څخه وپېژندل سو.» (ش: ۱، م: ۹۲)

## ایتنو ethno:

دغه کلمه چي د مخوندي (مختاړي) په څېر د زیات شمېر اشتقاقي کلماتو په جوړښت کي را ځي، د «ایتنوس» نسبتي مفهوم ئې له خپله ځانه سره ساتلی دئ، خو یو ځای او بل ځای، چي د لغاتو په کتابو کي د دې مخوندي په مرسته جوړ سوي ترکیبي کلمات پر نورو معناوو سربېره، د «نژادي» په مفهوم هم راوړه کیږي. په علمي او اصطلاحي زمینه کي ئې دغه شان نژادي افاده د اعتبار وړ نه ګڼل

کیږي، ځکه دا خبره وړاندې سپینه سوه، چې «ایتنوس» له نژاده سره په ماهیت کې بنیادي توپیر لري.

د «ایتنو» د مخوندي په پیوند یو دوې ترکیبي کلمې په دې لاندې مثالو کې کتلای سئ:

## ایتنوجیني ethnogeny:

دا د هغې څېړنې نوم دئ، چې د ایتنوسونو د پیدایښت او د هغو د مبادیو په باره کې بږغیږي. د دغه راز مبادیو پلټنه او څېړنه که د ژبې، کلتور او مذهب له ټولنیزو عواملو څخه را تجرید سي، نو بیا د «انتروپولوجی» او «نژادپوهنې» په مسایلو ګډیږي. په دې حساب نو د «ایتنوجینیز» کلمه د «ایتنیکې تکوین» له ترکیبه سره معادله کېدلای سي. د «ایتنوجینیک» نسبتي صفت هم له دغې کلمې څخه جوړ سوی دئ او د ایتنیکې ریښې په معنا باندې افاده کیږي.

## ایتنوسینتریزم ethnocentrism:

دا د هغه ټولنیز او سیاسي تمایل نوم دئ، چې پالونکي ئې غواړي، چې ټولې ښېګڼې په خپل ایتنوس پورې وتړي او په دې ډول تمرکز سره د خپلې ایتنیکې لوړتیا دپاره اساس کښېږدي.

## ایتنیک ethnic:

دا له «ایتنو» څخه جوړه سوې صفتي کلمه ده، چې زموږ په ژبو کې په «قومي» او «ایتنیکي» سره معادله کیږي. په ځینو مواردو کې د هغو ډلو او ټولیو دپاره د «اسم» په څېر هم تر استعمال لاندې راغلې ده، چې د «کافر» یا «غیراهلِ کتاب»

په نامه بلل سوي دي. «ایتنیک» د شاوندي (وروستاړي) په بڼه د «میتا ایتنیک[۲]» او «سوپرا ایتنیک[۳]» په کلماتو کې، چې معنا ئې تر «ایتنیک پورته» یا «ماورای ایتنیک» کیږي، همدا رنګه د استفادې وړ ګرځېدلې ده.

هغه «ایتنیکي» غوندي هویتونه، چې د بېلا بیلو ژبو او کلتورونو وګړي په یوه واحد مذهبي یا سیاسي احساس کې د تاریخي خپلوۍ او یا داسي نورو مشترکاتو په وجه را ټولوي او د یوه ایتنیکي هویت خصلت ور کوي، د شوروي پوهانو له خوا څخه د «میتا ایتنیک» او «سوپرا ایتنیک» هویتونو په نامه یادیږي. (ش: ۱، م: ۹۴-۹۵)

## ایتنوګرافي او ایتنولوجي ethnography and ethnology:

د ایتنوګرافۍ او ایتنولوجۍ دواړي کلمې، چې تر اوسه د انګریزي او روسي ژبو په ټولو دائرة المعارفونو او قاموسونو کې له فرهنګي ارزښته یا استعماله څخه نه دي لوېدلي، د لفظي جوړښت له مخې په «ایتنو پېژندنه» او «ایتنوپوهنه» سره ترجمه کېدلای سي. لومړۍ کلمه زیاتره د بشري طوایفو د بیان، د توکمونو د تشریح او د بېلا بیلو اقوامو د ښووني په معنا راوړه سوې ده، خو دوهمه کلمه بیا د اقوامو د پوهني، د انساني توکمونو د پلټني او د بېلا بیلو طوایفو د پېژندني په مفهوم ثبت سوې ده. د دې دواړو کلمو په معنا کې زیاترو غربي قاموسونو د نژادونو د پېژندني او یا پوهني عبارتونه هم راوړي دي، چې البته د «ایتنو» د مخونديِ افاده ئې د معمول له مخې په «نژاد» سره کړې ده. په ځینو مواردو کې

---

[۲] Meta ethnic
[۳] Supra ethnic

دې کلماتو د مرادفو نومو رنګ اخيستی دئ او هره يوه له هغي بلي سره يو برابر ګڼل سوې ده؛ لاکن بل چيري بيا يوې کلمې ته پر هغې بلي باندي ترجيح ور کول سوې ده. د «ايتنوګرافر» او «ايتنولوجيسټ» نومونه هم له دوی څخه را وتلي دي، چي د لفظي خصوصيت له مخي لومړی په «توکم پېژندونکي» او دوهم په «توکمپوهېدونکي» سره ترجمه کېدلای سي.

د بريتانيکا دائرة المعارف د «ايتنولوجي او ايتنوګرافی» تر عنوان لاندي داسي ليکي: «په وار د واره کي په دې نومو هغه علوم يادېدل، چي د بشري نژادونو د تاريخ او خپرېدني چاري ئې څېړلې، خو په اوسنيو زمانو کي (چيري چي وګړي په انګرېزي ژبه خبري کوي) هلته دا نومونه عموماً يوازي پر کلتوري څېړنو باندي ايښوول کيږي. «ايتنوګرافي» د هغو توصيفي (تشريحي-ل) څېړنو نوم دئ، چي د يوې ټاکلي سيمي پر ټاکلو قبيلو يا قومونو باندي رغيږي، خو «ايتنولوجي» بيا په زياته اندازه پر تيوريکي اړخو باندي بيان کوي. په اينګلېنډ کي دغه توپير نور هم تر دې اندازې پوري انکشاف کړی دئ، چي «ايتنولوجي» يوازي د کلتوري انکشاف د تاريخي مسايلو په پلټنه پوري محدودوي، اما د ټولني او کلتور د مقايسوي او عمومي څېړنو دپاره د «ټولنيزي انسانپېژندني» نوم په کار اچوي. د متحده ايالاتو انسانپېژندونکي بيا غوره ګڼي، چي د داسي ټولو چارو دپاره د «ايتنولوجي» کلمه د يو عام نامه په توګه تر استعمال لاندي را سي.

«ايتنولوجي» او «ايتنوګرافي» د «انسان پېژندني» (انتروپولوجی) د څانګو په توګه له «ارکيالوجی»، «ژبپوهني» او «بدني انسانپېژندني»، «جغرافيې» او همدا رنګه تاريخ سره نژدې اړيکي لري.» (ش: ۲، م: ۷۹۲)

د دې دپاره چې د دغو دواړو کلمو د رواجېدو او استعمالېدو په توپیر نور هم ښه‌ترا وپوهیږو، نو باید هغه سابقه ئې هم تر نظر تېره کړو، چې د نړۍ په علمي حلقو کي ئې تېره کړې ده. د اجتماعي علومو په یو تشریحي قاموس کي، چې د «یونسکو» په سپارښت په ۱۹۶۵م. کال کي را وتلی دئ، پر دغو کلماتو باندي داسي خبري سوي دي:

## «ایتنولوجي (او همدارنګه ایتنوګرافي):

الف:

۱- د «ایتنوګرافۍ» کلمه په اوسني وخت کي نسبتاً په ثابت ډول د «انتروپولوجۍ» په لیکنو کي د دې دپاره استعمالیږي، چې د «بشري ټولنو په باره کي توصیفي څېړني» افاده کړي. دغه ټولني چې په «ایتنوګرافۍ» کي تر بحث لاندي نیول کیږي (که څه هم حتمي نه ده خو) معمولاً هغه په نامه لومړنۍ ټولني وي، چې د سیاسي او اقتصادي انکشاف له پلوه نسبتاً د ساده مرحلې په سطحه کي وي. خو توصیفي څېړني چې لا هم اورمرو ځیني تعمیمات لري او بل دا چې له تېري نیمي پېړۍ راهیسي د «ټولنیزي انتروپولوجۍ» په مسایلو کي له تیوریکي چوکاټه څخه د استفادې تعامل خورا زیات انکشاف کړی دئ، نو ځکه د نن ورځي د «ایتنوګرافۍ» لیکني، (چې زیاتره د اجتماعي انتروپولوجیستانو له خوا څخه کیږي) اورمرو تر ډېره حده تیوریکي خصوصیات لري. دا خبره؛ چې اوسني «اجتماعي انتروپولوجیستان» عموماً د خپلو ځانو په باره کي «ایتنوګرافان» دي،

نو ئې د «ایتنوګرافۍ» او «اجتماعي انتروپولوجۍ» تر منځ د بېلوالي پولي پرله ګډي کړي دي.[٤]

٢- د «ایتنولوجۍ» کلمه د معنا له پلوه پر دغه شان ثابت حالت باندي نه ده پاته سوې او رشتیا هم د پلټني هغه پراخه ساحه، چي وار د واره تر دغه نامه لاندي وټاکل سوه، اوس د درو بېلا بیلو څانګو تر منځ وېشل سوې ده، چي د اجتماعي، کلتوري او «بدني انتروپولوجۍ» په بېلا بیلو نومونو یادیږي. دغه کلمه لکه څنګه چي ښایېده، هغونه ډېره ګټوره و نه خته او تر یوې اندازې پوري ئې له دې جهته په ارزښت کي کمی راغی، چي «ایتنولوجۍ» داسي ادعاء درلوده، چي د مسایلو د توضیح دپاره کار ور کوي، خو په تېره پېړۍ کي د توضیح طرزونه پر بل حال واوښته او ډولونه ئې خورا ډېر زیات سول.

ب:

دا کلمات د نونسمي پېړۍ په منځنیو کلونو کي د لومړي ځل دپاره د «عمومي انتروپولوجۍ» په ساحه کي تر استعمال لاندي راغله. په سر کي داسي ښکارېده، لکه «ایتنولوجي» چي یو ډول تاریخ وي. د «ایتنوګرافۍ» د توصیفي څېړنو په مقابل کي «د قومونو تاریخ د ایتنولوجۍ په نامه یادېدی[5]»، خو د پېړۍ په پای

[٤] د دغه بیان ځیني ټکي په دې اثر کي لوستلای سئ:
E. E. Evans-Pritchard, Social Anthropology, London: Cohen & West, ١٩٥١, Ch: IV
[٥] J. C. Prichard, The Natural History of Man, London: Bailliere, ١٨٤٣, P: ١٣٢

کې بیا د دې دوو موضوعاتو تر منځ په دقیقه توګه چنداني فرق او تفاوت نه کېدی.

ځکه نو ای، بي، ټایلر په ۱۸۹۱م. کال کې، چې کله د «ایتنوګرافی» دنده ټاکي، نو وایي: «ایتنوګرافي هغه علل پلټي، چې د کلتور پدیدې ئې منځ ته راوړي دي او هغه قوانین څېړي، چې همدا پدیدې ئې تابع دي.» یو څو پاڼې وروسته بیا دا خبره تشریح کوي، چې د کلتور انکشاف د «ایتنولوجیکي» څېړني یوه څانګه بلل کیږي[٦]».

خو یو شمېر پوهانو بیا زیار ایستلی دئ، چې د دې کلماتو تر منځ پخوانی بېلوالی وساتي. په دې ترتیب نو ای. ایچ. کیني د ایتنوګرافی د تعریف په برخه کې وایي، چې «که ټیک خبره وسي، نو تر ساینس د ادبیاتو نوم ورته مناسب دئ. دا سوچه توصیفي بیان دئ، چې د خلګو له مشخصاتو، تعاملاتو، ټولنیزو او سیاسي حالاتو سره اړه لري. پرته له دې چې د دوی تر منځ د ممکنو فزیکي مناسباتو یا خپلویو مسایل په نظر کې ونیول سي. د دې څانګي موضوعات د خلګو بېلا بېل ګروپونه دي، چې یو له بل څخه جلا په نظر کې نیول کیږي. دا له ایتنولوجی څخه فرق لري، ځکه هغه که څه هم کټ مټ دغه بشري ګروپونه مطالعه کوي، اما دوی ټوله د یوې یا زیاتو لرغونو کورنیو د غړو په توګه یو د بل سره د اشتراک په ملاحظه تر کتني لاندي نیسي.»[٧]

ج:

---

[٦] Primitive Culture, London: Murray, ۱۸۷۱, Vol: ۱, PP: ۱۹, ۲۳
[٧] Ethnology, Cambridge: Cambridge University Press, ۱۸۹۶, PP: ۲, ۳

۱- «انتروپولوجي» د دې پر ځای چي «د تکامل یا د انشعاب له نظریې سره سم» د اصلي «مبداء» سره علاقه ونیسي، اوس ئې دې لوري ته توجه را گرځولې ده، چي موجودي ټولني د بشپړو سیستمونو په توگه د وظیفې له مخي داسي تحلیل کړي، چي دا سیستمونه له فزیکي اورگانیزمونو سره د قیاس په وسیله (چي زیاتره اغراق په گډ وي) پرتله کړي.

په دې ترتیب نو د «اجتماعي انتروپولوژۍ» دې ته مخه سوه، چي نوي ټاکلي هدفونه او مېتودونه ئې له پخواني «ایتنولوجیکي انتروپولوجۍ» څخه فرق وکړي او نو ځکه د «ایتنولوجۍ» کلمه د ځینو پوهانو له خوا څخه یوازي په دې پوري محدوده سوه، چي «سوچه» تاریخي یا خو «ماقبل التاریخي غوندي پلټني» کښېباسي. په دې ډول نو «رادکلیف براون» په ۱۹۳۶م. کال کي ایتنولوجي «د قومونو د تاریخ» په څېر تعریف کړه، چي د هغې په دائره کي «د نژادونو تاریخ»، «د ژبو تاریخ»، «د کلتورونو تاریخ» که د ژوندیو اولسونو له مطالعې څخه لاس ته را ځي او که د «ارکیالوجیکي» بقایاوو څخه، ټوله را شاملېږي.»[۸]

۲- په امریکا کي «ایتنولوجي» که څه هم د «اجتماعي انتروپولوجۍ» سره مقابله کېږي، خو افادې ته ئې معمولاً پراخه ساحه ټاکل سوې ده. هلته «اجتماعي انتروپولوجي» ویل کېږي، چي د اجتماعي کلتور پر ځای، اصلاً له اجتماعي جوړښتنه سره سر و کار لري[۹]. اې. آی. کرویبر «ایتنولوجي» داسي تعریفوي، چي

---

[۸] Radcliffe-Brown, The Development of Social Anthropology, Chicago: (Mimeograph), P: ۳۰

[۹] D. Bidney, Theoretical Anthropology, New York: Columbia, University Press, ۱۹۵۳, P: ۱۰۱

«د گروپونو په توگه د اولسونو، د دوی د کلتورونو او د ژوندانه د تاریخونو ساینس دئ، بې له دې څخه چې د پرمختگ درجه ئې په نظر کې ونیول سي»[10]، خو «بیدني» بیا «ایتنولوجي» فقط له «کلتوري انتروپولوجی» سره یو شی بولي.

۳- د اروپا په قاره کي «ایتنولوجي» همدارنگه په یو جامع مفهوم سره استعمالیږي. په فرانسه او المان کي زیاتره په داسي کُلي افاده استعمال لري، چي (بې له فزیکي خصوصیاتو څخه) نور نو ټوله د هغو اولسونو اجتماعي او کلتوري مطالعات کښېباسي، چي په نامه ابتدایي یا د لیک تر مرحلې وړاندي قومونه بلل کیږي.» (ش: ۳، م: ۲۴۵-۲۴۶)

د شوروي اتحاد په لیکنو کي له ډېره وخته راهیسي د «ایتنوگرافی» نامه ته د «ایتنولوجی» تر نامه په یوه یا بل دلیل ترجیح ور کول کېده، خو په اوسنیو وختو کي بیا دواړي کلمې په معادله معنا استعمالیږي او یوه د هغې بلي د تشریح او توضیح دپاره په اړخ کي ور سره کارږي. شوروي پوهان د خپل قراردادي تعامل سره سم «ایتنوگرافي» یوازي تشریحي پلټنه نه بولي، بلکي تیوریکي څېړنه هم تر دې نامه لاندي شاملوي. اکاډیمیسن «بروملي» چي د «ایتنوگرافی» په مسایلو کي د پراخي مطالعې او لویي درجې څښتن دئ، په دې اواخرو کي ئې یوه مقاله کښلې ده، چي عنوان ئې دئ: (ایتنوگرافي او د هغې راتلونکي امکانات د شوروي له نظره). دا مقاله چي زموږ د رواني څېړني په رابطه کي یو زیات شمېر ارزښتمن

[10] Anthropology, New York: Harcourt, Brace, ۱۹٤۸, P: ٥

مطالب هم لري، نو په دې منظور د هغې ټوله متن دلته را ترجمه سوی دئ. «بروسلي» لیکي:

«لا د علم د ودي او د هغه د مستقبل دپاره د امکاناتو پېژندنه اساساً له دې ټکي سره اړه لري، چي موږ د هغه اصلي موضوع څه ډول درک کړې ده. د دغه درک د تشکل سلسله یوه متداومه تاریخي پروسه ګڼل کیږي. د همدې تشکل ټاکنه له یوې خوا په خپله د علم د تکامل او د هغه د پېژندني د قدرت له پراخېدو سره اړه لري، خو له بلي خوا بیا د ټولنیزو اړتیاوو د تحول او علم څخه د ټولني د غوښتنو په ایجاب منځ ته را ځي.

د څېړنو د اصلي موضوع په باب زموږ د درک بدلېده یوه داسي خبره ده، چي د علمي پوهني په هره څانګه کي ئې مثالونه موندل کېدلای سي، خو دا چي په کومه درجه دغه بدلون په واقعي توګه را منځ ته کیږي، د علم په بېلا بیلو څانګو کي یو د بل سره توپیر لري. «ایتنوګرافي» (ایتنولوجي) د داسي بدلون او تحول په حساب د بشري علومو په منځ کي ډېر څرګند مقام نیسي. له لومړي سره څخه خورا بېلابېل نظریات نه یوازي په سرسره د همدې څانګي په باره کي څرګندېده، بلکي حتی همدارنګه د هغې د مضمون په باره کي، چي په دې څانګه کي څېړل کیږي، له هري خوا څخه بیانېدله. زیاتره د دې څانګي د مضمون مسأله هیڅ کله په ساده توګه نه مطرح کېده. ډېر ځله به انسان، کلتور او ټولنه د دې څانګي د مضمون په څېر یادېدله، خو دغه شان لیکني یوازي په هغو قومو پوري محدودي پاتېدې، چي لیکلې ژبه ئې نه درلوده او د اجتماعي-اقتصادي انکشاف په لومړنیو مرحلو کي پاته وه. د اروپا د استعماري پراختیا په دوره کي، چي «ایتنوګرافی» د

يوه علم بنه ځان ته اخيسته، نو په لومړي سر کي ئې هدف دا وو، چي تر اروپا دباندي د بيرته پاته اولسونو په باب خپل مطالعات سر ته ورسوي.

زموږ په هيواد کي د لومړي ځل دپاره ايتنوگرافرانو (ايتنولوجيستانو) په دې لاس پوري کړ، چي ټوله ايتنيکي گروپونه، که کوچني وي او که څو ميليوني وي، له يوه مخه تر مطالعې لاندي ونيسي. له دې سره سم نو کارپوهانو يو د بل سره ومنله، چي د «ايتنوگرافئ» مضمون هغه ټوله خلگ يو مخيزه کښيباسي، چي د شوروي په اوسنيو «ايتنوگرافيکي» ليکنو کي د «ايتنوسونو» په اصطلاح ښوول کيږي. (د ايتنوس کلمه په دې منظور غوره سوې ده، چي د دغه استعمال او هغو مواردو تر منځ تميز وسي، چي د «خلگو» لغت صرف «زيارکښان خلگ» يا يوازي د نرو او ښځو مجموعه افاده کوي). دې ټکي ته بايد پام را واړول سي، چي هم بيرته‌پاته او هم ډېر پرمختللي اولسونه ټوله «ايتنوسونه» دي.

خو دا خبره، چي ايتنوگرافي خلگ مطالعه کوي، بيا هم د موضوع د تعريف په نسبت يوه اندازه مناقشه لاينحله پريږدي. دغه نيمگړتيا په تېره بيا په هغه وخت کي ښه‌ترا څرگنده سوه، چي په شوروي کي د «ايتنوگرافئ» علم منځ ته راغئ. يوه زمانه داسي هڅه کېده، چي له يوې خوا «ايتنوگرافي» يوازي د لرغونو پديدو او بقاياوو په پلټنه پوري محدوده کړي، خو له بلي خوا بيا داسي هڅه روانه وه، چي «ايتنوگرافئ» (ايتنولوجئ) ته د يوې داسي جامع الشموله پوهني په سترگه وگوري، چي د ټولني د ژوند نژدې ټول اړخونه تر څېړني لاندي نيسي. (د ايتنوگرافئ د اصلي موضوع د پېژندني په برخه کي دغه ډول مناقشه اوس لا هم زموږ په هيواد او په دباندي کي جريان لري). ښکاره خبره ده، چي لومړئ هڅه

نو ارومرو موږ دې فکر ته رسوي، چي «ایتنوګرافي» یوه داسي پوهنه ده، چي ورو ورو له منځه ځي، ځکه لرغوني عناصر خورا په بېړه د موجودیت له صحنې څخه وځي او غایبېږي. دوهمه هڅه هم د «ایتنوسو» د مطالعې دپاره په دې سبب ډېره امیدبخښونکې نه ښکاري، چي ساحه ئې په څرګنده توګه خورا زیاته پراخه سوې ده. دغه هڅه بیا په دې برخه کي، چي د «ایتنوګرافی» او هغو متعددو ساینسي څانګو تر منځ، چي د «ایتنیکي» ژوند بېلابېل اړخونه څېړي، د علمي وظایفو په بېلولو کي ناحله اشکالات را پیدا کوي. دغه شان اشکالات د ټاکلي سوسیولوجیکي څېړني د چټکي ودي په رابطه کي اوس تر بل هر وخت علني سوي دي. دوی غواړي، چي د ټولني د ورځني ژوند نژدې ټولي خواوي په خپله غېږ کي ونیسي.

داسي ټوله حالات نو په ټینګه دا پوښتنه را وړاندي کوي، چي باید د «ایتنوګرافیک ساینس» اصلي موضوع وپېژندل سي او د هغه ټاکلي پولي له نورو مربوطو څانګو سره روښانه سي.

دې پوښتني ته یو عنعنوي جواب داسي ور کول سوی دئ، چي «ایتنوګرافي» عوامي (Folk) کلتور مطالعه کوي، خو دا جواب کافي نه سي ګڼل کېدلای. د دې خبري دلیل یوازي دا نه دئ، چي د عوامي (فوک) او اولسي (Popular) لغات خو راز په راز بېلابېلي افادې او معناګاني لري. د «عوامي» کلتور خبره ارومرو یوه داسي نوې پوښتنه زموږ مخ ته اچوي، چي آیا مثلاً د عوامي کلتور د ایتنوګرافی او داسي څانګو، لکه د عوامي معماری د تاریخ، د عوامي موسیقی د تاریخ یا د فولکلور د څېړنو تر منځ توپیر څه شي دئ؟

ځیني وختونه د کلتور د ایتنوګرافیکي څېړني، چي خلک د یو کُل په څېر تر کتني لاندي نیسي، اصلي بېلوونکې نښه هغه مېتود ګڼل کیږي، چي خپل مطالعات د مخامخ کتني او ساحوي پلټني له لاري څخه سر ته رسوي، خو دا وراشه هم ټیک نه ده، ځکه له دغه راز مېتوده څخه په نورو څانګو (مثلاً د فولکوري مطالعاتو، هنري تاریخ او داسي نورو په برخه) کي هم پراخه استفاده کیږي. سربېره پر دې لا دا ټکی هم سته، چي «ایتنوګرافي» نن ورځ د اوسنیو اولسونو په مطالعه کي یوازي په دغه مېتود پوري ځان محدود نه ساتي.

په اوسنیو وختو کي دا خبره ویل سوې ده، چي د خپلي موضوع په باره کي د ایتنوګرافرانو خاص نظریات د هغو مسایلو له خوا ټاکل کیږي، چي په دې پوهنه کي تر بحث لاندي را ځي. له دې څرګندوني سره نو بیا دا پوښتنه را وړاندي کیږي، چي: باید کوم معیارونه د دې مسایلو په پېژندنه کي په کار واچول سي؟ تر څو چي دغه پوښتنه حل سوې نه وي، نو تر هغو به دا امکان پاته وي، چي مسایل به په عندي توګه ټاکل کیږي.

هر څوک پوهیږي، چي د هر علم موضوع سربېره پر ټولو خبرو، د هغه د مضمون د ځانګړو خصوصیاتو؛ یعني هغو چارو د پېژندني له مخي ټاکل کیږي، چي د همدې علم تر څېړني لاندي را ځي، ځکه نو د موضوع په باره کي ټیک نظر د مسایلو د عندي انتخاب له لاري څخه نه، بلکي د مضمون په وجود کي د څرګندو ځانګړو خصوصیاتو د موجودیت له مخي ټاکل کیږي. د «ایتنوګرافی» په مورد کي چي دغه شان مضمون «ایتنوس» یعني قوم بلل کیږي، نو څرګنده

ده، چي د «ايتنوگرافۍ» د موضوع د ټاکني دپاره معيارونه بايد د «ايتنوس» د ځانګړو خصوصياتو په منځ کي ولټول سي.

اوس نو پوښتنه دا ده، چي دغه ځانګړي خصوصيات څه شي دي؟

طبعاً دا هغه څه ته ويل کيږي، چي د دوی په موجب يو «ايتنوس» له نورو بشري جمعيتونو څخه را بېلېدلای سي؛ يعني هغه څه دي، چي د «ايتنيکي» په نامه بلل کېدلای سي. دا نو له يوه پلوه هغه عمليه ده، چي د يو «ايتنوس» د ټولو غړو تر منځ توحيد (يعني د ايتنيک دننه يووالی) تامينوي او له بله پلوه بيا هغه عمليه ده، چي «ايتنوسونه» د نورو مشابهو ټوليو له وګړو څخه ګوښي (يعني ايتنوسونه يو له بل څخه بېل) ساتي. لکه څنګه چي د ايتنيکي ټوليو له تحليله څخه ښکاري، دغه شان عمليات د ژبي په ملګرۍ زياتره د عنعنوي کلتور (مراسمو، دودونو، عوامي هنرونو، شفاهي آثارو او نورو) د ورځنيو اړخونو په وسيله، چي ځانګړي خصوصيات ئې يو «ايتنوس» له بله څخه بېلوي، سر ته رسيږي.

له دې سره سم نو د «ايتنوگرافۍ» د ساحې د پېژندلو دپاره اساس بايد د يو «ايتنوس» د ترکيبي عناصرو په پلټنه کي د دې خبري په ملاحظه تهيه سي، چي نوموړی «ايتنوس» خپل «ايتنيکي» وظايف (عمليات) څه راز سر ته رسوي. څه رنګه چي دا عناصر د غټو بېلوونکو «ايتنيکي» خصوصياتو (ايتنيکي ځانګړيتوب) په وسيله پېژندل کيږي، نو زياتره د «ايتنوګرافيکي» څېړني د حوزې په ټاکلو کي د حرکت او مراجعې د ټکي په څېر کار ور کوي.

په ښکاره ډول د ايتنوګرافۍ هدف دا دئ، چي د يو «ايتنوس» ټوله جوړښت او ماهيت وښيي، خو د دې خبري معنا دا نه ده، چي يوازي د هغه بېلوونکي مشخصات بيان کړي، بلکي دا مطلب هم شاملوي، چي بايد له نورو «ايتنوسونو» سره ئې مشترک خصوصيات هم وښوول سي. د عام او خاص پېژندنه هر کله يوه واحده پروسه ګڼل کيږي. په دغه دليل نو د «ايتنوس» د ترکيبي عناصرو مقايسوي مطالعه، چي د ځانګړو خصوصياتو په تثبيت کي د اساسي مېتود په توګه استفاده ځني کيږي، ارومرو دا ور سره تړلې ده، چي په ضمن کي ئې له نورو «ايتنوسونو» سره مشترک خصوصيات کشف سي. د دغو خصوصياتو له جملې څخه ښايي ځيني ئې داسي وي، چي په ټولو موجودو «ايتنوسونو» کي وموندل سي او ځيني ئې بيا داسي وي، چي پخوا ئې په «ايتنوسونو» کي د خپل موجوديت دورې تېرې کړي وي؛ يعني په هر حالت کي دوی يو مشترک بشري خصلت لري. نور ئې بيا يوازي د «ايتنوسونو» په يوه ګروپ کي موندل کيږي او نو ځکه په خپله نوعه کي همدارنګه ځانګړی بلل کېدلای سي.

کله چي «ايتنوس» د خپلو ترکيبي عناصرو د عملياتو د اجراء په رڼا کي تر پلټني لاندي وي، نو دغه راز پلټنه ئې دا امکان برابروي، چي د «ايتنوګرافيکي» څېړني دپاره اساسي ساحه وټاکل سي. د مسألې په وړاندي د دغه شان چلند په صورت کي نو د «ايتنوګرافۍ» د اصلي موضوع مرکزي هسته هغه کلتوري قشر جوړوي، چي ايتنيکي عمليات او سربېره پر هر څه، د عنعنوي کلتور ورځنۍ چاري سرته رسوي.

 څرګنده ده، چې د عنعنوي کلتور ورځنی قشر د ټولنيز انکشاف په بېلا بيلو پړاوونو کې يو راز نقش نه لوبوي. د زمانې په حساب د عنعناتو موازين همدارنګه بدلون مومي. په ځينو ځايو کې دوی بېخي تر وخت تېر، زاړه سوي وي، خو په نورو ځايو کې ئې بيا نوي ډولونه د جوړېدو په حال کې جريان لري.

په هغو ټولنو کې چې بې طبقې وي او يا ئې طبقات په لومړنيو پړاوونو کې وي، هلته زوړ عنعنوي ورځنی قشر ټوله کلتور تقريباً په خپل کُليت سره په ځان کې شاملوي. همدا دليل دئ، چې «ايتنوګرافي» د هغو بيرته پاته قومونو کلتور، چې د ليک ژبه نه لري، له اقتصادي جريانه څخه نيولې، بيا د ديني معتقداتو او ژبې تر چارو پورې، په بشپړه توګه د هغه د ټولو مظاهرو په زمينه کې تر څېړنې لاندې نيسي. ايتنوګرافران د داسې قومونو د ټولنيز ژوند د غونډ ترکيبي حالت په نسبت د دوی د ژوند ټوله اجتماعي ساحه، يعني په ټولنيز معيار د دوی کلتور تر څېړنې لاندې نيسي.

د ناسواده قومونو په څېړنه کې د ايتنوګرافرانو دغه هر اړخيزه طريقه تر ډېرې اندازې په دې وجه آسانه سوې ده، چې د پرمختللي کلتور ايتنوګرافرانو ته د بيرته پاته خلګو، يعني هغه چا چې ايتنيکي ځانګړتياوې لري (يا مثلاً د ايتنيکي توپيرونو د يوې «مرحلې» څرګندوی وي)، د ژوند ټوله اړخونه عجيب ښکاري. د ساحوي څېړونکو له نظره د بيرته پاته قومونو د ژوند ټولې ساحې بېلوونکې مشخصات لري. همدې حالاتو نو د دا ډول اولسونو د بشپړې «ايتنوګرافيکې» مطالعې سره خورا زياته مرسته کړې ده.

پوره څرګنده ده، چې نن ورځ تر وخت تېر او زاړه خصوصیات په ډېره بېړه له منځه ځي او غایبیږي. یوه خورا مهمه دنده، چې نن او په نژدې راتلونکې زمانه کې له ایتنوګرافانو څخه غوښتل کیږي، دا ده، چې هغه لرغوني پدیدې ثبت کړي، چې همدا اوس لا موجودیت لري. د دې دندې اهمیت تر ډېري اندازې د ایتنوګرافانو په کار پوري اړه پیدا کوي، چې آیا هغه د بیرته پاته اولسونو زاړه عناصر پلټي او که په صنعتي پرمختللو ټولنو کې زاړه بقایا تر څېړني لاندي نیسي. په لومړي صورت کې د قومونو د ژوندانه د طرزونو د زړو عناصرو په باب معلومات زیاتره د هغو ټولنو د تاریخ پر مسایلو باندي نوره رڼا اچوي، چې د طبقاتو د لومړۍ دورې او یا کله ناکله حتی تر طبقاتو په وړاندي مرحله پوري اړه لري. د دغسي موادو خورا زیاته برخه اساساً د نونسمي او هم د شلمي پېړۍ د سر په کلونو کې د ایتنوګرافانو له خوا څخه تسجیل سوې ده. په اوسنیو لسیزو کې د «ایتنوګرافۍ» ساحې ته د ټولنیز ژوند د زړو شکلونو په باب خورا زیات معلومات رسېدلي دي. د بیرته پاته اولسونو د ژوندانه د لرغونو خصوصیاتو په باره کې مطالعات، چې په نونسمه پېړۍ کې را پیل سوه، تر اوسه پوري ادامه لري. د «امازون» د رود په ځنګلو کې، د «نیوګیني» په دننه سیمو کې، د «اقیانوسیې» په وړو ټاپوګانو کې او د «استرالیا» په بېدیاوو کې داسي قبیلې کشف سوي، چې له اروپایانو سره هیڅ کله په تماس کې نه وې راغلي. د تاسف ځای دا دئ، چې دغه راز تماسونه ډېر ځله د همداسي اولسونو دپاره په زیان تمام سوي دي، خو دا ټکی هم باید په یام کې وساتل سي، چې ایتنوګرافانو په دې برخه کې غټ نقش ادا کړی دئ، چې د کوچنیو او په تېره بیا د بیرته پاته «ایتنیکي ګروپونو» ګټور کلتوري او اقتصادي عنعنات وساتل سي یا نوره وده وکړي او همدارنګه د

دوی تر منځ له پخوا څخه پاته منفي پدیدې له خپله زوره ولویږي. (دغه حقیقت د نورو شیانو په جمله کي زموږ د هیواد د ایتنوګرافرانو د فعالیتونو له مخي څخه څرګندیږي.)

خو تر کومه ځایه چي خبره د صنعتي هیوادو د اولسونو په ورځني ژوندانه کي د زړو شکلونو له موجودیته سره اړه لري، نو د دغسي پدیدو مطالعه دا امکان برابروي، چي په تېره زمانه کي د همدې اولسونو ورځني ژوند ته یوه کتنه وسي. لاکن په دې مورد کي حقیقت دا دئ، چي د لرغونو خصوصیاتو بقایا په بېړه له منځه ځي او ځای ئې یو مسلکي ښاري کلتور نیسي. د دغه شان لرغونو پدیدو د ثبت مسأله پخوا تر هغه وخت چي له لاسه ووځي، د ایتنوګرافرانو د فوري اندېښني سبب ګرځېدلې ده. په اوسنیو کلونو کي د ثبت دپاره یوه داسي مهمه وسیله، لکه تاریخي-ایتنوګرافیکي اتلسونه (اطلسونه) منځ ته راغلي دي. مثلاً زموږ په هیواد کي د «روسانو» په عنوان تاریخي-ایتنوګرافیکي اتلس په (۱۹۶۷م. او ۱۹۷۰م) کلونو کي په مسکو کي چاپ سوی دئ، چي په هغه کي زراعتي سامانونه، د هستوګي ځایونه او د کالو عنعنوي ډولونه، چي په نونسمه پېړۍ او د شلمي پېړۍ په لومړیو کلونو کي ئې د روسي وګړو تر منځ رواج درلودی. د اتلس د نقشو په مرسته په بشپړه توګه تصویر سوي دي. همدا شان د بالتیک د اولسونو په باب دغه راز اتلسونه له چاپه څخه را وتلي دي. د تاریخي-ایتنیکي اتلسونو را منځ کېده، په دې سبب خورا ډېر اهمیت لري، چي پراخ ساحوي کار ور سره ملګری دئ.

پر اتلسونو سربېره د لرغونو خصوصیاتو د ثبت دپاره نوري لاري چاري هم ضروري دي. داسي ښکاري، چي (په سلوکي ساحه او په تېره بیا په مراسمو کي) د لرغونو عناصرو د ثبت دپاره له فلمونو او د «ویدو» له پیتو څخه پوره استفاده نه ده سوې او په دې خوا کي هم باید کار وسي، چي د ایتنوگرافیکي موزیمونو (د سرخلاصي موزیمونو په شمول، چي اوس د شوروي په زیاترو جمهوریتونو کي جوړ سوي دي) د زېرمو د بډایولو دپاره د عنعنوي کلتور مادي شیان را ټول سي.

که څه هم په ایتنوگرافۍ کي لرغوني عناصر او خصوصیات د څېړني دپاره ډېر زیات اهمیت لري، خو دا خبره به اشتباه وي، که څوک دغه مضمون یوازي په همدې ساحه پوري محدود وګڼي؛ په تېره بیا هغه وخت، چي د پرمختللو طبقاتي ټولنو د «ایتنوسونو» په باره کي د څېړني مسأله مطرح وي، ځکه د دوی په مطالعه کي د ایتنوگرافۍ علمي وظایف کټ مټ هغه شان دي، لکه د بې‌طبقې او یا د طبقاتو د لومړۍ مرحلې د ټولنو په مورد کي چي دي؛ یعني دا چي باید د ایتنیکي ټولیو د ټاکلو مشخصاتو کامله سلسله په بشپړه توګه روښانه کړي. زموږ په عقیده د ایتنوگرافۍ د هغو وظایفو په باره کي نظریات، چي د نالیکلي ژبي د اولسونو د مطالعې په مورد کي ئې شکل اخیستی دئ، باید په میکانیکي ډول د پرمختللو ټولنو د اولسونو د مطالعې په مورد کي په کار وا نه چول سي؛ ځکه په لومړي مورد کي د خلګو ژوند له لرغونو عناصرو او خصوصیاتو څخه ډک دئ.

په هغو اجتماعي-اقتصادي سیستمونو کي، چي طبقاتي وي، د ایتنوگرافیکي څېړني د مضمون ماهیت بېخي ډېر تغیر خوري. د ده پېچلوالی په بې‌ساري ډول

زیاتیږي او خورا زیات اړخونه پیدا کوي. د تولیدي قواوو د انکشاف په نتیجه کي د اجتماعي ژوند انفرادي ساحې تر ډېره حده یو له بل څخه منزوي کیږي، په اقتصادي ساحه کي تخصص منځ ته را ځي او د تولید او استهلاک ساحې؛ په تېره بیا د کاپیټالیزم په دوران کي یو له بل څخه ډېري بېلیږي، د ټولنیز جوړښت پېچلتوب نور هم زیاتوب کوي. د کلتور په ساحه کي پخوانی ترکیبي حالت له منځه ځي او ډولونه ئې یو له بل څخه جلا کیږي. مخ پر بشپړ انکشاف توپیرونه ئې د طبقاتو، ټولنیزو گروپونو، کلیوالي او ښاري اوسېدونکو او د عادي او حرفوي کلتورونو تر منځ د ژوندانه په طرزونو کي ځان ښکاره کوي.

پر ایتنیکي ټولیو باندي علمي او تخنیکي انقلاب خورا زیاته اغېزه اچوي. رشتیا خبره دا ده، چي دغه اغېزه دوه اړخیزه نوعیت لري؛ له یوې خوا د کلتورونو د برابری، معیاري کېدو او توحید سره مرسته کوي، له بلي خوا د خبرتیا د ډلهئیزو وسایلو د انکشاف په ذریعه د وگړو د پراخو پرگنو تر منځ د ایتنیکي هویت د احساس درجه زیاتوي. دغه جریان نو په خپل روڼ همدا راز پر کلتور باندي اغېزه کوي او د ده هغو ترکیبي عناصرو ته ایتنیکي اهمیت ور بخښي، چي پخوا ئې هیڅ ډول ایتنیکي وظایف (یا عملیات) نه اجراء کوله. په عمومي توگه د حرفوي کلتور د بېلا بېلو معیاري شکلونو له خپرېدو سره د اوسنیو اولسونو ایتنیکي ځانگړیتوب ورو ورو د مادي کلتور له ساحې څخه غیرمادي ساحې ته انتقال کوي.

د نوو عنعناتو را څرگندېده، چي ځیني ئې د ورځني ژوند په ساحه کي منځ ته را ځي، هم باید په پام کي ونیول سي. په صنعتي هیوادو کي غیرمادي حرفوي کلتور

په دې شروع کړې ده، چې زيات رول ولوبوي؛ په زياته بيا هغه وخت، چې اجراء ئې د وګړو د ورځني ژوند برخه ګرځېدلې وي. په پرمختللو هيوادونو کي د اولسونو تر منځ ستر ايتنيکي وظايف اوس د لرغونو بقاياوو په وسيله دونه نه اجراء کيږي، لکه څونه چي د هغه معنوي کلتور د ترکيبي عناصرو له خوا اجراء کيږي، چي په ورځني ژوند کي ئې نسبتاً ثابت شکل اخيستی دئ او زياتره د زړو عنعناتو داسي عناصر هم کښېباسي، چي البته شکل ئې تغير خوړلی وي.

دغه راز ټولي چاري نو ايتنوګرافي له نوو وظايفو سره مخامخ کوي، چي حل ئې تر ډېره ځايه د راتلونکي زمانې خبره ګڼله کيږي، مثلاً په عصري ايتنيکي جرياناتو کي د هغه حرفوي غيرمادي کلتور د ترکيبي عناصرو زياتېدونکی نقش، چي د پراخو اولسي پرګنو په شتمنی اوښتی دئ، په دې ارزي، چي تر مطالعې لاندي ونيول سي. په څرګنده توګه دا ضروري ده، چي ايتنوګرافان د اوسنيو اولسونو د غيرمادي کلتور حالاتو، د دوی ټولنيزو روحياتو او په تېره بيا د نړۍ د خلګو معنوي او اخلاقي معيارونو ته، چي د دوی د ارزښتونو لوری هم کښېباسي، خپله خاصه توجه را وګرځوي. دغه وروستي مشخصات که څه هم تر هر څه لومړی او تر هر څه وړاندي د اجتماعي-طبقاتي عواملو له خوا ټاکل کيږي (او له دې سره سم نو تر کاپيټاليزم او سوسياليزم لاندي يو د بل سره اساسي توپيرونه لري) خو د دې باوجود د هر ايتنوس دپاره يوه ټاکلې مشخصه تشکيلوي، چي په هغه پوري خاصه وي.

زموږ په فکر ايتنوګرافي بايد د خپلي څېړني ساحې ته پراختيا ور کړي، څو د ايتنوسونو د غيرمادي ژوند د مشخصو خصوصياتو؛ په تېره بيا د هغو ترکيبي

عناصرو، چي د نن زمانې د ايتنيکي ټولنو په وظايفو کي زيات نقش اداء کوي، يوه بشپړه توضيح آسانه کړي.

د ايتنوگرافيکي څېړني او د هغې د امکاناتو د حوزې د پېژندلو دپاره بايد دا خبره په نظر کي ونيول سي، چي ايتنوسونه د وگړو له يوې ساده مجموعې څخه نمايندگي نه کوي، بلکي په ځان پوره بشپړ سيستمونه گڼل کيږي. دا سيستمونه د هغو مربوطو څانگو له خوا څخه هم تر پلټني او څېړني لاندي را ځي، چي د ايتنوگرافي او هغې ته د ور نژدې علومو له پيونده څخه را پيدا سوي دي، لکه: ايتنيکي جغرافيه، ايتنيکي انتروپولوجي، ايتنوديموگرافي، ايتنوژبپوهنه، ايتنوسوسيولوجي او داسي نور. له دې مربوطو څانگو څخه ځيني ئې وختي منځ ته راغلي دي او خپل اهميت ئې په ثبوت رسولی دئ، خو ځيني نوري ئې بيا که څه هم د خپل پيدايښت په لومړيو مرحلو کي دي، خو همدارنگه د ډېرو ښو نتائجو انتظار ځني کيږي.

د دغو ملحوظاتو له پلوه د نن زمانې هغه پوهنه مهمه ده، چي ايتنوسوسيولوجي ئې بولي او دا هغه څانگه ده، چي د تېري لسيزي په دوران کي ئې شکل اخيستی دئ. ايتنوسوسيولوجيک څېړنه، چي په ځانگړو جمهوريتونو کي سر ته رسېدلې ده، نو دا امکان ئې برابر کړی دئ، چي د ايتنيکي او اجتماعي-اقتصادي عواملو تر منځ د متقابل عمل د خاص ميکانيزم او هم زموږ په هيواد کي د اولسونو د ټولنيز حوږښت د توازن د جرياناتو په باره کي مطالعات پر مخ ولاړ سي. له مادي فعاليت څخه روحياتي ساحې ته د ايتنيکي ځانگړتيا ننني انتقال، چي په نظر کي ونيسو، نو دا گڼلای سو، چي «ايتنو روحياتي» څېړني هم آينده لري، ځکه د دوی

خاصه موضوع ايتنيکي (ملي) خصلت او يا خو په پراخه معنا د ايتنيکي ټوليو روحياتي جوړښت دئ.

ايتنوسونه فعال سيستمونه دي، په دغه سبب نو هغه مهمه وظيفه، چي ايتنوګرافي ور سره مخامخ کيږي، د هغو تحولاتو مطالعه ده، چي په دې سيستمونو کي دننه منځ ته را ځي؛ يعني هغه چاري دي، چي ايتنيکي جريانونه بلل کيږي. دا خبره رشتيا ده، چي په پخوا زمانه کي دې جرياناتو ورو ورو حرکت کاوه، که څه هم کله ناکله ئې د ځينو ايتنيکي جوړښتونو د تلو او د ځينو نورو د راتلو دپاره لاره ښووله. تصادفي نه ده، چي زموږ د هيواد ايتنوګرافانو له پخوا څخه لا د اولسونو مبداء (ايتنوجيني) ته خپل پام اړولی دئ او په دې ساحه کي له ارکيالوجيستانو، بدني انتروپولوجيستانو، ژبپوهانو او داسي نورو سره يو ځای سوي دي. د دې مسألې په تدوين کي د ايتنوګرافانو اساسي کار يوازي په ايتنيکي عنعناتو کي د تحولاتو له موضوع سره اړه نه لري، بلکي د يو شمېر عنعناتو خورا ټينګ پايښت او ثبات هم تر مطالعې لاندي نيسي؛ مثلاً د عنعناتو پايښت دا امکان برابروي، چي (د يو موجود يا نسبتاً د تېري نژدې زمانې) د يو ايتنيکي جوړښت ځيني «ارکيالوجيکي کلتورونه» د هغه د کلتور د ځانګړو او ټاکلو خصوصياتو سره د مطابقت له پلوه وپېژني.

د اوسنيو ايتنيکي جرياناتو ايتنوګرافيکي څېړنه يو بل ترتيب لري؛ دغه جريانات په نتيجه کي د ايتنيکي ټوليو د بېلا بيلو عناصرو يو بشپړ او پوره تحول منځ ته راوړي. يو عالم چي اوسني ايتنيکي جمعيتونه څېړي، نو زموږ په نظر بايد هغو تحولاتو ته خپله خاصه توجه واړوي، چي د دې جمعيتونو په ديموګرافيکي،

اجتماعي، کلتوري، ژبني او داسي نورو ابعادو کي را پیدا کیږي. په اوسنۍ نړۍ کي، چي د ایتنیکي جریاناتو رشد خورا ډېر زیاتوب کوي، نو د هغو څېړنو خاص اهمیت زیاتوي، چي تر ډېره ځایه د همدې جریاناتو د راتلونکو امکاناتو له ټاکلو سره اړه لري.

د دې خبري له پوهېدو سره، چي ایتنوګرافي د ایتنوسونو علم دئ، زموږ په نظر هغي ناامیدوونکي نتیجې ته د منلو ځای نه پاتیږي، چي وایي دغه څانګه ورو ورو له منځه ځي او غاییبیږي. تر هغه وخته چي قومونه موجود وي، نو ایتنوګرافي د خپلي څېړني مضمون خوندي ساتي او دا ساتنه ئې د تېر تاریخ په څېر نه، بلکي د یو ژوندي واقعیت په شان بلل کیږي. یوازي د ایتنوګرافیکي څېړني په موضوع کي د بېلا بیلو ساحو اهمیت د ایتنیکي ځانګړیتوب له داخلي تحولاتو سره تغیر خوري. له ټولنیز پرمختګه سره د ایتنوګرافۍ موضوع نوره هم پیچلې کیږي او له دې جهته نو نوي دندې هم را وړاندي کوي.» (ش: ۴، م: ۲۶- ۳۲)

## د ایتنوس په معادله کي ژوره ګډوډي:

د هري ژبي مجردي کلمې په خپله کلتوري زمینه کي ځیني ټاکلي مفاهیم تر ځان لاندي کوي، چي افاده ئې د تعامل له لاري یو نسبتي ثبات ته رسیږي، خو د یوې کلمې او د هغې د مفهوم تر منځ دغه شان تعاملي ثبات یا انطباق هم د تل دپاره پر یوه قرار ټینګ نه سي پاته کېدلای؛ ځکه مفاهیم هر کله د ګڼو عواملو تر اغېزې لاندي خپل نوعیت یا خصلت بدلوي او له دې سره جوخت د یوې کلمې افاده، په تېره بیا په علمي او تیوریکي ساحه کي، ارومرو له یوه حاله څخه بل حال ته اوړي. دا په یوه ژبه کي دننه د هغې د کلماتو او مفاهیمو تر منځ د

متحرک توازن یوه مهمه مسأله ګڼله کیږي، چي اغېزې ئې د اجتماعي شعور د تفاهم په جریان کي ځان ښکاره کوي؛ د مثال دپاره زموږ په ژبو کي د «ملت» د کلمې پخوانی سابقه تر اوسنی لاحقې پوري په راتلونکي بیان کي کتلای سئ، چي مفهومي افاده ئې له کومه ځایه څخه په څه ډول را پیل سوې ده او اوس په روان ګړي کي کوم ځای ته په څه ډول را رسېدلې ده.

کله چي د یوې مجردي کلمې په خپله ژبه کي دننه د معنوي تحول له بابته دغه حال وي، نو مفهومي ستونزي ئې هغه وخت لا نوري هم زیاتیږي، چي په بله پردی ژبه کي یو داسي معادل ورته ټاکل کیږي، چي مفهومي محتوا ئې باید له هغې سره څه ناڅه بشپړ مطابقت ولري.

دغه کانه د ایتنوس په کلمه باندي سوې ده؛ ځکه له هغه وخته چي په لرغوني یونان کي د توکمي یا قومي واحد دپاره په کوم ډول استعمالېده، نن ورځ د ایتنوګرافی په اصطلاحي ساحه کي د یوې ټاکلي علمي مقولې په څېر د داسي ټولنیز واحد دپاره په کار لوېدلې ده، چي د یوه یا بل ډول تاریخي او کلتوري ممیزاتو په وجه د خپلو غړو تر منځ د نژدېوالي او له نورو څخه د بېلوالي احساس کوي.

دا کلمه چي د لغاتو د ترجمې په معادله کي یو ځای په نژاد او بل ځای د انګرېزي ژبي په «نېشن» سره ښوول سوې ده، نو د مفهومي افادې ساحې ته ئې د نورو څانګو؛ یعني بیالوجی او سوسیالوجی عناصر هم ور ننوتلي دي. د «نېشن» په معادله کي چي بیا د روسي ژبي «ناڅیه» هم په دې ردیف کي ځای سوې ده، نو معنوي ابهام او مفهومي التباس ئې نور لا هم مروړل سوی دئ؛ ځکه «ناڅیه» د

ځینو تیوریکي لاس‌وهنو په نتیجه کي خاص د یوې داسي موضوعي یا مصنوعي معنا دپاره ټاکل سوې ده، چي چنداني د ایتنوګرافۍ له چارو سره مستقیمه اړه نه لري، بلکي د ټولنپوهني په برخه کي تر بحث لاندي را تللای سي. پر دې ټولو سربېره چي بیا موږ د تېري لسیزي د سیاسي ادبیاتو په تاوده جریان کي داسي ګرده مفهومي ګډوډۍ د لاابالي ترجمو یا ډاډمن تقلید له لاري په بې غمه زړه زموږ د «ملت» د کلمې تر عنعنوي معنا لاندي د معادلې په ګومان افاده کړې دئ، نو په تیوریکي ساحه کي مو د مفهومي ابهام پروسه د یوې ژوري ګډوډۍ د بحران ټکي ته رسولې ده. کلمات خو په خپله د استعمال په جریان کي، په تېره بیا چي سیاسي حمایه ور سره وي، له چا سره لاس نه لګوي او که څوک د چا کومي اشتباه ته متوجه سي، نو یوازي ئې د تعامل په استناد او استدلال تر یوه نقد لاندي توضیح کولای سي. اما د تیوریکي بحران ستونزي ئې هغه وخت پوره را سربېره کیږي، چي په تاریخي، اجتماعي، اقتصادي، کلتوري یا سیاسي او حقوقي ساحو کي د دغه شان ټولنیزو مقولو د تشخیص او تمیز له مسایلو سره څوک مخامخ سي.

د دې دپاره چي څوک د تیوریکي پلټنو او علمي څېړنو په کار کي د ابهام له دغه شان ګډوډیو څخه ځانونه وساتلای سي، نو ورته په کار ده، چي د «ملت»، «نیشن» او «ناڅیه» د مقولو په بشپړه څرګندونه کي د «ایتنوس» مفهومي معادله په ډېر غور تر کتني لاندي ونیسي. په همدغه منظور لازمه ده، چي نوموړي مقولې په زیات تفصیل سره دلته روښانه سي.

## ملت:

په عربي املاء «ملة» او زموږ د ژبو په رواجي لیک «ملت» هغه پخوانۍ کلمه ده، چي د قرآني افادې مستنده سابقه ئې په دې ډول او نورو آیتونو کي له ورایه څرګنده ده، لکه:

«قل بل ملة ابراهیم حنیفا» (ش: ۵، آیت: ۱۳۵)

«فاتبوا ملة ابراهیم حنیفا» (ش: ٦، آیت: ۹۵)

د مفسرانو له بیانه څخه دا خبره را وځي، چي د «ملت» عربي کلمه په قرآني متن کي د شریعت هغه اصول یا کلیات افاده کوي، چي محمدي ملت او ابراهیمي ملت دواړه په هغو کي سره یو شی دي. (ش: ۷، م: ۱۰۸)

د دغه بیان په اساس نو د «ملت» د کلمې اصلي معنا په عربي ژبه کي د دین، مذهب، کیش او اعتقادي مسلک له مفهوم سره برابره ده او داسي ښکاري، چي تر نن ورځي ئې لا هم د معنا خپل دغه پخوانی حالت په خپله بومي ژبه کي نه دئ بایللی. د دې خبري په ثبوت کي موږ د عربي ژبي د «المنجد» هغه عصري او معتبر قاموس کتلای سو، چي د «ملة» کلمه داسي معنا کوي:

«الطریقة و الشریعة في الدین. الدیة. ج: ملل» (ش: ۸، م: ۸۳۱)

(ترجمه: دیني لاره یا حکمونه. دیت (خون بها)، جمع ئې ملل دئ)

د عربي ژبي همدغه معنا ئې د سیمي د ژبو په ادبیاتو کي هم یو وخت او بل وخت استعمال سوې ده، مثلاً شیرازي حافظ په یوه بیت کي وایي:

جنگ هفتاد و دو ملت همه را عذر بنه

چون ندیدند حقیقت ره افسانه زدند (ش: ۹، ردیف: دال)

یا لکه خوشال خان چي وايي:

دوه اويا ملته واړه آلوده دي[11]

پکښې يو ملت د شرعي دئ نجيب (ش: ۱۰، م: ۵۴)

زموږ د ژبو زياتره زاړه او نوي قاموسونه چي کتل کيږي، نو همدغه پخوانۍ عربي افاده تائيدوي، خو په ځينو کي بيا د دې کلمې د مفهوم ساحه تر داسي اندازې پراخيږي، چي د ډلي، قوم، ټولۍ او جمعيت معناوي هم را کښېباسي. مثلاً په پخوانيو قاموسونو کي «غياث اللغات»، چي لومړی چاپ ئې په ۱۸۶۳م. کال کي ليدل سوی دئ، د نورو قبلي قاموسونو په حواله د «ملت» د کلمې معنا داسي ثبت کړې ده: «ملت (بکسر ميم و فتح لام مشدد) در منتخب بمعنی دين و در لطايف و شرح نصاب بمعنی گروه و در ضراح کيش و شريعت». (ش: ۱۱، م: ۴۱۳)

خو د دکتور معين په «فرهنگ فارسی» کي بيا، چي نوی قاموس دئ، د «ملت» درې ډوله معناوي د مأخذونو او استعمال په حواله داسي درج سوي دي: «۱- دين، آئين شريعت. ۲-پيروان يک دين. ۳- گروه مردم، قوم.» (ش: ۱۲، م: ۴۳۳۶)

[11]توضيح: بايد وويلل سی، چي دو اويا ملتونو څخه مطلب عموماً هغه بېلابيلي مذهبي فرقې دي، چي له رواياتو سره سم په دغه شمېر لاندي د مسيحيت په دين کي را پيدا سوي دي.

د ملت کلمې زموږ په عامه محاوره کي د عربي ژبي پخوانی مفهوم پر یوه مخ له لاسه ور کړی دئ او له وختي څخه تر داسي استعمال لاندي راغلې ده، چي زیاتره د هیواد د وګړو یا خلګو پر هغه مجموعه باندي دلالت کوي، چي د دولت، حکومت یا پاچا په مقابل کي رعیت بلل کیږي. دغه شان معنا ئې تر یوې اندازې پوري د انګرېزي ژبي د «پیپل - People» له لغته سره سمون خوري. د همدې مطلب ثبوت سربېره پر پخوانیو اخباري څرګندونو په زړو تقنیني متونو کي په مستنده توګه هم لیدل کېدلای سي. د مثال دپاره د هغې «اساسي نظامنامې» په متن کي، چي له اوس نېټې څخه اته شپېته کاله پخوا امیر امان الله خان نافذه کړې ده او د هغه وخت د غوره کسانو د سیاسي، حقوقي، علمي او لساني پوهني له سویې څخه بشپړه نمایندګي کولای سي، د ملت کلمه څو ځایه په داسي مفهوم راغلې ده، چي د نن ورځي عامي افادې یا محاورې ته پوره ور نژدې ده[12].

د همداسي تقنیني متونو په استناد موږ وینو، چي د ملت کلمه هلته د رعیتو، د اهالیو او د هیواد د خلګو یا غیرسرکاري وګړو په هغه شان معنا راغلې ده، چي عموماً یا عادتاً د حکومت او دولت په مقابله کي استعمالیږي. باید وویل سي، چي دغه عامه معنا ئې اوس دا ګړی لا هم د محاورې په عادي ژبه کي د پخوا په شان هر چیري رواج ده، خو په دې ترڅ کي جالبه خبره دا ده، چي د «ملت» د کلمې عربي تانیث د یادي سوي تقنیني زمانې تر وخته لا په پاړسي ژبه کي

[12] د زیات تفصیل دپاره زما هغه لیکنه کتلای سئ، چي «د ملت او ملیت د مفاهیمو په باب یوه څېړنه» نومیږي. (نومیالی)

پوره رعایت کیږي او نو ځکه د «ملتِ افغانیه» او د «ملتِ نجیبه» تانیثي ترکیبونه لا هم هغه زمانه په معتبرو اسنادو کي استعمال لري.

د «ملت» کلمه نو که څه هم په لوی سر کي د عربي ژبي د «ملة» له مؤنثي کلمې څخه د خپلي بومي معنا سره یو ځای زموږ ژبو ته راغلې ده، خو هم ئې پښتوانۍ عربي تانیث نن پر یوه مخ په افغاني تذکیر بدل سوی دئ او هم ئې د معنا په برخه کي یو شمېر تغیرات خوړلي دي. سره له هغه چي عرفي معنا ئې زموږ د ژبو په تعاملي افاده کي اوس لا هم پوره رواج لري، یعني د خلګو یا وګړو هغي مجموعې ته ویل کیږي، چي له حکومتي یا دولتي رسمیاتو څخه دباندي وي، خو د لساني تعامل په دوران کي ئې نوري افادې هم تر ځان لاندي کړي دي، مثلاً له یوې خوا د کوم قوم، لکه «پښتون ملت» یا «کردي ملت» په ترکیبي نومو کي د ایتنوس له مفهوم سره برابري کوي، خو له بلي خوا د یوې علمي او اصطلاحي مقولې په څېز زیاتره د ټولو خلګو هغه مجموعه افاده کوي، چي د کوم هیواد د سیاسي جغرافیې په حریم کي سره را ټولي سوي وي؛ مثلاً «د افغانستان ملت»، «د ایران ملت»، «د چین ملت» او داسي نور ملتونه. په داسي مورد کي نو ملت د یوې دولتي تجمع په معنا دئ، چي متجانس یا نامتجانس اولسونه ئې په وطني اشتراک کي یو د بل سره پیوندوي. که له دغي وګړنیزي مجموعې سره د حاکمیت سیاسي حوزه هم په نظر کي ونیول سي، نو بیا کېدلای سي، چي ملت او خاوره ئې یو ځای د «مملکت» په نامه باندي یاده سي. دا چي د «مملکت» پر ځای د «ملت» کلمه هم استعمالیدلای سي، ښکاره نمونه ئې د «ملګرو ملتونو» په نامه کي لیدلای سو. د پښتو «ملګري ملتونه» په انګرېزي کي

«یونایټید نېشنز»، په روسي کي «اب ایدنوني یدناڅي»، په عربي کي «الامم المتحده»، په پارسي کي «مللِ متحد» او په اردو کي «اقوامِ متحده» بولي. دلته سربېره پر هغه چي هر «هیوادنی حاکمیت» د «ملت» په نامه بلل سوی دئ، دا لغوي تعادل هم په ډاګه سوی دئ، چي د ملت د کلمې معادل په انګرېزي کي «نېشن»، په روسي کي «ناڅیه»، په عربي کي «الامة» او په اردو کي «قوم» ټاکل سوی دئ.

د دغو څرګندونو پر بناء نو «ملت» د یوې دولتي تجمع په څېر د اجتماعي-اقتصادي اشتراک په حوزه کي د هغه ټولنیز تاریخي واحد نوم دئ، چي په سوسیولوجی کي خبري پر کیږي، خو «ایتنوس» بیا د یوې کلتوري تجمع په څېر د داسي ټولنیز- تاریخي واحد نوم دئ، چي په ایتنوګرافی یا ایتنولوجی کي تر څېړني لاندي را ځي. ایتنوس او ملت دواړه تاریخي هویتونه دي او د تشکل یو شمېر عوامل ئې هم یو د بل سره مشترک دي؛ لاکن د دوی تر منځ اساسي توپیر دا دئ، چي په ایتنوس کي کلتوري پیوندونه او په ملت کي دولتي پیوندونه د وګړو د ژوند چاري اداره کوي. بل بنیادي تفاوت ئې دا دئ، چي یو ایتنوس د ټولنیز انکشاف په ټولو مراحلو کي بیا هم ایتنوس دئ، لاکن ملت د وګړو د اجتماعي-اقتصادي انکشاف د یوې جګي مرحلې محصول ګڼل کیږي. ایتنوس د انساني جمعیت طبیعي غوندي حالت او ملت د انساني جمعیت سیاسي غوندي حالت تمثیلولای سي. ایتنوس زیاتره بسیط وي، خو ملت چي چنداني بسیط مثالونه ئې نه لیدل کیږي، اکثره له زیاتو ایتنوسونو څخه د جوړښت په لحاظ مرکب وي. هم دا ګړی د ایتنوسونو شمېر د ژبي په مقیاس څلورو زرو ته خوله

اچوي، خو ملتونه د یو سل او څو اویا تر شمېر نه دي زیات سوي. ایتنوس کېدلای سي، چي تیت او پرک یا پاشلي وي، خو ملت د پاشل کېدو او ټوټه کېدو په صورت کي نور یو ملت نه سي بلل کېدلای. د ایتنوس او ملت دواړي تاریخي پدیدې که څه هم د تغیر د قانونمندۍ په حکم ارومرو تر تحول لاندي دي، اما داسي څرګندېږي، چي ایتنوس د ملت په نسبت د پایښت دپاره ټینګ بنیادونه لري. په دې اساس نو ایتنوسونه په هغو تحولاتو کي خپل هویت په یوه یا بله ساحه کي خوندي ساتي، چي د ملت د تشکل په نوعیت کي ئې پېښېږي. ایتنوس او ملت دواړه له علمي نظره څخه اصیل یا بدل نه لري، اما د دوی تاریخي حالت او د ژوندون کیفیت کېدلای سي، چي د زاړه او نوي یا پرمختللي او تر شا ته پاته په نامه سره وبلل سي.

د دغو ټکو له روښانه کېدلو سره نو د سیاسي ملت او کلتوري ایتنوس دوې بېلابېلي مقولې یو د بل سره ګډول او یا یو د هغه بل په ردیف کي ځایول، د ژورو تیوریکي ابهامونو او التباسونو سبب ګرځي.

## نېشن Nation:

څه رنګه چي معمولاً زموږ د ژبو «ملت» د انګرېزي ژبي د «نېشن» سره په اوسنیو افادو کي د معادلې له پلوه خورا ډېر نژدېکت پیدا کړی دئ، نو ایجابېږي، چي د دې کلمې پر سابقه باندي همدا رنګه یو څه وویل سي.

گانکوفسکي چي د شوروي يو پياوړی ايتنوگرافر دئ او له انگرېزي ژبي سره هم پوره آشنايي لري، د «نېشن» د کلمې په باره کي ئې يو شمېر مهمي ژبنۍ او تاريخي څرگندوني له کره مأخذونو څخه را ټولي کړي دي او داسي ئې ليکي:

«څه رنگه چي د نېشن د کلمې دپاره بېلابېل (او په ځينو مواردو کي متباين) تعبيرونه را وتلي دي، نو ځکه لازمه ده، چي پر دې موضوع باندي په تفصيل خبري وسي...»

تر هر څه لومړی د «نېشن» د کلمې پر ريښه باندي غور وکړئ. د «نېشن» کلمه د معلوماتو له مخي په خپله ليري سابقه کي د لاتيني ژبي د «ناسکور Nascor»، «ناتوس‌سم Natus sum» او «ناسي Nasci» تر کلماتو پوري ځان رسوي، چي د «زوکړي to be born» معنا ور کوي. «ناشو-انيس Natio-onis» هم په دې لړ کي يادېدلای سي، چي معنا ئې له «زېږېدلي» سره برابره ده. د «ناشو» لغت (چي د کاگناشو Cagnatio او کاگناتوس Cognatus له لغاتو سره، چي په ترتيب د ويني د خپلوۍ او د ويني د خپل معنا ور کوي، ډېر نژدې پيوند لري) په لومړي سر کي د گډي ويني د خپلوانو يوه ټولۍ افاده کوي؛ خو د ميلادي پېړۍ په پيل کي دا لغت دې درجي ته رسيږي، چي د قبيلې، قبيلوي اتحاديې او اولس دپاره استعمال سي، يعني نور نو يوازي د گډي ويني خپلوان نه افاده کوي، بلکي پر يوه ايتنيکي ټولۍ باندي هم دلالت کوي.

د «ناشو» لاتيني کلمه نو بيا د لوېديځي اروپا ژبو ته راغله. په منځنيو پېړيو کي دغه لغت په يوه پراخه معنا استعمالېدی او د انسانانو پر داسي ټولۍ ئې دلالت کاوه، چي د زېږېدني په حساب ئې په يوه ټاټوبي پوره اړه درلوده او يا په يوه

ملک کي اوسېدله (مثلاً د منځنيو پېړيو په پوهنتونو کي د «ناشا» معنا د هغو محصلانو جمعيت افاده کاوه، چي په يوه ټاکلي محل پوري به ئې اړه درلوده).

د منځنيو پېړيو د پای ته رسېدو په دوران کي د «ناشو» کلمه په زړه فرانسوي کي د «ناسيون Nacion» او په منځنۍ انگرېزي کي د «ناشي‌اون Nacioun» په بڼه د هغه «پيوپل pueple» يا «پيپل peple» د لغت سره په مترادفه معنا استعمالېده (چي د لاتين له پاپولوس څخه را وتلی دئ او معنا ئې د ولس يا خلگو سره برابره ده).

د نوي (سرمايه‌داري-ن) عصر د پيل له زمانو څخه را په دې خوا د «ناشو» کلمې د «ناسيون، نېشن» په بڼه (البته د لوېديځي اروپا په لويو ژبو کي) دې ته شروع وکړه، چي نه يوازي د انسانانو د هغه جمعيت دپاره استعمال سي، چي د يو ټاکلي هيواد يا د زوکړي په حساب د يو گډ ټاټوبي په مبداء کي يو د بل سره اشتراک ولري، بلکي همدا رنگه د هغه هيواد يا دولت هويت تر خپلي مفهومي افادې لاندي را ولي، چي همدا وگړي هلته اوسيږي.

بيا نو دغه کلمه له فرانسوي څخه روسي ژبي ته راغله (او د ناڅيه په بڼه استعمال ته ولوېده – ن)، خو دا خبره بايد تر پام لاندي وساتل سي، چي په اوسنيو روسي آثارو کي د ناڅيه (نېشن) کلمه د لوېديځي اروپا د نورو ژبو د «نېشن» په پرتله، چي هلته ئې مفهوم ډېر پراخ دئ، په يوه محدوده (خاصه) معنا استعماليږي. په دې ډول نو د «نېشن» کلمه په اوسنۍ انگرېزي ژبه کي داسي معناوي ور کوي: قبيله يا د قبيلو اتحاديه؛ همدارنگه هغه خاوره چي دغه قبيله يا د قبيلو اتحاديه هلته اوسي؛ د هغو وگړو جمعيت چي مشترکه مبداء او مشترکه ژبه ولري؛ د هغو

وګړو جمعيت، چي له ټاکلي خاوري سره اړه لري او زياتره تر يوه حکومت لاندي متشکل او د ژوندانه د يوې ځانګړي کلتوري او اجتماعي طريقې خاوندان وي. دغه راز معناوي ئې د لوېديځي اروپا په نورو ژبو کي هم رواج لري.

خو په روسي کي د ناڅيه (نېشن) کلمه يوازي په يوه معنا د ثابت ايتنيکي جمعيت دپاره استعماليږي، اما کله ناکله په مجازي توګه د دولت معنا هم ور کوي.» (ش: ۱۳، م: ۱۵-۱٦)

دلته تاسي ليدلای سئ، چي د مفهومي ګډوډيو يوه مورينه هم دا ده، چي د انګرېزي ژبي «نېشن»، چي عامه معنا لري، د روسي ژبي د «ناڅيه» سره، چي وايي خاصه معنا لري، د مفهومي تعادل له بابته سر نه خوري، خو شورويان چي خپله «ناڅيه» د مجبوريت له مخي په «نېشن» سره ترجمه کوي او موږ بيا دغه دواړه بې له کومه توپيره په «ملت» باندي اړوو، نو دا کار په علمي موادو کي د ابهام سبب کيږي.

بله ګډوډي بيا له دې خوا څخه را واردېږي، چي ګانکوفسکي وايي، همدغه روسي «ناڅيه» د خپل تثبيت سوي مفهوم پر خلاف، کله ناکله په مجازي توګه د دولت په معنا هم استعماليږي. اوس نو بيا داسي شاخص په کار دئ، چي موږ د حقيقي او مجازي معناګانو موارد هم را وښيي. بايد وويل سي، چي دغه مجازي معنا ئې نن د «اب ايدنوني يه‌ناڅي» په نړيوال استعمال کي حتی پر حقيقي او اصلي معنا باندي هم ډېره غالبه سوې ده.

لکه په دمخه بیانو کې چې وویل سوه، د دغه شان مقولهیي کلماتو معنوي اشکالات هغه وخت ډېر جنجالي پرابلمونه زېږوي، چې په عملي ساحه کې ئې د تطبیق ضرورت منځ ته را سي. د مثال دپاره د هند د تجزیې په تاریخ کې د دوو نېشنونو یا ملتونو په نامه شخړه هغه ځای ته ورسېده، چې د ډېرو وګړو پر سرنوشت باندي ئې ناوړې اغېزې واچولې. په ۱۹۴۴م. کال کې جواهر لال نهرو چې کله د «نېشن» له معضلې سره د هند په سیاسي جریاناتو کې مخامخ کېږي، نو داسې لیکي: «د ښاغلي جناح غوښتنه پر یوې نوي تیورۍ را بناء ده، چې په دې اوسو وختو کې ئې را وړاندې کړې ده او هغه دا چې هند د هندو او مسلمان له دوو نېشتونو (ملتونو) څخه جوړ سوی دئ. زه نه پوهېږم، چې نو ولې یوازې دوه ملته، ځکه ملتیت (نېشنهلیتې) که پر مذهب را باندې وای، نو په هند کې به زیات شمېر ملتونه موجود وای. له دوو وړونو څخه یو مسلمان او بل ئې هندو وي او په دې حساب نو دوی په دوو بېلابېلو ملتونو پوري اړه لري. دا راز دوه ملتونه نو د هند په زیاترو کلیو کې په متفاوت شمېر سره موندل کېدله. په دې اساس نو داسې ملتونه هلته موجود وه، چې یو د بل سره ئې د بېلېدو پولې نه درلودې، دوی یو په بل کې اخښلي وه. یو بنګالی ملسمان او یو بنګالی هندو، چې یو ځای ئې ژوند کاوه، په یوه ژبه ئې خبري کولې او یو راز روایات ئې درلوده او یو شان دودونه ئې پالله؛ د دې تیورۍ په حساب ئې په دوو بېلابیلو ملتونو پوري تعلق درلودی. د دې خبري درک ډېر مشکل وو او داسې ښکارېده، لکه دا چې د منځنیو پېړیو یوې تیورۍ ته رجعت وي. دا خبره چې نېشن (ملت) څه شي دئ، تعریف ئې مشکل دئ، خو البته د ملي شعور اساسي مشخصه هغسې یو احساس دئ، چې دوی سره یو ځای کوي او د یوه کل په توګه ئې د

بشري ټولني په صف کي دروي. دا چي دغه احساس له څونه پخوا زمانې څخه په هند کي موجود وو، يوه داسي موضوع ده، چي بايد بحث پر وسي. اما دا خبره کېدلای سي، چي هند په تېره زمانه کي څو ملتيز دولت منځ ته را وستی او ورو ورو ئې يو ملي احساس واخيستی. داسي خو ټولي خبري تيوريک مجردات دي او موږ چنداني علاقه نه ور سره لرو. نن ورځ زيات غښتلي دولتونه، مثلاً لکه شوروي اتحاد او د امريکا متحده ولايات په داسي حال کي، چي د ترکيب له پلوه څو ملتيز دي، خو په عين زمان کي د يو واحد ملي احساس انکشاف ته هم ادامه ور کوي.» (ش: ۱۴، م: ۳۱۳)

د «نېشن» د کلمې لغوي او مفهومي سابقه چي مو د يوې سياسي معضلې له نمونې سره هم يو ځای وښووله، نو اوس غواړو، چي هغه علمي تعريفونه ئې دلته وړاندي کړو، چي د ۱۹۶۴م. کال د اجتماعي علومو په هغه معتبر قاموس کي راغلي دي، چي د «يونسکو» په سپارښت د مسلکي پوهانو له خوا تدوين سوی دئ. هلته د «نېشن» تر عنوان لاندي داسي څرګندوني موندل کيږي:

«الف: نېشن ښايي د خلګو د ډېري ستري ټولني په توګه تعريف سي، چي هغه د ګډ کلتور او شعور په وسيله يو موټي سوي وي. څه رنګه چي نېشن يوه مشترکه سيمه خپلوي، نو ځکه د هغه غړي د ځای او خاوري په حساب مشترک منافع لري او د نېشن د پيوستون حياتي قوه د خپل ځاني تاريخ، د خپل ځانګړي دين يا د خپل بې مثله کلتور، چي ژبه هم شاملوي، له پياوړي احساس څخه په بېلا بيلو ډولونو منشاء اخلي. يو نېشن کېدلای سي، چي بې له سياسي خودمختاری

يا دولت‌داری څخه هم د يوې تاريخي ټولې او يوه کلتوري پيوند په څېر موجوديت ولري.

ب: د «نېشن» کلمه په پخوانيو زمانو کي د قبيلو يا قومونو دپاره په داسي معنا استعمالېده، لکه څنګه چي اروپايي ګروپونه د جوليوس سزار په بيانو کي راغلي دي يا لکه څنګه چي عربيان په همدې ډول ښوول سوي دي او يا لکه په امريکا کي چي د هندي ايروکوايسانو ټولې د شپږو نېشنونو په نامه يادي سوي دي. د دغه پخواني استعمال په اساس د نېشن کلمه تر ډېره ځايه خاص پر ځانګړي روحياتي او سياسي هويت باندي دلالت کوي. اي. رينان د نېشن دپاره داسي کلاسيک تعريف وړاندي کړی دئ: «نېشن يو روح او معنوي اصل دئ. دغه روح له هغو دوو شيانو څخه جوړېږي، چي په حقيقت کي دواړه يو ګڼل کېږي... يو د خاطراتو په بډای ميراث کي د خپلېدو اشتراک دئ، بل ئې د وګړو تر منځ هغه رښتينی توافق دئ، چي غواړي يو ځای واوسي او هيله لري، چي له خپل ګډ ميراث څخه خورا زياته استفاده وکړي[۱۳]». دغه نو د منافعو د يوې پر له اخښلي او جار وتي ټولني دپاره هڅه او هاند پياوړی ساتي.

دا خبره چي يو نېشن معنوي تجانس لري، د «اي. بارکر E. Barker» له خوا داسي تائيد سوې ده: «يو نېشن له هغو خلګو څخه جوړېږي... چي په يوه ټاکلې

[۱۳] Qu’est-ce qua’une nation? Ceures completes, Tome ۱, Paris: Calmann-Levy, ۱۸۸۲, P: ۹۰۳

خاوره اوسي او ... د افکارو او احساساتو مشترکه زېرمه ئې د یوه مشترک تاریخ په دوران کي ... لاس ته راوړي او د ځان کړي وي...[١٤]»

«جې. ستالین J. Stalin» د نېشن دپاره کمونیستي تعریف تدوین کړی دئ، چي پر تاریخي تکامل او ماټریالیزم باندي د ټینګار له بابته له نورو تعریفونو څخه توپیر لري. هغه وايي: «یو نېشن د ژبي، خاوري، اقتصادي ژوند او هغه روحیاتي جوړښت، چي په کلتوري ټولۍ کي تبارز کوي، یو ثابت جمعیت دئ، چي د تاریخي تکامل له لاري منځ ته را ځي.[١٥]»

د ټولنیزو علومو په ګردو څانګو کي چي کله نېشن تعریف کیږي، نو داسي عوامل، لکه د یو قوم ځانګړتیاوي، چي د ټینګ جغرافیایي تماس په نتیجه کي منځ ته را ځي او همدا رنګه تاریخي او کلتوري عنعنې او اقتصادي ګټي دغه وخت ټولي په نظر کي نیول کیږي؛ خو د ځان احساس چي د لوړتیا کومي مفکورې؛ لکه بې ساري مواریثو، دین، حریت یا خپلواکۍ؛ ته منسوب وي، د یو نېشن د ترکیب نهایي مشخصه جوړوي. «جي. شوارزین‌برګر G. Schwarzenberger» چي کله د نېشن ډینامیک ماهیت بیانوي، نو داسي وايي: «دا د ملګرۍ یو ډله‌ئیز احساس او د عواطفو په جمله کي یوه خاصه غوندي عاطفه ګڼله کیږي. ځانګړتیا او هیجاني‌توب ئې له اساسي مشخصاتو څخه دي. د نېشن د کلمې عام استعمال، چي په ټولنپوهنه کي د نورو مفاهیمو

---

[١٤] National Character and the factors in its formation, London, Methuen, ١٩٢٧, P: ١٧

[١٥] Marxism and the National & Colonial Question, English edn, A. Fineberg, London: Lawrence, ١٩٣٥, P: ٨

دپاره په کار اچول کیږي، باید د همدې کلمې واقعي معناوي تر ابهام لاندي را نه ولي.[16]» لکه څنګه چي په همدې رابطه کي «کیو. رایټ Q. Wright» داسي څرګندوي: «د نېشن (ملت)، دولت، حکومت او خلګو کلمات کله ناکله یو د بل په ځای کي استعمالیږي، اما د دوی له جملې څخه هره کلمه خپله ځان ته افاده لري. د نېشن کلمه د خلګو یوه غټه ټولنۍ افاده کوي، چي غړي ئې د کلتوري چارو، ارزښتونو، معیارونو او سیاسي غوښتنو اشتراک یو د بل سره متحد کړي وي او معمولاً په یوه ټاکلې سیمه کي اوسي...

د تعریف مسأله په هغه زمینه کي، چي د نېشن مفکورې نن ورځ انکشاف ورته را کړی دئ، تر تیوریکي درجې زیات اهمیت لري، ځکه اوس په دې زمینه کي نوي دولتونه او نېشنونه منځ ته را ځي.[17]» «آر ایمرسون R. Emerson» په خپله یوه تازه څېړنه کي، چي «له امپراتورۍ څخه تر نېشن پوري[18]» نومیږي، داسي څرګندوي، چي د آسیا او افریقا اولسونه دې ته متوجه سوي دي، چي د ملت (نېشن) او ملتپالني (ناسیونالیزم- ن) هغه مفاهیم په کار واچوي، چي د اروپایي تجربې له تعمیمه څخه را وتلي دي: «د یوه نېشن غوره نمونه چي اروپایي سوابق ئې موږ ته را ښیي، که څه هم دغه شان له هره پلوه څخه سوچه نېشن وجود نه لري، هغه واحد اولس ته ویل کیږي، چي په عنعنوي ډول په یوه څرګنده پېژندلې خاوره کي ځای پر ځای سوی وي؛ یوه ژبه وایي، چي ترجیحاً ئې هغه خپله وي؛ د خپل ځان بېل کلتور ولري او د تاریخي آزموینت د پېړیو پېړیو په اشتراک

[16] Power Politics, New York: Praeger, ۱۹۵۱, P: ۵٦

[17] The Study of International Relations, New York: Appleton-Century-Crofts, ۱۹۵۵, P: ٤

[18] From Empire to Nation, Cambridge, Mass: Harward University Press, ۱۹٦۰

کي ئې د هويت يوه مشترکه بنه اخيستې وي.» (نوموړی اثر، م: ۱۰۴) دا خبره په زړه پوري ده، چي «ايمرسون» هغه ستونزه تائيدوي، چي د نېشن دپاره جامع او مانع تعريفونه په آسانۍ لاس ته نه را ځي او وايي، چي دغي ستونزي د اولسونو د منځ ته راتلونکو دولتونو د «ملتيت[۱۹]» د خصوصياتو په باره کي د مباحثې پرابلمونه تشديد کړي دي. خو نوموړی سره له دې چي ډاډمن معيار درک نه لري، يوه داسي نظريه وړاندي کوي، چي «نېشن د خلگو هغه جمعيت دئ، چي دوی دا احساس کوي، چي يو د بل سره په دوه لحاظه تړلي دي؛ يو دا چي دوی د يوه مشترک ميراث په مهمو عناصرو کي ژوره ونډه لري او بل دا چي د مستقبل دپاره ئې سرنوشت مشترک دئ.» (نوموړی اثر، م: ۹۵) سربېره پر دې، هغه ساده ځرگندونه، چي د يوه نېشن په باره کي ويل کېدلای سي، دا ده، چي «دا د خلگو هغه جمعيت دئ، چي دوی دا احساس کوي، چي يو نېشن دئ.» (نوموړی اثر، م: ۱۰۲) د همدې خبري د اهميت په باب کي دا هم وايي، چي: «کله بشپړه، دقيقه څېړنه په سر ورسيږي، نو ښايي بيا به ئې هم دغه پورتنۍ ځرگندونه نهايي نتيجه وي.» (نوموړی اثر). (ش: ۳، م: ۴۵۱- ۴۵۲)

د تېرو بيانو په رڼا کي دې نتيجې ته ځان رسولای سو، چي سره له هغو ټولو مفهومي لانجو، چي د «ملت» او «نېشن» د کلماتو تر منځ د ژبنيو خصوصياتو او سوابقو له بابته موجوديت لري او يا نن ورځ د علمي تعريفاتو او سياسي ايجاباتو له پلوه د دوی په اصطلاحي استعمال کي مخ ته را ځي، خو بيا هم د ژبني تعامل په عامو او خاصو موارادو کي يو د بل سره بشپړ سمون خوړلای سي، مثلاً په دې

---

[۱۹] Nationhood

جمله کي، چي «پښتون يو ملت دئ» يا «Pashtun is a nation» هم د ملت او هم د نېشن کلمه دواړه هغه کلتوري مجتمع سمه دمه افاده کوي، چي د ايتنوگرافۍ په ساحه کي له ايتنوس سره برابريږي او بايد هلته داسي وويل سي، چي «پښتون يو ايتنوس دئ». له بلي خوا بيا «د چين ملت» يا « Nation of China» په ترکيب کي دواړي کلمې هغه سياسي مجتمع افاده کوي، چي ډېر اولسونه يا ايتنوسونه ئې په يوه دولتي او ارضي حوزه کي سره را ټول کړي دي. له دې راز مثالونو څخه نو موږ ته را معلوميږي، چي ملت او نېشن هم يو د بل سره او هم د ايتنوس سره په رابطه کي د مفهومي معادلې موارد لري.

## ناڅيه Нация:

اوس نو د روسي ژبي د «ناڅيه» کلمه، چي په عادي قاموسونو کي په ملت او قوم سره معنا سوې ده او د انگرېزي ژبي د «نېشن» کلمه ئې معادله ښوول سوې ده، په موضوعي او مصنوعي ډول داسي خاصه معنا ورته جوړه سوې ده، چي کلتوري تجمع ئې په سياسي تجمع کي او سياسي تجمع ئې په کلتوري تجمع کي مروړلې ده. د هغي معادلې په جريان کي، چي «ناڅيه» له يوې خوا د سياسي تجمع په څېر د «ملت» او «نېشن» سره يو برابر گڼل سوې ده، خو له بلي خوا په ډېره لوړه مرحله کي د کلتوري تجمع په څېر د ايتنوس جگه درجه بلل سوې ده، نو مفهومي پولي ئې د ابهام له پلوه د عامي او تامي گډوډۍ په شبکه کي پرله گډې کړي دي.

د دې دپاره چي د «ناڅيه» په رابطه کي د ابهام اصلي مورينه ښه‌ترا درته ځرگنده سي، نو په کار ده، چي د ۱۹۱۳م. کال هغه ليکنه په غور ولولئ، چي د يوې

تیوریکي مناقشې په لړ کي پر همدې موضوع باندي په روسیه کي داسي خبره سوې ده:

«ناڅیه څه شي ده؟ ناڅیه په اصل کي یوه ټولنه ده، چي له خلگو څخه جوړه سوې یوه ټاکلې ټولنه بلل کیږي. دا ټولنه نه نژادي ده او نه هم قبیلوي (نسبي- ن) ده. د ایټالیې اوسنۍ ناڅیه له رومیانو، تیوتونیانو (جرمني اقوامو- ن)، ایتروسکانیانو، یونانیانو، عربیانو او داسي نورو څخه جوړه سوې ده. د فرانسې ناڅیه بیا له گالیانو، رومیانو، بریتونیانو او داسي نورو څخه تیاره سوې ده. همدغه خبره د برتانیانو، المانیانو او نورو په باره کي ویل کېدلای سي، چي د هغوی ناڅیې له بېلابیلو نژادونو او قبیلو څخه جوړې سوي دي.

په دې اساس نو ناڅیه نه نژادي او نه هم قبیلوي شی ده، بلکي له خلگو څخه جوړه سوې ټولنه ده، چي په تاریخي ډول تشکیل سوې وي.

له بله پلوه بیا په دې کي شک نه سته، چي د کوروش او سکندر غټې امپراتورۍ‌گاني ناڅیې نه سوای بلل کېدلای، که څه هم دوی په تاریخي ډول جوړي سوي او له بېلابیلو قبیلو او نژادو څخه تشکیل سوي وې. دا امپراتورۍ‌گاني ناڅیې نه وې، بلکي د هغو گروپونو تصادفي او سست‌پیونده مجموعې وې، چي د دغه یا هغه فاتح له بریو او ماتو سره یو له بله څخه بېلېدې او یا سره یو ځای کېدې. په دې حساب نو ناڅیه یوه تصادفي یا بې‌دوامه مجموعه نه ده، بلکي د خلگو یوه ثابته او ټینگه ټولنه بلل کیږي.

خو هره ثابته ټولی بیا هم یوه ناځیه نه جوړوي. اتریش او روسیه همدا راز ثابتي ټولی دي، اما هیڅوک ئې ناځیې نه بولي. په څه شي کي یو ملي جمعیت له دولتي جمعیت څخه توپیر کوي. د نورو خبرو په ټل کي یوه هم دا ده، چي ملي جمعیت پرته له مشترکي ژبي څخه نه سي تصور کېدلای. په داسي حال کي چي یو دولت بیا دې ته نه دئ اړ، چي ضرور مشترکه ژبه ولري. پرته له مشترکي ژبي څخه به نه د چک اولس په اتریش کي او نه هم د پولنډ اولس په روسیه کي دا امکان درلودلای، چي د یوې ناځیې په بڼه موجودیت ولري، خو په داسي حال کي چي د روسیې او اتریش تمامیت بیا له دې څخه نه زیانمن کیږي، چي هلته یو شمېر بېلابیلي ژبي د دوی په قلمرو کي دننه ویل کیږي. له ژبو څخه البته زموږ مقصد هغه ژبي دي، چي خبري په کیږي، نه هغه ژبي، چي رسمي او حکومتي بڼه ولري.

په دې اساس نو مشترکه ژبه د یوې ناځیې له مشخصو علائمو څخه ګڼل کیږي.

د دې خبري معنا دا نه ده، چي بېلابیلي ناځیې هر کله او هر چیري بېلابیلي ژبي وایي او یا هغه څوک چي په یوه ژبه ږغیږي، نو هرو مرو ناځیه تشکیلوي. د هري ناځیې دپاره یوه مشترکه ژبه په کار ده، خو لازمه نه ده، چي بېلابیلي ناځیې به نو ضرور بېلابیلي ژبي لري! داسي ناځیه نه سته، چي په یوه آن کي څو متعددي ژبي وایي، لاکن د دې معنا نو دا نه ده، چي داسي دوې ناځیې نه سي پیدا کېدلای، چي په یوه واحده ژبه دي خبري نه کوي. انګرېزان او امریکایان په یوه ژبه ږغیږي، خو یوه ناځیه نه تشکیلوي. همدا خبره د ناروېژیانو او ډنمارکیانو او همدارنګه د انګرېزانو او آیرلنډیانو په باب صادقیږي.

څه دلیل دئ، چي مثلاً انگرېزان او امریکایان په داسي حال کي، چي ژبه ئې مشترکه ده، خو یوه ناځیه نه تشکیلوي؟

لومړی په دې سبب، چي دوی یو ځای ژوند نه کوي او په بېلابیلو هیوادو کي اوسیږي. د ناځیې تشکیل یوازي د اوږده او منظم معاشرت په نتیجه کي، چي خلگ پښت پر پښت په یوه ځای کي گډ سره واوسي، منځ ته را ځي؛ خو خلگ چي تر څو پوري یوه مشترکه خاوره و نه لري، نه سي کولای، چي د اوږدو زمانو په دوران کي یو ځای سره واوسي. انگرېزان او امریکایان وار د واره په یوه خاوره؛ یعني انگلنډ کي اوسېدل او یوه ناځیه ئې جوړوله، وروسته چي یوه برخه انگرېزان له انگلنډ څخه د امریکا نوي هیواد ته وکوچېدل، نو د زمانې په دوران کي ئې هلته نوې امریکایي ناځیه جوړه کړه. د خاوري توپیر د بېلابیلو ناځیو د تشکیل سبب وگرځېدی.

په دې اساس نو مشترکه خاوره د یوې ناځیې له مشخصو علائمو څخه گڼله کیږي.

خو ټوله خبره پر دغه ځای نه خلاصیږي. مشترکه خاوره په خپله یوه ناځیه نه جوړوي. د دې کار دپاره سربېره پر هغه په دننه کي یو اقتصادي پیوند هم غواړي، چي د ناځیې بېلابیلي ټوټې په یوه واحد کُل کي سره ونښلوي. دغسي پیوند د انگلنډ او امریکا تر منځ نه سته او نو ځکه دوی دوې بېلابیلي ناځیې تشکیلوي. که چیري د امریکې بېلابیلي ټوټې د هغو تر منځ د کار د تقسیم، د ارتباطي وسایلو د انکشاف او داسي نورو په نتیجه کي د اقتصادي کُل په ساحه کي یو د بل سره

نه وای پیوند سوي، نو به امریکایان په خپله د دې مستحق نه وای، چي یوه ناڅیه وبلل سي...»

«په دې اساس نو یو مشترک اقتصادي ژوند؛ یعني یو په بل پوري تړلی اقتصادي پیوند د ناڅیې له مشخصو علائمو څخه گڼل کیږي.

خو پر دې ټکي باندي لا هم ټوله خبره پای ته نه رسیږي. سربېره پر تېرو څرگندونو دا هم لازمه ده، چي د هغو خلگو ځان ته معنوي څېره همدا راز په نظر کي ونیول سي، چي دوی یوه ناڅیه تشکیلوي. ناڅیې نه یوازي د خپل ژوند د شرایطو له مخي یو له بل څخه توپیر لري، بلکي همدا رنگه په معنوي څېره کي، چي د ملي کلتور په خصوصیاتو کي ځان ښکاره کوي، هم یو له بل څخه تفاوت کوي. د انگلنډ، امریکا او آیرلنډ وگړي سره له هغه چي په یوه ژبه خبري کوي، خو بیا هم درې ځان ته ناڅیې جوړوي او دا خاص روحیاتي جوړښت ته منسوب عامل، چي همدې وگړو د ژوند د متفاوتو شرایطو په نتیجه کي پښت پر پښت انکشاف ور کړی دئ، یو کوچنوټی عامل نه بلل کیږي.

روحیاتي جوړښت یا خو په بله اصطلاح چي «ملي کرکټر» بلل کیږي، البته د کتونکي دپاره یو ناقابل لمس غوندي شی دئ، اما تر کومه ځایه چي د ناڅیه په ځانگړي مشترک کلتور کي ځان ښکاره کوي، نو یو مرئي شی دئ او دا نه سي کیدلای، چي له نظره واچول سي.

د دې خبري ویلو ته ضرورت نه سته، چي «ملي کرکټر» یو داسي ثابت شی نه دئ، چي د تل دپاره پر یوه قرار وي، بلکي د ژوند د شرایطو له اوښتون سره بدلون

مومي. خو څه رنګه چي په هره ټاکلې شېبه کي موجودیت لري، نو د ناڅیه پر څېره باندي خپل نقش اچوي.

په دې اساس نو مشترک روحیاتي جوړښت، چي په مشترک کلتور کي ځان ښکاره کوي، د یوې ناڅیې له مشخصو علائمو څخه ګڼل کیږي.

اوس نو موږ د یوې ناڅیې بېلوونکي نښي ټولي وښوولې.

ناڅیه نو په تاریخي ډول له خلګو څخه جوړه سوې یوه ثابته ټولی ده، چي د مشترکي ژبي، خاوري، اقتصادي ژوند، روحیاتي جوړښت، چي په کلتور کي ځان ښکاره کوي، پر بنسټ باندي تشکیل سوې ده.»

«پر دې خبره باید ټینګار وسي، چي له پورتنیو مشخصاتو څخه هیڅ یو هم په یکړه توګه د ناڅیه د تعریف او پېژندني دپاره کافي نه بلل کیږي؛ اما د دې مشخصاتو د هر یوه فقدان بیا هر چیري د دې دپاره کافي دئ، چي هلته ناڅیه د یوې ناڅیې په څېر و نه لیدل سي.»

«فقط هغه وخت چي دغه ټوله مسخصات پر یوه ځای موجود وي، نو هلته ناڅیه مونده کیږي.» (ش: ۱۵، م: ۱۱- ۱۷)

که د ناڅیه دپاره د پورتني تعریف ټوله قیدونه او شرطونه په نظر کي ونیول سي، نو په هیڅ توګه نه د «ملت»، نه د «نېشن» او نه د «ایتنوس» له مفاهیمو سره سم سر خوړلای سي؛ ځکه د ژبي او روحیاتي یا کلتوري اشتراک عناصر ئې د ایتنیکي هویت اړخونه ښیي، خو د خاوري او اقتصادي ژوند اشتراک ئې بیا د سیاسي تجمع عناصر ګڼل کیږي. ناڅیه د همدغه تعریف له مخي پر یوه داسي ایتنیکي

تجمع دلالت کوي، چي په عين زمان کي به سياسي تجمع وي او د اقتصادي انکشاف په يوه جگه مرحله کي به هم قرار لري.

دا چي له يوې خوا ناڅيه په عادي توگه په «ملت» يا «نېشن» سره ترجمه کيږي او له بلي خوا د هغي موضوعي يا مصنوعي مفهوم، چي وړاندي بيان سو، د «ملت» او «نېشن» تر دلالت لاندي را وستل کيږي، نو ټولي افادې داسي پر له گډوي، چي د ايتنيکي، حقوقي او سياسي مواردو په علمي او عملي زمينه کي لاينحله ابهامات زېږوي.

سربېره پر دغو مفهومي گډوډيو بيا دا معضله هم اضافه سوې ده، چي د قبيلې، قوم او ملت سوسيولوجيک مثلث د ايتنوگرافيک هويتونو په څېر په روسي ژبه کي د «پليميا»، «نرودنست» او «ناڅيه» په نومو باندي استعمال ته لوېدلی دئ. «پروفيسر بروک» ليکي، چي د قبيلې، قوم او ملت درې گونی تقسيم د شوروي په ايتنوگرافۍ کي منل سوی دئ. (ش: ۱، م: ۹۰) د ټولنپوهني دغه عامي درې مقولې، چي وايي په شوروي کي د ايتنوگرافۍ پوهان هم استفاده ځني کوي، ښايي چي له تيوريک او ميتوديک پلوه يو څه په درد وخوري، اما د مشخصو ايتنيکي اوضاعو په مشخص تحليل کي ډېر سم کار نه ور کوي؛ ځکه نو «بروک» په خپله دا خبره کوي، چي د ايتنوسونو درې گونی تقسيم (يعني قبيله، قوم او ملت) د نړۍ د ايتنيکي هويتونو ټوله څو بڼه‌ايز حالت نه څرگندوي.» (ش: ۱، م: ۹۳)

موږ چي بيا د دې مثلث دوهمه کلمه «قوم» په «مليت» سره اړولې ده، نو ټولي مقولې مو داسي پر له مروړلي دي، چي تصفيه ئې په آسانۍ سره امکان نه لري؛

ځکه د «ملیت» کلمه زموږ د ژبو په سابقه او منل سوي حالت کي یوازي د ملي یا وطني تابعیت په معنا تثبیت سوې ده او بس.

د دې ټولو منشاء د «ناڅیه» په مقوله کي ده، چي له یوې خوا د سوسیولوجیک مقولې په توګه او له بلي خوا د ایتنوګرافیک مقولې په شان په یوه متن کي استعمالیږي.

څو کاله وړاندي موږ داسي تصور کاوه، چي دغه شان مقوله‌یي کلمات په نړیوالو ژبو؛ په تېره بیا په روسي کي د افادې له بابته د علمي تثبیت پخې درجې ته رسېدلي دي او که کېدلای سي، چي تش د ترجمې له لاري زموږ د ژبو په کلماتو سره د بشپړي معادلې ټکي ته ورسیږي. خو اوس وینو، چي د داسي کلماتو او مفاهیمو له پلوه مسلکي پوهان په خپله د تیوریک ابهام له کړکېچه څخه نه دي وتلي. د مثال دپاره د «ناڅیه» د روسي کلمې جنجالي افاده، چي په ۱۹۱۳م. کي ئې د تعریف دپاره یوه تیوریکه طرحه وړاندي سوې وه، تر اوسه لا هم کومي روښاني نتیجې ته نه ده رسېدلې. «اکاډیمیسن بروملي» په ۱۹۸۸م. کي داسي لیکي: «په بشري نوعه کي هم وحدت وجود لري او هم مغایرت. بشر له یوې خوا په ځان پوره یو بشپړ واحد دئ، چي په بیالوجیکي الفاظو کي د «هومو ساپینز Homo sapiens» په نامه یادیږي او له عمومي اجتماعي قوانینو سره سم مخ پر وړاندي ځي؛ خو له بلي خوا بیا بشر پر زیات شمېر داسي بېلابیلو هویتونو باندي وېشلی دئ، چي په تاریخي ډول منځ ته راغلی دئ. د دغو جوړښتونو له جملې څخه یو هم هغه دئ، چي په زیاترو ژبو کي «د نړۍ قومونه Peoples of the world» بلل کیږي. شک نه سته، چي د همدې مطالبو د افادې دپاره

په هر هیواد کي یو راز کلمات نه استعمالیږي، مثلاً دغه هویتونه د شوروي اتحاد په عادي خبرو کي د «ناڅي Natsii»، «ناڅیه نالنسي Natsionalnasti»، «نرودنستي Narodnasti» او «ناڅیه نالني مین ښیستوه Natsionalnie menshinstva» په کلماتو سره ښوول کیږي. (یعني ایتنیکي ملتونه، ایتنیکي ملیتونه او ایتنیکي اقلیتونه) د شوروي په اکاډیمیکو آثارو کي د «ایتنیکي هویت» یا «ایتنوس» کلماتو ته ورځ په ورځ «د نړۍ د قومونو Народи мира» تر مفهوم ترجیح ور کول کیږي.» (ش: ١٦، م: ۴-۵)

څه رنگه چي بروملي په دې پوهېدلی دئ، چي په پورتني بیان کي ئې د خبري د سپينېدلو پوره حق نه دئ اداء کړی، نو ځکه د همدغه متن په رابطه کي ئې د مطلب د روښانه کېدو په خیال یوه حاشیه هم په خپل قلم زیاته کړې ده. په حاشیه کي وایي: «د ایتنیک کلمه چي اوس په اکاډیمیکو لیکنو کي زیاته استعمالیږي، تر ډېره ځایه ئې دلیل دا دئ، چي په بېلابیلو ژبو کي د «ملتونو Nations»، «ملیتونو Nationalities» او «قومونو Peoples» کلمات هر کله کټ مټ هغه معنا نه ور کوي، لکه څنگه چي په روسي ژبه کي مروجه ده، مثلاً ټرمینولوجي د انگرېزي او فرانسوي ژبي پر خلاف په روسي او جرمني ژبو کي ایتنیکي هویتونه تر دولتي هویتونو زیات افاده کوي؛ حتی په خپله د «ایتنیک» لا هم په استعمال پوره توحید نه لري. په ځینو ځایو کي دغه کلمه په خپله سوچه ایتنیکي پدیدې معرفي کوي او په ځینو نورو کي بیا پر ایتنیکي-اجتماعي پدیدو باندي دلالت کوي. په لومړي صورت کي نو د دې کلمې اصلي معنا د وگړو هغه گروپ افاده کوي، چي یوه ژبه، یوه کلتوري سابقه، د ژوند یو طرز او همدارنگه

بېلوونکي روحيات او ځان ته هويت ولري، خو په دوهم صورت کي ايتنيکي- اجتماعي هويتونه، هغه جوړښتونه دي، چي پر خالصو ايتنيکي صفاتو سره ټاکلي اجتماعي- اقتصادي او سياسي مشخصات هم ولري. د روسي ژبي په ورځني استعمال کي «ايتنيکي هويتونه – ناڅيه نالنستي» (يعني ايتنيکي مليتونه) او «ايتنيکي اجتماعي هويتونه –ناڅي» (يعني ايتنيکي ملتونه) بلل کيږي. په هر حال په روسي ژبه کي چي د «ناڅيه نالني» (يعني ايتنيکي- اجتماعي) کلمه د صفت په شکل د «جرياناتو»، «روابطو» او «مسايلو» له اسمونو سره تر استعمال لاندي را ځي، نو هم ايتنيکي او هم ايتنيکي- اجتماعي پديدې دواړه افاده کولای سي، ځکه نو د «ناڅيه نالني» صفت په ځينو ځايو کي په ايتنيکي او په ځينو نورو کي بيا په ايتنيکي- اجتماعي سره ترجمه کيږي.» (ش: ١٦، م: ۴- ۵)

د «بروملي» د کتاب د انګرېزي ترجمې ايډيټر، چي له پورتنيو توضيحاتو سره بيا هم د موضوع په ابهام کي داسي احساس کوي، چي سربداله دئ، نو ځکه د پورتنۍ حاشيې په نوره توضيح کي ځان ته دا حق ور کوي، چي له ځانه بله حاشيه هم پر زياته کړي. دی په خپل روڼ داسي ليکي: «د دې اثر ترجمان د ايتنيکي هويت، ايتنيکي ګروپ، ايتنوس او خلګو کلمات د روسي ژبي د «ناڅيه»، «ناڅيه نالنست» او «نرودنست» د معادل په څېر استعمالوي. يوازي په هغو ځايو کي چي له پخوانيو ترجمو څخه اقتباسونه په دې متن کي را اخيسته سوي دي، هلته دغه روسي کلمات د «نېشن» او «نېشنه‌ليټي» په بڼه راغلي دي. د دې اثر مؤلف او مترجم دواړه پيشنهاد کوي، چي که کوم وخت دغه کلمات په يوه تيوريکه زمينه کي تر استعمال لاندي را ځي او هلته دا ضروري وي، چي بايد

دغه مفاهیم یو له بله څخه وپېژندل سي، نو «ناڅیه» کېدلای سي، چي په «ایتنیکي نېشن»، «ناڅیه نالنست» په «ایتنیکي نېشنه‌لیټي» او «نرودنست» په «ایتنیکي اقلیت» سره معادله سي. همدا رنګه دوی وړاندیز کوي، چي د «ایتنیکي اجتماعي سیسټم» دقیقه کلمه د «ملي سیسټم» د هغي اصطلاح پر ځای، چي په پخوانیو ترجمو کي منل سوې وه، په پام کي وساتل سي. همدا شان د «ایتنیکي اجتماعي سیاست» او د ایتنیکي اجتماعي مسألې اصطلاحات د «ملي سیاست» او «ملي مسئلې د پخوانیو کلماتو ځای ونیسي.» (ایډیټر، ش: ١٦، م: ٥)

په دې پورتنیو څرګندونو کي په ښکاره د هغي ارجلي او کړکیچني ګډوډۍ پوره ننداره کېدلای سي، چي د ایتنوګرافیک او سوسیولوجیک مقولو د تیوریکي اختلاط په نتیجه کي منځ ته راغلې ده او شوروي پوهان ئې د نوو کلماتو په زیاتولو او سمدلاسه تشریح کولو سره د سمېدو هڅه کوي. له دې سره نو دا مکلفیت پر تاسي باندي تپل کیږي، چي مثلاً د «ناڅیه» یوه کلمه یو ځل په «نېشن» یا «ملت» او هغه کلمه بیا بل ځل په «ایتنیکي نېشن» یا «ایتنیکي ملت» سره ترجمه کړي او د دې دپاره چي لوستونکي ئې په فرق وپوهیږي، نو باید تر اصلي متن ئې د توضیح فرعي حاشیې زیاتي وي.

له دې تیوریکي ګډوډۍ څخه د وتلو یوازنۍ لاره دا ده، چي د روسي ژبي «ناڅیه» هیڅ کله په «ملت» یا «نېشن» سره ترجمه نه سي او که ئې څوک ترجمه کوي، نو ئې له هغي خاصي موضوعي یا مصنوعي معنا څخه پر یوه مخ صرف‌نظر وکړي، چي غواړي په دې وسیله ایتنیکي هویت د اجتماعي-اقتصادي انکشاف په یوه لوړه مرحله کي وښیي. پرته له دې امکان نه لري، چي څوک د

الفاظو او کلماتو په پېچلي ابهام کي د لويو تيوريکي اشتباهاتو څخه خپل ځان وژغوري.

# ملي مسأله او که ایتنیکي مسأله؟

که یو ملت او یا یو ایتنوس په یکړ صورت ګوښه په کوم ځای کې خپل ژوند کوي، نو هلته نه د ملي او نه هم د ایتنیکي مسألې خبره را پیدا کیږي. خو که دوه یا ډېر ملتونه او ایتنوسونه په طبیعي، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او داسي نورو روابطو کې یو د بل سره داخل سي، نو هلته ارو مرو د ملتونو تر منځ ملي او د ایتنوسونو تر منځ ایتنیکي مسایل ور سره را پیدا کیږي.

د تیورۍ له پلوه د مبهمو کلماتو په جمله کې د ملي مسألې او ایتنیکي مسألې اصطلاحات هم یو د بل سره زموږ په لیکنو او ترجمو کې د شوروي آثارو او د هغو د ایراني ترجمو په تقلید، دلته هلته په مرامي، سیاسي او حقوقي اسنادو کې پر له ګډه سوي او یو په بل تعبیر سوي دي.

یو څه زمانه پخوا چې د ایتنیکي مسألې اصطلاح لا استعمال ته نه وه راغلې، نو د یوه دولت په حریم کې د ایتنیکي ګروپونو مسأله او هم د دولتونو تر منځ د ملتونو مسأله، چې د ماهیت له مخې توپیر سره لري، دواړه د ملي مسألې په نامه یادېدلې، مثلاً «افاناسیف» لیکي: «هغه وخت چې کاپیټالیستي ټولنه د رشد په حال کې وه، نو ملي مسأله معمولاً د ځانګړو هیوادو تر خپلې محدودې دباندي نه وتله. څو ملتیز دولتونه، لکه روسیه، اتریش – هنګري او نور چې په دننه کې ئې ظالم او مظلوم ملتونه مېشته وه، د ملي ستم او د ملي آزادۍ دپاره د مبارزې عمده مرکزونه وه. ملي مسأله په اصل کې د ملي اقلیتونو په دې پرابلم پوري محدوده وه، چې دوی د آزادۍ دپاره مبارزه کوله او دا حق ئې غوښتی، چې خپل اقتصاد او کلتور ته وده ور کړي.

د امپریالیزم له را څرګندېدو سره ملي روابط هم تر تغیر لاندي راغله... نور نو ملي مسأله تر امپریالیزم لاندي د یوه دولت په حریم کي دننه د ملي اقلیتونو مسأله نه ده، بلکي یوه ملي- مستعمراتي مسأله ده.» (ش: ۱۷، م: ۲۸۲)

د هغو ایراني لیکوالو څرګندوني چي مخامخ ئې د شوروي آثارو له آیډیالوجیکي متونو څخه الهام اخیستی دئ، هم په دغه شان الفاظو کي افاده سوي دي، مثلاً امیر نیک آئین لیکي: «بطور کلی و در مقیاس همه کشورها، در مرحله پیدایش ملتها، مسئله ملی وابسته است به سرنگونی فئودالیسم و تشکیل دولتهای ملی؛ در مرحله امپریالیزم، مسئله ملی به یک مسئله بین المللی و بین دولتها بدل می‌شود... در این مرحله مسئله ملی از حدود مسئله داخل یک کشور بیرون می آید و در صحنه جهانی به صورت مسئله ملی- مستعمراتی در می‌آید.» (ش: ۱۸، م: ۲۲۹)

په اوسنیو وختو کي چي د شوروي پوهانو توجه دغه شان تیوریکي نیمګړتیاوو ته را ګرځېدلې ده، نو ځکه پیشنهاد کوي، چي باید د «ملي ستم»، «ملي سیاست» او «ملي مسئلې» په ترکیبونو کي د «ملي» د کلمې ځای «ایتنیکي- اجتماعي» اصطلاح ونیسي. (ش: ۱٦، م: ۵)

ښایي دوی د سیاسي ملحوظاتو له مخي داسي فکر کړی وي، چي نور نو په شوروي کي، چي د واحد سوسیالیستي ملت نوم ایښوول سوی دئ، د «ملي مسألې» پر ځای یوازي د «ایتنیکي- اجتماعي مسألې» اصطلاح ډېره مناسبه ده. خو دا خبره د شوروي ټولني د واقعي ترکیب له پلوه، چي د ځانګړي تاریخي- سیاسي هویت په ځان پوره بېلابېل ملتونه ئې را ټول کړي دي او د هر جمهوري

واحد په ځانګړي ملي اداره کي ئې بيا بېلابېل قومونه او اولسونه را يو ځاى کړي دي، د تيورئ کړکېچونه له منځه نه سي وړلاى. هلته د بېلابيلو ملتونو تر منځ «ملي مسايل» او هم د هر ملت په سياسي اداره کي دننه د بېلابيلو توکمونو تر منځ «ايتنيکي مسايل» د ورځني ژوند په واقعيت کي موجود دي. يو وخت چي دغه دواړه ډوله مسايل يوازي په «ملي» يادېده او اوس چي بيا دواړه يوازي په «ايتنيکي» تعبير سي، نو د مفاهيمو له حقوقي يا سياسي تصفيې سره چنداني مرسته نه سي کولاى. سمه پرېکړه دا ده، چي د مسايلو هره برخه په خپله حوزه کي دننه په ځانته نامه وبلل سي او د حل نوعيت ئې هم د مسألې د نوعيت سره سمون ولري. مثلاً په «ملي مسأله» کي «د حقِ خودِ اراديت» حل نه سي کېدلاى، چي په واقعي توګه په کوم جمهوريت کي دننه، چي هلته زيات توکمونه يو په بل کي اخښلي پراته وي، د «ايتنيکي مسألې» د حل دپاره هم تر استفادې لاندي را سي. لکه څنګه چي ملي مسأله او ايتنيکي مسأله د ماهيت له مخي يو د بل سره توپير لري، دغه رنګه ئې د حل تدابير هم يو له بل څخه فرق کوي.

موږ چي له څو کلونو راهيسي په خپلو سياسي، حقوقي او علمي ليکنو کي د ملي مسألې اصطلاح له شوروي او ايراني آثارو څخه د اقتباس په توګه را اخيستې ده، اوس د دغه شان ابهامونو او التباسونو له کبله ارو مرو ايجابوي، چي نوې کتنه پر وسي.

په افغانستان کي چي د بېلابيلو ايتنوسونو تاريخي سابقه مختلطه ده او د ژوند په زياترو مادي او معنوي جرياناتو کي ئې يو د بل سره ګډ او متشابه خصلتونه اخيستي دي، نو داسي خبره، چي دلته بشپړ ځانګړي ملتونه، چي د سياسي او

اجتماعي بېلتون تر سابقې وروسته په تماس کې راغلي وي او تر منځ ئې د ملي مسألې پدیدې را پیدا سوي وي، هیڅ درک نه لري. که ملت د «ناځیه» په هغه معنا څوک تعبیروي، چې د سرمایه‌داري نظام د اجتماعي- اقتصادي شرایطو محصول ګڼل کیږي، نو په دې صورت کې په ډاډه توګه ویل کېدلای سي، چې زموږ د هیواد هیڅ ایتنوس په یوازي سر داسي مرحلې ته نه دئ رسېدلی، چې له بل ځانګړي ایتنوس سره ئې د ملي مسألې په سویه د نوي عصر د مناسباتو دغه شان پدیدې منځ ته راوړې وي؛ ځکه دلته د ماقبل فیوډالي او فیوډالي شرایطو په خپاره موجودیت کې چې تر اوسه ئې لا زیاتره موسسات ژوندي پاته دي، هیڅ ایتنوس د ملي تشکل هغي جګې درجې ته د رسېدو امکان نه دئ موندلی، چې د بل مماثل ایتنوس سره په خپل‌منځي روابطو کې د سرمایه‌دارۍ د مرحلې ملي مسایل ایجاد کړي.

خو «ملي مسأله» که بیا په هغه تعبیر مطرح سي، چې د فیوډالیزم په زمینه کې د کاپیټالیزم له ابتدائیي رشده سره د ملي دولتونو د تشکیل دپاره د واکمنو ایتنوسونو پر ضد د محکومو ایتنوسونو له خوا څخه مترقي مبارزې منځ ته را ځي. نو په دې صورت کې زموږ د هیواد د تېر سل کلن تاریخ پېښې، هغه یوزانی مدرک ګڼل کیږي، چې د همدې پروسې واقعي نوعیت او خصلت راته روښانه کولای سي، ځکه په دې دوران کې موږ دوه ډوله پېښې لیدلای سو؛ یو پلو ته هغه پېښې دي، چې د مرکزي دولت د واکمنو په مقابل کې، چې د هر ایتنوس د حاکمي طبقې عناصر په ځان کې لري، د سرکاري مالیې، مرکزي کلتور او دولتي نفوذ د پراختیا پر سر باندي د کلیوالي او کوچي ټولنو له خوا څخه د بغاوتونو او شورښونو په

ځېر منځ ته راغلي دي. دغه راز ټول مقاومتونه چي په افغانستان کي دننه زياترو ايتنوسونو يو او بل وخت د مرکزي ادارې د واکمنو په مقابل کي څرګند کړي دي، نه په خپل ماهيت کي ايتنيکي خصلت لري او نه هم د يو ملي غورځنګ په رديف کي محاسبه کېدلای سي؛ ځکه ټولي مقابلې د کليوالي او کوچي ټولنو له خوا د عنعنوي ژوند د بقاء په خاطر سر ته رسېدلي دي او د کومي ايډيالوجۍ په اساس داسي غوښتني نه څرګندوي، چي په هغه کي د پرمختګ او انکشاف دپاره ځيني تمايلات انعکاس کړي. د دې راز مقاومتي مبارزو څرګندي هڅي په داسي شعارو کي خلاصه کېدلای سي، چي سړک نه غواړو، غم نه ورکوو، مکتب نه منو او نور. بل پلو ته بيا هغه مبارزې او غورځنګونه وينو، چي په ښاري حوزو کي د ټولو ايتنوسونو د روښانفکره قشرونو له خوا څخه په ګډه د شرقي استبداد او سياسي اختناق پر ضد، چي په هغه کي هم هر ايتنوس خپله طبقاتي نمايندګي لري، په يوه يا بله بڼه له څرګندي ايډيالوجۍ سره تبارز کوي او د اجتماعي پرمختګ او سياسي ډيموکراسۍ دپاره د مشترک ايثار او فداکارۍ له دريځه څخه خپلي ګډي مبارزې وړاندي بيايي. په دغو دواړو ډولونو کي چي يو ئې د مقاومت او بل ئې د مبارزې تر مقولې لاندي افاده کېدلای سي، د «ملي مسألې» خبره هغه شان چيري نه مطرح کيږي، لکه څنګه چي د شوروي په سياسي ادبياتو کي تشريح سوې ده. يوازنۍ مسأله چي موږ ئې د خپل هيواد په تاريخي پروسه کي موندلای سو، هغه طبقاتي- سياسي مسأله ده، چي د ټولو مبارزو په سر کي ځای نيسي. د دې خبري دليل دا نه دئ، چي دلته بېلابېل ايتنوسونه او يا د دوی تر منځ د اجتماعي درجې توپيرونه نه سته، بلکي دليل ئې دا دئ، چي د طبيعي، اجتماعي، اقتصادي، کلتوري، اعتقادي او تاريخي شرايطو په ګډه زمينه کي ئې

دونه مشترک او مختلط خصوصیات اخیستي دي، چي د قومي ممیزاتو او ایتنیکي تفاوتونو سیاسي تاثیر ئې بېخي لاندي کړی دئ.

ځکه نو زموږ د «ایتنیکي مسألې» دپاره د «ملي مسألې» اصطلاح له لویه سره څخه علمي مصداق نه لري. تر هغه وخته چي په ځان پوره او تمام عیاره ملتونه یو د بل سره په روابطو کي داخل سوي نه وي، تر هغو پوري د «ملي مسألې» اصطلاح په سمه معنا چیري نه سي استعمالېدلای. د دې دپاره چي موږ نور د داسي مبهمو یا اشتباهي مقولو په مفاهیمو کي خپله سمه لاره ورکه نه کړو، نو په کار ده، چي تر دې وروسته د خپلو چارو دپاره د «ملي مسألې» پر ځای یوازي په «قومي یا ایتنیکي مسأله» اکتفاء وکړو.

هغه ټوله اشکالات چي د «ملي مسألې» له اصطلاح څخه زیږېدلي دي، په اصل کي له دې ځایه څخه منشاء اخلي، چي تر اوسه پوري د دغي مقولې یو منطقي تعریف منځ ته نه دئ راغلی، چي مفهومي حدود ئې روښانه کړي او له ایتنیکي مسألې سره ئې پر توپیر باندي رڼا واچوي. تر څو پوري چي دغه کار نه وي سوی، نو تر هغو به د لفظي او معنوي مناقشاتو په پېچلي کړکېچ کي هیڅ څوک له تیوریکي ابهاماتو څخه را و نه وځي.

# د ملي مسألې نوعیت او حل ئې

د «ملي مسألې» دپاره که څه هم تر اوسه پورې یو اصولي تعریف منځ ته نه دئ راغلی، خو په دې باره کې چې په وخت په وخت ځیني څرګندوني سوي دي، د هغو له مخې څخه یو داسي عمومي مفهوم را ایستل کېدلای سي، چې ښايي لږ یا ډېر د تعریف د تدوین په برخه کې مرسته وکړي. په دې لړ کې تر هر څه لومړی لازمه ایسي، چې وار د واره د «ملي مسألې» د لفظي ترکیب کلمات تر یوې اندازې پورې وڅېړل سي.

## ملي:

د «ملي» کلمه چې د «ملة» او نسبتي «یاء» له ترکیبه څخه د عربي ژبي پر ګرامري اصولو برابره جوړه سوې ده، زموږ په ژبو کې خپور استعمال لري او په عامه توګه د ګڼو مفاهیمو دپاره استخدامیږي. هغه څه چې «ملت» ته منسوب وي او یا د عامه خلګو سره اړه لري، زیاتره «ملي» بلل کیږي، لکه «ملي کالي»، چې د «رسمي لباس» په مقابل کې ویل کېدلای سي یا «ملي بانک»، چې یو وخت ئې د «دولتي بانک» سره په همدغه معنا توپیر درلودی. «ملي اخبار» هم چې په وروستنیو وختو کې ئې «ملي» کلمه په «خصوصي یا شخصي» سره واوښته، زموږ ښه په یاد دئ، چې خورا ډېره زمانه «د دولتي یا سرکاري اخبار» په مقابل کې د ډاډ وړ ګڼل کېدی. له بلي خوا بیا سرکاري کول هم په ملي کولو سره افاده کیږي.

د تاریخي سابقې په حساب موږ وینو، چې تقریباً اتیا کاله پخوا د سراج الاخبار په رسمي لیکنه کې د نن ورځي د «ملي» پر ځای په هغه وخت کې د «ملیّه» کلمې

رواج درلودی، مثلاً هلته راغلي دي: «و از غیرت دینیّه و جوان‌مردی ملیّه شما رعایای صادقه» (ش: ۱۹، م: ۲) دغه څرګندونه که د نن ورځي د لیکني طرز ته را واړول سي، نو «و از غیرت دینی و جوان‌مردی ملی شما رعایای صادقه» ویل کیږي. دلته زموږ پام دې ټکي ته اوړي، چي د ملي کلمه مخامخ له «ملت» څخه نه ده را وتلې، بلکي وار د واره له «ملت» څخه «ملیّه» اشتقاق سوې ده او دا «ملیّه» بیا وروسته په «ملي» باندي اوښتې ده.

بیا نو د ۱۳۱۰ش. کال د «اصول‌نامهٔ اساسی» په متن کي د «ملي» کلمه په اوسني مروجه املاء د «شورای ملی» په نامه کي په ښکاره لیدل کیږي، چي البته تر عادي افادې سربېره ئې دا وخت پوره سیاسي معنا هم زموږ په ژبو کي خپره سوې ده.

د ملي کلمه که څه هم د عربي اشتقاق له اصولو سره سمه جوړه سوې ده او له ظاهري شکله څخه هم عربي ښکاري، لاکن په عربي ژبه کي رواج نه لري او پر ځای ئې د قومي، وطني یا دولي کلمات استعمالیږي، مثلاً «ملي سیاست» په «السیاسة القومیة» او «ملي جنډه» په «علم وطني» سره په عربي کي ترجمه کیږي.

که د عربي ګرامر د قواعدو خبره په منځ کي نه وای، نو زموږ د ژبو له اصولو سره سم به د دې کلمې سم شکل د «ملي» پر ځای «ملتي» وای؛ ځکه «ملت» زموږ په ژبو کي مذکر دئ او «تاء» ئې د تانیث په حکم د نسبت د «یاء» سره د پیوند په حالت کي نه غورځي. دغه کار موږ د «دولت» د کلمې په باره کي کړی دئ، ځکه د نسبت په حالت کي ئې د عربي ژبي په شکل «دولي» نه وایو، بلکي «دولتي» بڼه ئې موږ په خپلو ژبو کي منلې ده.

په هر حال، هغه ګڼ مفاهیم چي د «ملي» د صفتي کلمې تر دلالت لاندي راغلي دي، خورا ډېر توپیر سره لري، مثلاً «ملي» د «اولسي» په معنا، «ملي» د «سرکاري یا دولتي» په معنا، «ملي» د «یو هیواد د ټولو وګړو سره د ارتباط په معنا» او داسي نور... که موږ د «ملي» د استعمال خورا پراخه ساحه په یوه فهرست کي را ټوله کړو او د هغو د دلالت تر منځ مقایسوي خصوصیات په نظر کي ونیسو، نو بیا پوهیږو، چي مفهومي ساحې ئې څونه پراخ ابعاد پیدا کړي دي. د مثال دپاره د «ملي» د کلمې سره دا لاندي یو څو ترکیبونه وګورئ او په دقت ئې مفاهیمو ته ځیر سئ: ملي وحدت، ملي خصلت، ملي ستم، ملي محرومیت، ملي اقلیت، ملي پاڅون، ملي جهاد، ملي مصالحه، ملي سوسیالیزم، ملي ډیموکراتیک انقلاب او هم ملي بس.

که موږ دا خبره را په زړه کړو، چي «ملت» د یوې سیاسي یا دولتي تجمع په معنا دئ، چي ګڼ وګړي ئې په وطني اشتراک کي را ځای کړي وي، نو په همدغه مفهوم د «ملي» صفت د «ملي مسئلې» په لفظي ترکیب کي د هیوادنۍ مجموعې سره اړه لري. په دې مورد کي نو د «ملي» کلمه د انګرېزي د «نېشنل» او د روسي د «ناڅیه‌نالني» سره هغه نسبت لري، لکه «ملت» چي ئې د «نېشن» او «ناڅیه» سره لري.

## مسأله:

دغه عربي کلمه چي د لغت په سطحه کي د «غوښتني» او «پوښتني» معنا ور کوي، خو په علمي زمینه کي ئې د «معضلې»، «قضیې» او «مشکلې» هغه مفاهیم

تر ځان لاندي کړي دي، چي په انګرېزي کي په «پرابلم Problem» یا «کویسشن Question» او په روسي کي په «وپروس Вопрос» سره افاده کیږي. د «پرابلم» کلمه که څه هم د ملي مسألې په مورد کي ډېره لږ استعمال سوې ده، اما د علمي اصالت له مخي تر نورو کلماتو غوره ګڼل کیږي، ځکه یو دا چي د نورو علمي او کلاسیکو اصطلاحانو په څېر لاتیني او یوناني سابقه لري او بل دا چي جنساً په خپله زیاترو ژبو ته ور ننوتلې او په استعمال کي ئې شامله سوې ده. دریمه ښېګڼه ئې لا دا ده، چي د «پرابلم» د مقولې دپاره یو تعریف ګوتې هم منځ ته راغلی دئ، چي د یو چینایي تیوریسن له خوا جوړ سوی او د عمومي حدبندیو په تیوریکي سطحه کي استفاده ځني کېدلای سي. هغه وایي:

«شیان چي په تضاد کي سره واقع وي، پرابلم ورته ویل کیږي. چیري چي تضاد نه وي حل سوی، نو هلته پرابلم موجود دئ. کله چي د کوم پرابلم پر سر باندي یوه مناقشه را پیدا کیږي، نو تاسي ضرور د یوې خوا په طرف او د بلي خوا په مخالفت کي درېږئ او تاسي ته ده، چي باید هغه پرابلم تر فورمولبندۍ لاندي راولئ. د پرابلم په فورمولبندۍ کي باید تر هر څه دمخه د پرابلم دوې عمده خواوي یا تضاد په عمومي توګه مطالعه کړئ، څو وکړای سئ، چي د تضاد په ماهیت وپوهیږئ. دا د پرابلم د کشف جریان دئ.

د عمومي کتني یا څېړني د لنډیز په وسیله کېدلای سي، چي پرابلمونه کشف او تر فورمولبندۍ لاندي را سي، خو دوی حل کېدلای نه سي. حل ئې د اصولي پلټني او دقیقي کتني؛ یعني د تحلیل او تجزیې له لاري باید ولټول سي. تجزیه

همدا رنګه د یو پرابلم په فورمولبندۍ کي لازمه ده، ځکه پرته له دې د ګڼو موادو سره د مخامخ کېدو په حال کي څوک دا نه سي تشخیص کولای، چي د پرابلم یا تضاد اساسي رمز چیري دئ. خو د پرابلم د حل دپاره لازمه تجزیه هغه ده، چی اصولي او دقیقه وي.» (ش: ۲۰، م: ۶۳، ۶۴)

د پورتني بیان په رڼا کي، چي د «ملي مسألې» مقوله په «ملي پرابلم» سره افاده کړو، نو د تعریف په برخه کي ئې دونه قدر ویلای سو، چي «دا هغه تضاد دئ، چي د یوه او بل ملت تر منځ د روابطو په پروسه کي پیدا کیږي.»

## ملي پرابلم یا ملي مسأله:

د ملتونو تر منځ د باداریۍ او مرئیتوب، د حاکمیت او محکومیت یا د استثماري نوعیت په روابطو کي د تضاد ګڼي پدیدې د بشري تاریخ یوه غټه برخه جوړوي، خو د اجتماعي- اقتصادي انکشاف په بېلابیلو پړاوونو کي د همدې تضاد راز په راز جریانونه هم د شکل او هم د محتوا له بابته لیدل کېدلای سي. د تضاد دغه تاریخي- اجتماعي عملیه، چي د ملتونو د تشکل او تثبیت په پروسه کي ئې هم ستر نقش لوبولی دئ، په معاصر تاریخ کي هغه ځای ته رسېدلې ده، چي نن د کولونیالیزم، امپریالیزم، نوي استعمار، سوسیال امپریالیزم او داسي نورو سیاسي او اقتصادي مقولو تر نامه لاندي افاده کیږي. د کاپیټالیزم د غښتلي نفوذ په دوران کي، چي د لیري او نژدې ملتونو تر منځ ئې جغرافیایي، اقتصادي، اجتماعي، کلتوري او سیاسي انزواګاني له منځه وړي دي، نو د ملي هویتونو د انفرادي احساس او د بین‌المللي جریان د تاریخي فشار تر منځ د تضاد بېلابیلي او

رنګارنګ پديدې د ملي پرابلم مضمون ګنګل کيږي. په دې صورت کي نو پوښتنه دا ده، چي دا پرابلم او يا دا مسأله په چا پوري اړه لري او څوک ئې بايد حل کړي؟

تر هغه ځايه چي خبره په دولت يا کوم سياسي سازمان پوري اړه لري، نو هغه بايد د همدغو جرياناتو په مورد کي خپل دريځ ونيسي او د عملي کېدو په لاره کي ئې هڅه وکړي. د روان عصر سياسي ادبياتو ځيني عمومي سپارښتني د نړۍ د ملتونو په وړاندي مطرح کړي دي، چي د تاريخي انکشاف تر جبر لاندي ئې عملي واقعيت، البته د صفر په درجه کي قرار لري. دغه سپارښتني، چي په سوله کي د ګډ ژوند تر عنوان لاندي کله ناکله تبليغ کيږي، له ټولو واکمنو او بې‌واکه ملتونو څخه په يوه سويه دا غواړي، چي نړيوالي شخړي د جګړې پر ځای بايد د خبرو په وسيله حل سي. دوه اړخيزه تفاهم او اعتماد بايد منځ ته را سي.

د هر ملت دپاره بايد دا حق په رسميت وپېژندل سي، چي خپلي ټولي مسألې په خپله حل کړي. د ټولو هيوادونو د حاکميت او ارضي تماميت درناوی وسي، يو د بل په چارو کي ګوتي و نه وهل سي او د بشپړي برابرۍ پر اساس باندي يو د بل سره مرسته وسي. په همدې قياس داسي نوري خبري.

دغه شان ټوله اصول، چي په دقيقه توګه مراعات هم سي، خو هغه تکنالوجيکي او کلتوري انتقالات، چي خوښ ناخوښ د ملتونو تر منځ په اجتماعي، اقتصادي، کلتوري او سياسي ساحاتو کي وختنی تعادل او توازن له منځه وړي، نو د کورنيو او دباندنيو شخړو يا لانجو دپاره په هر آن کي زمينې مساعدي ساتي.

د ورځني واقعيتونو له مخي اوس دا حقيقت په سترګو را ننوځي، چي د ملتونو تر منځ ملي پرابلم نن د منافعو او منابعو په دوو کلمو کي خلاصه کيږي، چي حل ئې د غالب ملت په طرف کي «د ساتلو او خپلولو» او د مغلوب ملت له خوا بيا «د نه منلو او نه ور کولو» په ګډو مبارزو کي ښوول کېدلای سي.

د نونسمي پېړۍ په منځنيو کلونو کي چي د بېلابيلو ملتونو د کارګري طبقې د سياسي پيوستون نړيوال سازمان جوړېدی، نو په دې دوران کي د ملي مسألې يا پرابلم د حل دپاره داسي پرنسيپونه د مارکس او اينګلس له خوا څخه منځ ته راغلل، چي: «هر ملت چي بل ملت مريی کوي، هغه خپل ځان ته ځنځيران جوړوي!» او يا دا چي «يو ملت چي تر څو پر بل باندي ظلم کوي، په خپله هم نه سي کېدلای، چي آزاد سي!»

دا د ملي پرابلم او د هغه د حل په باره کي هغه عمومي څرګندوني وې، چي مخامخ ئې په چا پوري اړه نه درلوده او د اخلاقي موعظې په شان د ذهني تنوير دپاره کار ور کوي. اما په هغو فيدرالي دولتو کي، چي يو شمېر ملتونه ئې تر واحدي وطني او ملي ادارې لاندي را وستلي وي، نو د خپلمنځي روابطو په زمينه کي ئې د تضادونو حل د هغو مرکزونو عملي وظيفه ده، چي ارومرو ئې بايد سر ته ورسوي. دغه شان ملي مسأله چي د ملتونو تر منځ د توازن او تعادل له نيمګړتيا څخه په يوه فيدرالي حوزه کي را پيدا کيږي، کېدلای سي، چي د حقوقو له زياتېدو، د خودمختارۍ د ور کولو او يا د حقِ خودِ اراديت پر اصولو باندي خپل نهايي حل ته ورسيږي.

د یوه او بل ملت تر منځ د متضادو روابطو په ساحه کې سیاسي، اقتصادي، ارضي، حقوقي، ایډیالوجیکي، کلتوري او لساني پدیدې هغه رنګارنګ مسایل دي، چې د تاریخي جریاناتو له مخې ئې د ملي مسألې د قضایاوو په فهرست کې نومونه ثبت سوي دي. کله چې له دې جملې څخه چیري لانجې موجودي وي، نو حل ئې هم باید د مسألې له نوعیت سره مطابقت ولري. د مسألې نوعیت د حل د ټاکلو په برخه کې زیاته مرسته کولای سي.

د نن ورځي په روانو شرایطو کي چي د علمي او تخنیکي انقلاب له رشده سره خورا وړې او محلي مسألې هم ډېر ژر نړیوال خصلت اخلي او هم د عصر ستر نریتونه په ځان کي لوی مصیبتونه لري، نو تر بل هر وخت دې خبري ته زیات ضرورت احساس کیږي، چي په بېلابیلو او یا یوه حوزه کي دننه د ملتونو تر منځ د رابطې تضادونه د تعادل او تفاهم له لاري شدت ته پرې نه ښوول سي. اوس چي د ژوند په مادي ساحه کي کلتوري شباهتونه د بشري توحید سطحي ته ځان رسوي او په معنوي ساحه کي هم د وګړو سیاسي شعور د پوهېدني زمینې مساعدولای سي، نو د هر استعمار او استثمار له مغلوبېدو سره دا امکان را نژدې کیږي، چي د متقابلو منافعو په رڼا کي د ملتونو تر منځ د تضادونو ځای انساني همکاري ونیسي.

لاکن له ټولو ګټورو موازینو او نړیوالو مقرراتو سره، چي د بشري تاریخ حوادثو د تضادونو د شدت د مخنیوي دپاره د لارو او چارو په څېر او د ملي روابطو د عادلانه تنظیم په منظور منځ ته راوړي دي، بیا هم انساني ارمانونه او بشري ایډیالونه په بشپړه توګه د تخیل له حالته په عملي واقعیت باندي نه دي بدل سوي؛

ځکه په روانو شېبو کي موږ وينو، چي د ډېرو مسائلو له درکه سره بيا هم متقابل تفاهم يا تعادل دونه کمزورى دئ، چي د ملتونو تر منځ ملي مسائل دلته هلته د بدوي دورې په شان، يعني د طبيعي حل له لاري په داسي جګړو فيصله کيږي، چي مدني خصوصيات ئې د وسلو په نوعيت کي پورته څرګنديږي.

# د ایتنیکي مسألې نوعیت او حل ئې

د تیورئ له دریځه خبره له دې ټکي څخه را پیل کیږي، چې هره «ایتنیکي مجموعه» په هر حال کي نه فطري (نژادي) پدیده ده او نه هم د انسان په وجود کي اخښلې فزیولوجیکي حادثه ده، بلکي یوه ټولنیزه تاریخي پروسه ده، چې د اجتماعي پیوند په زمینه کي را پیدا سوې او په سیاله توګه د تحولاتو او انکشافاتو په غیږ کي تر دې زمانې پوري په یوه یا بله بڼه را رسېدلې ده. له دغه واقعیته سره زموږ خلګ وختي لا په هغه عربي مقوله کي پوره آشنا سوي دي، چې «کل مولود یولد علی الفطرة فأبواه یهودانه أو ینصرانه أو یمجسانه.»

ایتنیکي مجموعه یا په علمي اصطلاح ایتنوس په هره بڼه او د انکشاف په هره مرحله کي چې وي، خو یو تاریخي محدودیت ګڼل کیږي. دا محدودیت چې په عین حال کي یو تاریخي واقعیت هم تمثیلوي، د زوکړي له نېټې څخه په لساني، کلتوري او روحیاتي زمینه کي را پیل کیږي او د اجتماعي عادت له پخېدو سره د فطري طبیعت درجې ته ځان رسوي، ځکه دا خبره بې څه نه ده، چې وایي: عادت دوهم طبیعت دئ.

یو ایتنوس که چیري یوازي په کومه ګوښه کي وي او له بل ایتنوس سره په تماس کي نه وي راغلی، نو هلته نه ایتنیکي رابطه او نه هم ایتنیکي مسأله منځ ته را ځي. خو که دوه یا زیات ایتنوسونه د مهاجرتي، اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او داسي نورو عواملو تر جریان لاندي په یوه ارضي یا دولتي حوزه کي سره یو ځای کیږي، نو د دوی تر منځ د روابطو په جمله کي، چې د کلتوري تکامل له پلوه زیات مثبت اجتماعي اړخونه لري، د تضادونو یو شمېر منفي پدیدې هم را پیدا

کيږي. په دې اساس نو ايتنيکي مسأله يا پرابلم هغه تضاد دئ، چي د ايتنوسونو تر منځ د تماس په روابطو کي د عدم تجانس له تاريخي محدوديته څخه را پاځي؛ ځکه نو د دې پروسې مورينه په هغو توپيرونو کي ده، چي د تاريخي انتخاب تر حکم لاندي څوک تر مخ، څوک تر شا، څوک ډېر، څوک لږ، څوک يو راز، څوک بل راز، څوک يو چيري، څوک بل چيري د بېلابيل کميت او کيفيت په حساب د واحدي وطني حوزې په ملي ترکيب کي يو ځای سوي وي.

څه رنګه چي د ايتنوس محدوديت تاريخي دئ، نو د اجتماعي- اقتصادي انکشافه سره يو ځای د هغه بدلون هم حتمي ګڼل کيږي. له داسي بدلونونو سره نو د ايتنيکي مسألې نوعيت پر يوه قرار نه پاتيږي او د ايتنوسونو تر منځ په روابطو کي د تضاد د پديدې پر له پسې له يوه حاله بل حال ته اوړي. د دې متحرکي او متحولي مسألې د حل لاري چاري، چي په طبيعي، اجتماعي او سياسي زمينو کي تاريخي پروسې منځ ته راوړي دي، بايد د بېلابيلو مقولو په څېر مطالعه سي.

## طبيعي حل:

دا چي ايتنوسونه يو د بل سره د روابطو په شبکه کي کوم خصوصيات اخلي او يا کوم مميزات له لاسه ور کوي، زياتره د ايتنوسونو په کلتوري سابقه، د کلتوري رشد په درجه، د اجتماعي دريځ په کيفيت او د وګړو په کميت پوري ارتباط نيسي. خو دا چي په طبيعي توګه يو په بل کي جذبيږي او يا يو تر بل لاندي کيږي، د طبيعي حل يوه داسي عيني پروسه ده، چي خوښ ناخوښ په هر آن او هر زمان کي بې له توقفه په يوه يا بله بڼه جريان لري. د همدې حل په قانونمندی کي کېدلای سي، چي د اجتماعي او سياسي حل بنيادي اصول هم لاس ته را

سي. د دغو چارو د طبيعي قانونمندۍ اساسات د ایتنوګرافۍ یا ایتنولوجۍ په هغو مباحثو کي موندل کیږي، چي د ایتنوسو تر منځ د روابطو په برخه کي د متقابل اختلاط، ادغام، انحلال یا «کانسولیډېشن Consolidation» او «اسیمیلېشن Assimilation» پر طبیعي جریاناتو باندي رڼا اچوي.

بل پلو ته د طبیعي حل ډېر بدوي شکل هغه دئ، چي ایتنیکي توپیرونه یو د بل سره په ټکر کي را ځي او د تماس پروسه له منځه وړي. دغه شان حل چي د یوه یا بل ایتنوس په مهاجرت او بارېدو باندي پای ته رسیږي، د خلګو تر منځ د «اسیمیلېشن» هغه جریان قطع کوي، چي د اقتصادي، اجتماعي، کلتوري او تناسلي روابطو له لاري څخه تکامل کوي. دا حل چي په پخوانیو زمانو کي ئې زیات مثالونه تېر سوي دي، تر ننني ورځي لا هم حتی په مدني هیوادونو کي کله ناکله پېښیږي؛ خو په اوس زمانه کي چي د خلګو د ترکیب او اختلاط پروسه ډېره پرله اخښلې ده، نو دغه راز طبیعي حل خورا ناوړه عواقب او لاینحله لانجې منځ ته راوړلای سي.

## اجتماعي حل:

ایتنوسونه چي د یو شمېر طبیعي او تاریخي عواملو تر اغېزې لاندي د اقتصادي، اجتماعي، کلتوري او سیاسي انکشاف له پلوه بېلابیلي مرحلې او بېلابیلي درجې تمثیلوي او هم ئې د کمیت او کیفیت توپیرونه د ټولنیز چارپېریال له تاریخي نوعیته سره برابر د اجتماعي درجه‌بندۍ تر نفوذ لاندي د پاس او ټیټ خصلتونه اخلي، نو د ایتنیکي توپیر په رابطه کي ئې نور تفاوتونه هم تبارز کوي.

د وطني ترکيب په واحده حوزه کي د دغه شان توپيرونو او تفاوتونو مسأله، چي د ملت مسأله ده، په دوه ډوله ئې د حل امکانات اټکل کېدلای سي؛ يا دا چي د زيات اقتصادي رشد په نتيجه کي ټوله شامل ايتنوسونه د يو پرمختللي غالب کلتور په وجود کي تر کُلي توحيد لاندي را سي او د ايتنيکي محدوديت له هر ډول احساسه څخه په عيني او ذهني توګه ووځي، يا خو ئې د ټولنيزو روابطو په اوښتون کي ټولنيزي درجې داسي تغير وخوري، چي هر لوړ يا کښته ايتنوس له نورو سره په ځان کي د برابرۍ احساس وکړي او په همدې اساس ئې د مدني اسيميلېشن په کلتوري زمينه کي توپيري تضادونه له زوره ولوېږي. د ايتنيکي مسألې اجتماعي حل له ټولو تدبيرونو سره داسي ذهنيت ايجابوي، چي د هري درجې لوی يا کوچنی ايتنوس له بله يوه سره د تربيې له لاري په لوړ انساني ارزښت کي ځان شريک احساس کړي او له هغو عواملو سره په شعوري توګه مقابله وکړي، چي د ګډو منافعو موجوديت ئې په خطر کي اچوي.

د ايتنوسونو تر منځ د توپيري مسايلو اجتماعي حل خورا پېچلی او له ډېرو باريکو نزاکتو څخه ډک دئ. په دغسي حالت کي چي ايتنوسونه د خپل ايتنيکي رشد دپاره پر حرکت را ځي، نو زياتي اجتماعي او سياسي خبري هم ور سره تړلي دي. تر ټولو خطرناکه موضوع په دغه مرحله کي هغه ده، چي څوک د خپل ايتنيکي رشد په مخ کي له خنډونو سره مخامخ کيږي او يا په خپل مقابل کي د يو اجباري عامل احساس کوي. د ايتنيکي پرابلم اجتماعي حل، چي د هر شامل ايتنوس دپاره د يو عالي سياسي شعور ايجاب کوي، په هر ګام کي د هيجاناتو انفجار ته رسېدلای سي. په دې پروسه کي د لمسونو او تحريکاتو دپاره د

امکاناتو پراخه زمینه سته او کېدلای سي، چي د دوو افرادو تر منځ یوه شخصي لانجه خورا ژر په ستره ایتنیکي مسأله باندي واوړي. د اجتماعي حل په برخه کي پر نورو لارو چارو سربېره د فکري رشد، د قانوني ذهنیت، د برابرۍ د موازینو، د ډیموکراسۍ د بنیادي اصولو، اخلاقي سلوک او انساني ارزښتونو په مورد کي د روزني او ښووني پرله پسې سیاسي کار له جدي او مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي؛ خو په ټولو کي د منافعو د توازن او تعادل محاسبه، چي واقعي خصلت ولري، ډېر لوی نقش ادا کولای سي. زما په فکر د روان عصر په جاري شرایطو کي دا لازمه ده، چي د ایتنیکي مسألې د اجتماعي حل مقوله په تیوریک ډول د پوهانو له خوا څخه په مستقله توګه تدوین او موازین ئې په نړیواله سطحه کي تثبیت سي.

## سیاسي حل:

د ایتنوسونو تر منځ طبیعي او اجتماعي یو ځای کېدنه د دولتي تشکیل په حالت کي سیاسي اړخ پیدا کوي او په دولتي تجمع کي، چي زیاتره د ملي تجمع په نامه یادیږي، ټوله شامل ایتنوسونه د ګډو حقوقو او وظایفو په حساب یوه لوی سیاسي اشتراک ته رسیږي. په هره اندازه چي د دولت موسسه په اقتصادي، اجتماعي او سیاسي چارو کي دخل کوي، په همهغه اندازه د بېلابېلو ایتنوسونو له زیاتو غوښتنو او پوښتنو سره مخامخ کیږي. د ایتنوسو دغه شان مسایل چي د دولتي چارو په رابطه کي د دوی تر منځ را پیدا کیږي، ښایي د ایتنیکي- سیاسي مسألې په نامه وبلل سي، چي حل ئې له دولت سره اړه لري. د دولت موسسه که څه هم په تیورۍ کي د ټولو شاملو ایتنوسونو په نسبت خپل ځان لوړ ګڼلای سي،

اما په هغه واقعیت کې، چې د وګړو پر لاس ئې تمثیلوي، ضرور د مرکز او ولایت، د ښار او کلي، د اکثریت او اقلیت او د تاریخ د داسي نورو کمي او کیفي تفاوتونو له پلې څخه نه سي وتلای او چار و ناچار په یوه یا بله ایتنیکي پروسه کي طرف واقع کیږي. د ایتنیکي- سیاسي مسألې د حل دپاره دولتي چلند د قوانینو په عبارتونو کي تسجیل کیږي، خو دا چي قوانین په کومه اندازه د وګړو له خوا رعایت کیږي او خلګ څونه پر قوانینو باور او یا له هغو څخه لازمه استفاده کولای سي، یوه داسي خبره ده، چي له یوې خوا د ټولني په اجتماعي-اقتصادي رشد او له بلي خوا د دولتي موسسې په سیاسي ډیموکراټیک انکشاف پوري اړه پیدا کوي. که یوازي د قوانینو په الفاظو او کلماتو باندي د ژوند مسایل حل ته رسېدلای او یا په څو صوتي عباراتو باندي کومه ټولنه له ټیټ حالته څخه جګي درجې ته لوړېدلای، نو دا کار به د مترقي قوانینو د تدوین یا ترجمې له لاري په خورا آسانۍ سره سر ته رسېدلای سوای. په دې حساب نو تر څو پوري چي هر راز روابط تر ضوابطو غښتلي وي، تر هغو پوري ایتنیکي-سیاسي مسأله د حل په قانوني مجراء کي خپله سمه لار نه سي موندلای.

له ټولو خبرو سره هغه لاري چاري، چي یوه دولتي مؤسسه ئې د دې ډول مسایلو دپاره د حل په توګه په خپلو قوانینو کي تسجیلوي، د هغې په حوزه کي د ایتنیکي مسألې سیاسي نوعیت او تاریخي انکشاف؛ په تېره بیا په مقایسوي صورت ښه‌ترا څرګندولای سي. مثلاً زموږ د ۱۳۰۰ش. کال په «نظام‌نامه تشکیلات اساسیه» کي تر ۳۳ قاعدې لاندي د عدلیه وزیر د وظایفو په جمله کي داسي راغلي دي: «نظارت کردن بر اینکه در هیچ یکی از محکمه های عدلیه لحاظ قومیت و

جنسیت و دین و مذهب کرده نشود و بالمساوات فیصله احکام شرعی و سیاستی و تجارتی اجراء گردد.» (ش: ۲۱، م: ۱۴)

له پورتني متن څخه ښکاري، چي د قانون په وړاندي د مساوات او برابرۍ حقوقي اصل د بېلابېلو قومي، ديني او مذهبي ايتنوسونو په نسبت تثبيت سوی دئ. خو له دغي نېټې څخه اووه لسيزي وروسته، چي په نړيواله سويه په سياسي ادبياتو کي د ايتنيکي روابطو په نسبت نوي مقولې منځ ته راغلي دي او هم زموږ په وطني ترکيب کي د ايتنوسو تر منځ د روابطو ګڼې پديدې د انکشاف له پلوه له يوه حاله بل ته اوښتي دي، نو ځکه د ١٣٦٩ش. کال د اساسي قانون په متن کي د ايتنيکي مسايلو په نسبت په زيات تفصيل داسي موازين تسجيل سوي دي، چي: «جمهوری افغانستان کشور کثیرالملیت است. دولت سیاست رشد همه جانبه تفاهم، دوستی و همکاری همه ملیتها، اقوام و قبایل کشور را به منظور تامین برابری سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، رشد و انکشاف سریعتر مناطق عقب‌مانده از لحاظ اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی تعقیب می کند.

دولت زمینه ایجاد واحدهای اداری را بر مبنای خصوصیات ملی به تدریج مهیا می‌سازد.

دولت به منظور رشد فرهنگ، زبان و ادبیات مردم، تدابیر لازم اتخاذ کرده، میراث شایسته فرهنگ، رسوم، زبان، ادبیات و فلکلور تمام ملت‌ها، اقوام و قبایل را حفظ نموده، انکشاف می‌دهد.» (ش: ۲۲، م: ۴)

شک نه سته، چي دولتي قوانین تر هغه ځایه چي د خپلي حوزې د واقعي جریاناتو سره اړه لري او د اقتباس برخه ئې محدوده وي، نو په تاریخي لحاظ په یوه وطني حوزه کي د ایتنیکي مسایلو نوعیت انعکاسولای سي. لاکن د حل په برخه کي ئې ویل کېدلای سي، چي صرف د نورو قوانینو په څېر یا په جامعه کي د قانوني ذهنیت د نه حاکمیت په اندازه پوره عملي او تطبیقي جنبه و نه لري.

ایتنیکي پرابلم چي د ایتنوسونو تر منځ د متضادو یا نامتوازنو روابطو په ساحه کي را پیدا کیږي، هم عمومي خواوي او هم په یوه یا بل ځای کي ټاکلي ځانګړتیاوي لري. په دې فهرست کي د عدم‌تجانس یا توپیر له روحیاتي پدیدې څخه را نیولې بیا تر کلتوري، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، حقوقي، لساني، ایډیالوجیکي، احصائیوي، ارضي او داسي نورو پدیدو پوري رنګارنګ مسایل را کښېوزي. د حل د تلاښ په وخت کي ئې تر هر څه دمخه د مسألې د نوعیت خبره مهمه ګڼله کیږي.

ایتنیکي مسأله په مجموع کي د ایتنوسونو له دریځه څخه د خپلو منافعو د لاس ته راوړني یا ساتني مسأله، د دولتي واکمنۍ له پلوه د حقوقو او وظایفو د توازن یا تعادل مسأله، خو د ملت د تشکل لوري ته د ایتنوسونو د ملي توحید او انکشاف مسأله ګڼل کیږي.

# د ملي او ایتنیکي مسألې په حل کې ځیني آزموینې

زموږ په سیمه کې چې ګڼ شمېر قومونه او اولسونه د پرله پسې ګډېدو او خپرېدو له لارې د اوږدې تاریخي سابقې په شبکه کې منځ ته راغلي دي او پر ایتنیکي توپیرونو سربېره ئې خال خال ځیني جینیټیکي تفاوتونه هم دلته هلته لیدل کېدلای سي، د ملي یا ایتنیکي هویتونو له پلوه ئې په بېلابیلو ټولنیزو درجه‌بندیو کې د خپل ژوند د پایښت او پرورښت سرې او تودې دورې تېرې کړې دي.

که په کُلي توګه د فرماسیوني جوړښت د قانونمندۍ په رڼا کې دغه شان مسایل تر عمومي تصور لاندې راولو، نو داسې ګڼلای سو، چې د کموني نظام په دوره کې ایتنیکي غونډې تضادونه یا ټکرونه د هر اړخیزه ادغام له لارې حل ته رسېده او د مرئیتوب یا فیوډالیزم په جوړښت کې بیا د خپل وخت له طبقاتي موازینو سره سم د بادار او مریي یا د خاوند او بنده تر عناوینو لاندې د حاکمیت او محکومیت پر اساس حل کېدله.

خو په سیمه کې د همدې پروسې د حل مشخصې بېلګې او د نوعیت څرګندې نمونې د اسلامي تاریخ په جریاناتو کې په روښانه توګه انعکاس سوي دي. هغه قرآن نص، چې وایي: «و جعلناکم شعوبا و قبائلا لتعارفوا و لکن اکرمکم عندالله اتقاکم» د داسې ټولنیزو توپیرونو او همدې اساس له تضادونو څخه پوره حکایت کوي، چې باید د اسلامي حکمه سره سم د تقوی او پرهېزګارۍ له لارې د مذهبي او اعتقادي توحید په تلقیني ذهنیت باندې حل سي. بله مهمه قرآني ښوونه، چې وایي: «انما المؤمنون اخوة» د هغه کلي وحدت اساس ایږدي، چې بېلابېل قومونه یا ایتنوسونه د وروګلوۍ داسې اعتقادي یووالي ته را کښېباسي، چې د اسلامي

دین ډېره مؤثره تاریخي مشخصه ګڼل سوې ده. د دغه شان اساسي مدارکو په استناد ځیني کسان په دې عقیده دي، چي اسلامي اصول قومیت یا په عربي اصطلاح «عصبیت» نه مني.

په اسلامي حوزه کي دننه چي بیا کله ناکله د ملتونو یا ایتنوسو تر منځ ځیني شخړي را پورته سوي دي، نو د یوې او بلي خوا دپاره ئې دا ایجاب کړې ده، چي خپل تر منځ توپیرونه په دیني توپیر باندي تعبیر کړي او حریفان یو پر بل باندي د تکفیر په حکم سره ځان ته د حل داسي لاره خلاصه کړي، چي د جګړې په جریان کي یا غازي او یا جنتي سي.

په کلي توګه د داسي مسایلو په حل کي دوې لاري ازمویل سوي دي؛ یا دا چي یو ایتنوس د اسلامي دین په منلو سره د مسلمانۍ کلتوري خصوصیات واخلي او د خپل هویت په پرېښوولو سره د خپل محل د یوې مسلماني ټولۍ غړي سي؛ یا دا چي د جزیې (ججې) په ور کولو سره د تابعیت په حالت کي خپل هویت وساتي.

د هغه عیني جریان دقیقه کتنه په کار ده، چي د مسلمانۍ د غوړېدو او خپرېدو په پیاوړي تحریک کي، چي د نظامي او سیاسي قدرت له پلوه د ترغیب او ترهیب اغېزمن وسایل هم ور سره وه او د سیمي زیات ایتنوسونه ئې د مادي او معنوي خصوصیاتو له پلوه د یوه ملت یا امت تر درجې پوري هم توحید کړه او د وګړو د نومو کلتور ئې تر عربي ثقافت لاندي را وست او د ګڼو ژبو په وجود کي ئې عربي عناصر په غټ کمیت او کیفیت ور دننه کړل، خو بیا هم له دې ټوله هر اړخیزه نفوذه سره زیات شمېر ایتنوسونه له خپلو ژبو او کلتورونو یا د خپلو

تاریخي توپیرونو له پایښته سره له دغه اختیاري یا اجباري اسیمیلېشن څخه د خپل ایتنیکي هویت په حساب روغ رمټ او ژوندي را ووته.

هغه پرله پسې ایډیالوجیکي لارښووني او هم عملي ازمویني، چې زیات مثالونه ئې یو او بل وخت د اسلامي احکامو او اقوالو په آثارو او روایاتو کې ثبت سوي دي او ټوله دې هدف ته متوجه دي، چې غواړي ملي یا ایتنیکي هویت په اجتماعي ذهنیت کې له تاثیره څخه واچوي، په خپله د هغو توپیرونو یا تضادونو موجودیت را ښیي، چې البته په عملي زمینه کې د اعتقادي توحید جریانونه ځني متاثر کیږي.

د واقعي تاریخ له مخې بیا کله چې عرب د را خپرېدو په جریان کې وار د واره له فارسیانو سره مخامخ سول، نو له دوی سره ئې خپل ایتنیکي توپیر د یو طبیعي غوندي عکس العمل په څېر په هغه نامه کې څرګند کړ، چې «عجم» ئې وبلل. د «عجم» کلمه د «ګونګې» یا «په ژبه کې د بندېدو» په معنا ده او څه رنګه چې عرب د فارسیانو په ژبه نه پوهېده، نو ئې دا د ځان حق وباله، چې د ګونګیانو نوم پر دوی باندې کښېږدي. په وروسته کې د «عجم» نوم د عربو له خوا څخه هر هغه چا ته ور کول سو، چې له عربي قومیته څخه دباندې وو. د عرب او عجم تر منځ که څه هم د مساوات او برابرۍ زیاتې سپارښتنې او شعارې څرګندوني منځ ته راغلي دي او یا ئې د ایتنیکي توپیر او تفاوت پر تضاد باندې د اخلاقي حل اوراد ویل سوي دي، خو د عربي سلطې په تاریخي ذهنیت کې تر دې ګړۍ پورې لا هم د بشپړې برابرۍ درجې ته نه دي رسېدلې.

د فقه اسلامي تعليماتو چي د مريي او مېنځې د آزادۍ دپاره ډېري لاري او چاري وړاندي کړي دي، خو د ايتنوسونو تر منځ ئې د سيال يا کفو لاندي باندي مراتب، چي د فيوډالي دورې د کاست ا و فرقې له ټولنيزي درجه‌بندۍ څخه نمايندګي کوي، په خپل حقوقي سيستم کي ځای کړي او په ثبت رسولي دي. له دغه شان مدارکو څخه هم د مسائلو او هم د هغو د حل نوعيت په تاريخي پروسه کي پوره استنباط کېدلای سي.

په دې پسې د ملي او ايتنيکي توپيرونو د حل دپاره هغه نړيواله دوره را رسيږي، چي د سرمايه‌داري فرماسيون په دوران کي خپل ماهيت پوره ښکاره کوي. «مارکس» چي په ۱۸۴۸م. کال کي دغه پروسه فورمول‌بندي کوي، نو په خپل تحليل کي داسي وايي: «د بورژوازۍ د انکشاف، د سوداګرۍ د آزادۍ، د نړيوال بازار د را پيدا کېدو، د توليد په طرز او هم له هغه سره سم د ژوند په شرايطو کي د توحيد په سبب، د اولسونو تر منځ ملي توپيرونه او دښمنۍ ورځ په ورځ غائبيږي.» (ش: ۲۳، م: ۵۱)

دی زياتوي، چي: «بورژوازۍ د توليد د ټولو افزارونو د چټکي سمبالتيا او په مواصلاتي وسايلو کي د خورا زياتي آسانتيا په وسيله ټوله ملتونه؛ حتی هغه لا هم چي زيات بربري وي، تمدن ته را کشوي. د مالونو ارزانه قيمتونه ئې هغه درنه توپخانه ده، چي د چين ديوالونه په نړوي او هم په دې وسيله د بربريانو هغه ډېر سرسخته نفرت تسليم ته مجبوروي، چي د خارجيانو په وړاندي ئې ښکاره کوي. ټوله ملتونه دې ته اړ باسي، چي د ځان د نابودېدو په زغلمو سره د توليد بورژوازي طرز غوره کړي.» (ش: ۲۳، م: ۳۸)

دا خبره له شکه وتلې ده، چې د کاپيټاليزم هر اړخيزه نفوذ د نړۍ په ځينو بيرته پاته سيمو کې ايتنيکې توپيرونه او له هغو څخه را پاڅېدلي تضادونه په کُلي نفي سره د سياسي، اجتماعي او اقتصادي فشار تر اجباري پروسې لاندې له منځه واخيسته. اما هغه ملي يا قومي مقاومتونه، چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له دې پراختيا سره مخامخ کېده، دا ئې ايجاب کړه، چې د نونسمي پېړۍ په منځنيو برخو کې د بېلابيلو ايتنوسونو د پېژندني او پوهني ضرورت د استعماري قواوو په وړاندې د ايتنوګرافۍ يا ايتنولوجۍ په نامه يو شمېر مسايل مطرح کړي.

ملي او ايتنيکې مسايل چې همدا زمانه د سياسي جرياناتو په اجنډا کې شامل سوي وه، نو ځکه له هره نهضته څخه ئې دا غوښته، چې د حل نسخه ئې په خپل پروګرام کې ابلاغ کړي. «مارکس» چې په دې وخت کې د نړۍ ټوله جريانات د طبقاتي تعميم په دوو مقولو کې د بورژوا او پرولتاري طبقې تر نومو لاندې تحليلوله، نو ئې د ټولي نړۍ د خواريکښو د يووالي دپاره د «پرولتاري انترناسيوناليزم» هغه نسخه وړاندې کړه، چې بايد د ملتونو او ايتنوسو تر منځ توپيرونه په دغه شان طبقاتي توحيد کې د تضادونو خصلت له لاسه ور کړي. د هغې کارګري اتحاديې په افتتاحيه وينا کې، چې د بېلابيلو ملتونو او ايتنوسونو خواريکښان ئې را ټول کړي وه او په ۱۸۶۴م. کال کې ئې د لومړي انترناسونال په نامه جوړه کړه، مارکس د نړيوال سياست په پيچومو کې پرولتاري پرګنې ته خپله طبقاتي لاره داسي وښووله: «که د زيارکښو طبقاتو آزادي دا ايجابوي، چې بايد د دوی تر منځ د ورورګلوۍ يووالی موجود وي، نو په دې صورت کې څرنګه کولای سي، چې دوی دغه ستر رسالت د يوې هغسي خارجي پاليسۍ له

لاري سر ته ورسوي، چي له جنايته ډکي طرحي تعقيبوي او له ملي تعصباتو څخه کار اخلي او د خلکو وينه او ثروت د لوټماری په جګړو کي نابودی ته سپاري؟... زيارکښو طبقاتو ته اروپايي جرياناتو دا وظيفه ور ښوولې ده، چي بايد په خپله د نړيوال سياست په چارو کي د پوهي خاوندان سي او د خپلو مربوطو حکومتونو ډيپلوماټيک عملونه وڅاري. که چيري لازمه سي، نو په خپل ټوله قدرت بايد هغه بې‌اثره کړي، خو کله چي ئې مخه نه سي نيولای، نو بايد په يوه سلا ئې وغندي او د اخلاقو او عدالت هغه ساده قوانين، چي بايد د ځانګړو افرادو تر منځ مناسبات اداره کړي، د ملتونو تر منځ د روابطو د عالي اصولو په توګه تائيد او تثبيت کړي. (ش: ۲۳، م: ۳۸۴- ۳۸۵)

ځيني کسان چي صرف انتروپولوجيک فکر کوي او يا خو پر مجرد انساني فطرت باندي خپل ذهني حکمونه بناء کوي او خپل تصوري انسان په ځانګړي ډول له ټولني څخه را تجريدوي او د هغه په وجود کي اخښلي او ټينګ سوي ټولنيز روابط او تاريخي خصوصيات له پامه څخه اچوي، نو عموماً د ملي يا ايتنيکي مسألې په مورد کي په علمي او سياسي اشتباهاتو باندي اخته کيږي. بايد وويل سي، چي د مارکس په زمانه کي دغه راز اشتباهات د «پرودن» او «شترنر» په عقايدو کي موجود وه، چي زياتره به د مارکس له خوا څخه تر انتقاد لاندي راتله، خو کله چي د مارکسيستي ايډيالوجی مخکښانو د نړيوال پرولتاري انترناسيوناليزم پر طبقاتي شعار باندي د ټولي نړی د بېلابيلو ملتونو او ايتنوسونو زيارکښان را بلله، نو يو شمېر خلکو داسي انتباه ځني اخيسته، چي مارکسيزم ملي مسأله هيڅ په نظر کي نه نيسي او له دې مهم او موجود تاريخي فاکت څخه پام

اړوي. لینن د خپلو مبارزو په دوران کي دغه خبره داسي سپینه کړې ده: «مارکس په دې کي شک نه درلودی، چي ملي مسأله د کارګري مسألې په پرتله ثانوي اهمیت لري، خو د ده تیوري له دې دریځه څخه، چي تر ملي مسألې پام واړوي، دونه لیري ده، لکه مځکه او آسمان.» (ش: ۲۴، م: ۳۳۱)

د همدې خبرو په تائید کي چي مارکسیزم د زیارکښو د طبقاتي وحدت په بلنه کي د هغو ملي یا ایتنیکي هویت له حسابه څخه نه دئ اچولی، هغه لیک ډېر څرګند مطالب لري، چي مارکس په ۱۸۶۶م. کال کي اینګلس ته داسي لیکلي دي: «پرون د کارګرو د نړیوالي اتحادیې په شورا کي د اوسنۍ جګړې پر موضوع خبري رواني وې. دا مسأله وختي لا اعلان سوې وه او زموږ په کوټه کي ډېر وګړي کوترم وه. د ایټالیې منځنیو قشرونو هم خپل نمایندګان هلته را لېږلي وه. دا خبري لکه څنګه چي اټکل کېدی، دې خوا ته کشاله سوې، چي باید په عمومي توګه «د ملیت مسأله» او هغه چلند، چي موږ ئې د دې مسألې په وړاندي لرو، زموږ مباحثاتو ته را کښېباسي. موضوع تر بلي سه‌شنبې پوري ټال سوه.

فرانسویان چي په زیات شمېر هلته راغلي وه، خپله صمیمانه کرکه ئې د ایټالویانو په مقابل کي څرګنده کړه.

سربېره پر دې «د ځواني فرانسې» (د غیرکارګري) سازمان نمایندګانو دا خبره اعلان کړه، چي ټوله ملیتونه او حتی اولسونه «زاړه تعصبات» دي. دوی د «پرودن» د نظریاتو په اساس د «شترنر» د مکتب نمایندګي کوله. د دوی په فکر باید ټوله خلګ په «وړو ټولیو» یا «کمونو» باندي واوړي او دا ټولۍ یا کمونونه بیا په خپل روڼ «اتحادیې» جوړي کړي، اما هغه د دولت په بڼه باندي نه وي. د بشري ټولني

دغه راز ځانګړیتوب او ور سره یو ځای متقابله همکاري باید تر هغه وخته ادامه ولري، چې په ټولو نورو هیوادو کې د تاریخ جریان توقف وکړي او ټوله نړۍ تر هغو په انتظار کې کښیني، څو چې فرانسویان د یوه ټولنیز انقلاب د پوخوالي پړاو ته رسیږي. بیا به نو فرانسویان خپله ازموینه په موږ وویني او ټوله پاته نړۍ به د دوی د مثالي نمونې قوې ته تسلیم سي او خپله سمه لاره به واخلي.

دا کټ مټ هغسې خبره ده، لکه «فوریه» چې ئې د خپلې مثالي ټولنې له موډله څخه انتظار درلودی. په هر حال هر څوک چې د زړې دنیا په «خرافاتو» سره د «اجتماعي» مسألې اشکالات زیاتوي، هغه «مرتجع» دئ.

انګلیسانو هغه وخت خورا ډېر وخندل، کله چې ما خپله بیانیه په دې خبره را پیل کړه، چې زموږ ملګری «لافارک» او نور دوستان چې ملي هویتونه ئې لغوه کړي دي، په «فرانسوي» یعني په هغه ژبه موږ ته وګړېدی، چې د حاضرینو له جملې څخه په لس کې نهه برخې نه په پوهیږي. بیا مي نو په کنائي توګه دا هم وویل، چې «لافارک» داسي ښکاري، چې بالکل په ناآګاهانه صورت ئې د ملي هویتونو له نفي کېدو څخه منظور دا دئ، چې ټوله اولسونه د فرانسوي ملت له خوا څخه واپیلل (بلع) سي.» (ش: ۲۵، م: ۲۱۶-۲۱۷)

په دې حکیمانه څرګندونو کې مارکس پر نورو خبرو سربېره د ژبې مسأله، چې د ملي یا ایتنیکي مسألې یوه عنصري موضوع جوړوي، په خورا صراحت روښانه کوي او پر داسي حل هم خلګ خندوي، چې غواړي یو قوم په بل قوم باندي وخوري.

د انټرناسیونال یا لومړي بین الملل په نامه نړیوال کارګري تنظیم، چې مارکس د طبقاتي ایډیالیوجۍ په اساس منځ ته راوړی وو، تر شپږو یا اوو کالو وروسته ئې هغه تیپ انشعابو ته مخه ونیوله، چې زیاتره مثالونه ئې د کمونیستي ګوندونو په تاریخ کي لیدل کیږي. د «باکونین» انشعابي ډله چې دغه کارګري اتحادیه ئې تر ړنګېدو پوري ورسوله، د خپلو نورو سپکو سپورو په جمله کي ئې داسي ایتنیکي مسألې هم را سربېره کړې، چې د دې اتحادیې په عمومي شورا کي د المانیانو او په تېره بیا د مارکس دیکتاتوري چلیږي.

له دغي نېټې را په هیسته چې هر څه کارګري سازمانونه یا ګوندونه را پیدا سوي دي، نو د طبقاتي انټرناسیونالیزم له ټولو روابطو او پیوندو سره ئې خپل ملي هویتونه هم ساتلي او هم په ټینګه پاللي دي. له دې څخه دا نتیجه را وځي، چې طبقاتي صف‌بندي تر ډېره ځایه ایډیالوجیکي خصلت لري، خو ملي یا ایتنیکي محدودیتونه د تاریخ د عیني پروسې د قانونمندۍ تابع دي.

د همدې پروسې یو بل مثال «ستالین» په خپله لیکنه داسي تصویر کړی دئ: «په روسیه کي د ضدِ انقلاب دوران نه یوازي «تنا او بربېښنا» له ځانه سره راوړه، بلکي همدا رنګه ئې د هغه وخت د غورځنګ په ارتباط تخیلي امیدونه په ناامیدۍ بدل کړل او د ګډو ځواکونو په نسبت ئې ناباوري منځ ته را وستل. تر کومه وخته چې خلګو «یوې ځلانده راتلونکي» ته عقیده درلوده، نو ئې د ملي هویت له توپیره پرته تر هر څه لومړی او تر هر څه دمخه د ګډو او عمومي مسایلو دپاره څنګ پر څنګ مبارزه کوله. خو کله چې بدګماني د خلګو زړو ته ننوته، نو ئې یو له بله څخه بېلېدو ته مخه سوه او هر چا خپلي ملي کړدۍ ته پناه وړله، څو هر یو

وکولای سي، چي پر خپل ځان حساب وکړي! «ملي مسأله» نو تر هر څه لومړی او تر څه دمخه سوه!» (ش: ۱۵، م: ۷)

د دې راز مسایلو په حل کي د آزموینو ډېره مهمه دوره هغه ده، چي د رواني پېړۍ په دوهمه لسیزه کي د اکتوبر له انقلابه سره را پیل سوه او پروسه ئې تر اوسه پوري د شوروي په خاوره کي ادامه لري. په ۱۹۲۲م. کال کي چي د «آبزرور» د جریدې نماینده د ملي مسألې د حل په باره کي له لینن څخه پوښتنه کوي، نو هغه ئې په جواب کي داسي وایي: «د ملي مسألې په حل کي زموږ پنځه کلنه تجربه، چي هغه په داسي هیواد کي سر ته رسېدلې ده، چي دونه زیات شمېر ملیتونه پکښي مېشته دي، چي په کوم بل هیواد کي ئې ساری نه سي پیدا کېدلای؛ موږ ته بالکل دا عقیده را کوي، چي په دغسي شرایطو کي د ملتونو د ګټو په نسبت یوازنۍ صحیح چلند همدغه دئ، چي دا ګټي په بشپړه توګه تامین سي او داسي شرایط برابر سي، چي په دې برخه کي د شخړو هر راز امکانات له منځه یوسي.» (ش: ۲۶، م: ۱۸۱)

د شوروي اتحاد په لویه سیاسي تجمع کي چي ګڼ شمېر ملتونه او خورا زیات ایتنوسونه ئې په خپله غېږ کي را ټول کړي دي، د ملي او ایتنیکي مسایلو له بابته ئې ټوله نوي او زړې پدیدې په دې ارزي، چي په زیات دقت وڅېړل سي او په هغو کي د همدې راز جریاناتو په باب د علمي قانونمندیو بنیادي اصول وموندل سي.

دا موضوع چي د مارکسیزم د تیوریکي او سازماني جریاناتو په دوره کي را سربېره کېږي او د اکتوبر له انقلابه سره د لیننیزم په ګوندي او دولتي پالیسیو کي د

پراکتیک مرحلې ته داخلیږي، نو یو زیات شمېر اړخونه پیدا کوي، چې باید تر بېلابېلو عناوینو لاندې مطالعه سي.

## تبلیغاتي اړخ:

هغه تبلیغات چې تقریباً اویا کاله سابقه لري او تر پرونه ئې ادامه درلوده، ټوله په دې سبک وه، چې هر راز ملي او ایتنیکي مسألې په شوروي اتحاد کي حل سوي دي او د حل تیاري نسخې ئې د ځو ملتیزو یا ځو توکمیزو دولتونو دپاره هم سم کار ور کولای سي. د مثال په توګه «روستي سلاو اولیانوفسکي» چې په ۱۹۷۶م. کال کي د ملي مسألې د حل په ارتباط د شوروي اتحاد د بریمني تاریخي ازمویني سپارښتنه کوي، نو د دې حل عمده اصول، چې یو انکشافي او بشپړتیایي پړاوونه ئې وهلي دي، په مشخصه توګه داسي تبلیغوي: «انکشافِ کلتور و زبان ملی، جلب نمایندگان تمام ملت ها و ملیت ها در دستگاه دولتی در مرکز و محلات، دموکراسی ساختن سیستم سیاسی، تامین ارتقای تدریجی و هم سطح ساختن زندگی کلتوری- اقتصادی مردمان نه تنها به شکل رسمی، بلکه به شکل حقیقی، اینست طرق اتحاد شوروی، که به تجربه امتحان گردیده و قادر است تا شرائط مساعد را برای حل مسأله ملی در هر کشور شرق به وجود آرد.» (ش: ۲۷، م: ۱۶۳)

دغه شان ژورنالیستي تبلیغات چې البته د شوروي په تقنیني او عملي متونو کي هم خپرېده، تر ډېره ځایه ئې د دې پروسې واقعي او عیني حالات له نظره ښخه پټ ساتله. خو په هر حال د همدې راز تبلیغاتو ماهیت د هغو جریاناتو له مخې ښخه تر یوې اندازې پوري افشاء کېدی، چې وخت ناوخته به دغه حل سوي

ملي مسايل بيا او بيا په ګوندي اسنادو او دولتي قوانينو کي په تکرار سره تسجيل کېدل او د ناحله مسألې په څېر به د هغې په باب د برابرۍ او برادرۍ شعارونه او نصيحتونه خپرېدل.

لکه څنګه چي پخواني ژورناليزم له سياسي ايجاباتو سره سم په دې برخه کي مثبتي مبالغې وړاندي کولې، خو نني ژورناليزم بيا دا لاره خپله کړې ده، چي ټوله سابقه له يوه مخه د اشتباهاتو په نامه باندي نفي کړي او له دې سره هغه واقعي ارزښتونه هم له حسابه څخه واچوي، چي د شوروي ټولني په لوی تاريخي لابراتوار کي د ټولنيزو مسايلو د حل دپاره تر سره سوي دي. د دې دپاره چي د شوروي له ازموينو څخه علمي زده کړه وسي، نو په کار ده، چي هلته واقعي اړخ هم تر مطالعې لاندي را سي.

## واقعي اړخ:

که هغه ټوله مرامي، سياسي، حقوقي، طبقاتي او تبليغاتي ادبيات له حسابه څخه واچوو، چي د ملي او ايتنيکي مسايلو د حل په نامه د عدالت، مساوات، برابرۍ او برادرۍ تر عمومي کلماتو لاندي د شوروي په اويا کلنه سوسياليستي دوره کي ترويج سوي دي، خو داسي واقعيتونه کورته له نظره نه سي لوېدلای، چي هلته د اکتوبر د انقلاب له سره څخه بيا تر اوسه د ملي او ايتنيکي مناسباتو په ساحه کي د کلتوري د مادي او معنوي جرياناتو له رشده سره نوي کيفي خصوصيات منځ ته راغلي دي. په هغه هيواد کي د سواد پروسه په ربنتينې توګه تر هره ګوټه پوري رسېدلې ده او د عصر د مدني کلتور وسايل او وسايط هم د هر قوم او اولس په واک کي لږ يا ډېر ايښوول سوي دي. په ملي او ايتنيکي روابطو کي

ټولنیزي روایتي درجه‌بندۍ خورا زیات تغیر خوړلی دئ او د ایکسوګامي دپاره نړیواله زمینه مساعده سوې ده.

په دې جریان کي د اختلاط یا انحلال ځیني پدیدې هم منځ ته راغلي دي؛ دوه کاله وړاندي ما د لیننګراد د اکاډیمۍ له یو علمي کارمند څخه واورېده، چي تر انقلاب دمخه په داغستان کي دیارلس قومونه یا ایتنیکي هویتونه وه، خو اوس هلته صرف پنځه توکمونه لا پر خپل زاړه هویت باندي پاته دي او نور ئې د ادغام له لاري څخه منحل سوي دي.

هغه پیوستون یا ګډېدنه چي په شوروي اتحاد کي د بېلابیلو قومي هویتونو تر منځ را پیدا سوې ده، د شوروي پوهانو له خوا څخه «د ایتنوسونو تر منځ توحید[٢٠]» په اصطلاح سره افاده کیږي.

له داسي ټولو مثبتو واقعیتونو سره یو شمېر منفي پدیدې هم هلته را زېږېدلي دي، چي د تیوریکي هیلو او ارمانونو سره په تضاد کي لیدل کیږي. څه رنګه چي د شوروي د لوی ملت د جوړښت دپاره یوه مشترکه ژبه ضروري ګڼل کېده، نو د تاریخي انتخاب په حکم یوازي روسي ژبه په داسي دریځ کي وه، چي باید د بېلابیلو ایتنوسونو او ملتونو تر منځ د پیوستون او رابطې وسیله سي، خو روسي ژبه چي د روسي ایتنوس سره تړلې وه، نو د دې ژبي غوړېده او خپرېده د هم‌هغه ایتنوس د غوړېدو او خپرېدو دپاره د غلبې زمینه برابروله. په مرامي او حقوقي ادبیاتو کي که څه هم د روسي کولو پروسه هیڅ چیري نه ده تسجیل سوې، اما

---

[٢٠] Interethnic integration

په واقعیت کي له ټولو شعارو سره بیا هم دغه انکشاف ادامه درلوده. ځیني واړه ایتنوسونه د خپل موقعیت او منفعت په حساب دې ته چمتو وه، چي د انحلال پروسه بېتکلیفه د ځان دپاره ومني، خو ځیني نور بیا چي له خپلي ټینګي تاریخي سابقې سره ئې اړیکي نه سوای شلولای، نو د مدني رشد او سیاسي ذهنیت له ودي سره د قومي مقاومت په جبهه کي ودرېدل. د دغه جبر نتیجه ئې وبولئ، چي نن د تېر وخت د سیاسي ادبیاتو پر خلاف د پوهانو نظریات بلي خوا ته اوښتي دي؛ ځکه نو اکاډیمیسن موسیٰیف په ۱۹۹۰م. کال کي لیکي: «د دې پر ځای چي ملي توحید تحمیل سي، ښه دا دئ چي موږ باید د توحید تمایلاتو څخه داسي کار واخلو، چي متقابله ګټوره همکاري ټینګه سي او څنګ پر څنګ په مدني توګه ژوند وکړو.» (ش: ۲۹، م: ۱۱۴)

په شوروي کي د نن ورځي ملي او قومي شخړي یا د دوی د رشد تضادونه چي نوي جهتونه ئې هم پیدا کړي دي، له هغو عیني واقعیتونو څخه ریښې اخلي، چي د شعارونو له ادبیاتو څخه فاصله لري.

مارکس چي کله د بورژوا طبقې پر توحیدي نقش باندي داسي حساب کاوه، چي ټول ملي توپیرونه او محلي انزواګاني له منځه وړي، نو د پرولتاري طبقې له غلبې څخه ئې دا هیله درلوده، چي د وګړو داسي توپیرونه به نور هم په بېړه له منځه واخلي. (ش: ۲۳، م: ۵۱)

خو نن پرون چي د پرولتاري شعارو له غلبې سره دغه راز مسایلو نور هم شدت واخیستی، نو یا خبره داسي ده، چي تر دې ګړي پوري د پرولتاري طبقې حاکمیت چیري نه دئ ټینګ سوی او یا داسي ده، چي هر چیري پرولتاره طبقه

د سلطې او غلبې مقام ته رسېدلې ده، نو له لومړۍ شېبې څخه نور په دغه نامه باندې نه سي بلل کېدلای؛ ځکه هغه نسبت یا خاصیت سمدستي له لاسه ور کوي، چې له دې څخه پرولتاره جوړوي. په دې حساب نو له علمي سوسیالیزم څخه هم تخیلي سوسیالیزم جوړیږي.

د اقتصادي جوړښت له مخې د اجتماعي مسایلو په حل کې کاپیټالیزم ځکه یو منلی نقش لوبولی دئ، چې د هغه په ساحه کې د کار د تقسیم له خپرېدونکي انکشافه سره د وګړو او قومونو تر منځ د تبادلې بې‌ساری انکشاف چې په ټولنیزه تانسته کې ستر نقش لوبوي، هم ترلی دئ او په دې وسیله یو د بل سره د خلګو د اقتصادي پیوند او تماس اړتیا هغه توپیرونه تر ډېره حده ختنثی کوي، چې د ملي پرابلمونو یا ایتنیکي مسایلو مورینه ځني جوړیږي. اما د سوسیالیستي اقتصاد په تجربه کې چې د افرادو تر منځ د خصوصي تبادلې ضرورت نفي کوي، نو ځکه هر څوک له هر چا څخه مستغني کیږي او د خپلې استغنا په ځالي کې د توپیرونو او تضادونو هګۍ شاربلای سي.

## د مناقشې اړخ:

په شوروي کې د تولید د سوسیالیستي نظام له راتلو سره، چې د کاپیټالیزم د نفوذ مخه ونیول سوه، نو د دوی تر منځ د تضاد په پروسه کې د مناقشاتو او مباحثاتو کشالې هم تودې سوې. د سوسیالیستي نظام په هغو ښېګڼو کې چې تولید ئې د ټولني اړتیا ته له پلانه سره سم جواب ویلای سي او یا په ټولنه کې ئې بېکاري درک نه لري، دا فقره هم شامله وه، چې هلته د ملي ترکیب ټوله مسایل په بنیادي توګه واقعي حل رسېدلي دي. خو د کاپیټالیستي هیوادو سیاسي او علمي

کارمندانو، چي د دې نوي نظام پروسه څارله او د هغه شعارو سره ئې ایډیالوجیکي مبارزه مخ ته وړله، نو د ملي او ایتنیکي مسألې په باره کي ئې هم کله ناکله رشتیا او درواغ پسي ویله. په لوېدیځ کي شوروي پېژندونکو که څه هم له ډېره وخته هغو قومي او ملي تضادونو ته خپل پام اړولی وو، چي د شوروي په ټولنه کي ئې طبیعي واقعیت درلودی، اما د دوی بیانونه خلګو یوازي د تبلیغاتو په څېر ګڼله او باور ئې نه په کاوه.

په وروستیو کلونو کي چي شوروي ټولنه له خپلو ښو او بدو سره د نړیوالو پر مخ پرانیستل کېده، نو په ۱۹۷۰م. کال کي د شوروي پېژندونکو له خوا په امریکا کي یو ګروپ «د شوروي د ملیتو د پرابلمونو» موضوع ځان ته وټاکله او اویایم کلونه ئې د همدې موضوع په باره کي د څېړني لسیزه اعلان کړه.

د «بګراموف» په نامه شوروي لیکوال، چي په ۱۹۸۸م. کال کي د لوېدیځو شوروي پېژندونکو نظریات تردیدوي، نو په دې نامه باندي یو وړوکی کتاب خپروي، چي «د ملیتونو په باب د کمونیستي ګوند د سیاست په باره کي رشتیا او دواغ» نومیږي. (ش: ۲۸)

دی که څه هم د شوروي له تجربې څخه دفاع کوي او د غربي پوهانو څرګندوني درواغ بولي، خو اوس دا دئ، دوه کاله وروسته په خپله د شوروي په مطبوعاتو کي داسي حقایق خپریږي، چي د بګراموف له خبرو څخه درواغ جوړوي.

په دغه مناقشه‌یي حالت کي چي یو وخت د لوېدیځ د څېړونکو پر څرګندونو باندي باور نه سوای کېدلای او نن شوروي ژورنالیستان د اجتماعي علومو په

زمینه کي په خپله بې اعتباره سوي دي، موږ ته د ملي او ایتنیکي مسایلو د علمي مطالعې په باب یوازي داسي دریځ پاتیږي، چي هم د ختیځ او هم د لویدیځ د پوهانو نظریات او افکار را معلوم سي.

پنځه کاله پخوا ما په خپله یوه لیکنه کي کښلي وه، چي: «د هر هغه چا دپاره چي د ملي مسألې د حل له قضایاوو سره په نظري او عملي ساحو کي مخامخ کیږي، نو دا ارو مرو ورته لازمه ده، چي د ملي مسألې په حل کي د شوروي اتحاد د تیورۍ او پراتیک د انکشاف ټوله تاریخي پروسه تر ژوري کتني لاندي ونیسي او د هغې له لوړو ارزښتونو څخه ګټوري استفادې وکړي».

اوس دا ټکی پر زیانوم، چي هلته په دې باره کي ډېر عمیق حقوقي او تقنیني ادبیات د نن ورځي په نوو شرایطو کي منځ ته راغلي دي، چي تطبیقي نتایج ئې زموږ د مسایلو په درک او حل کي هم له ارزښته څخه خالي نه ګڼل کیږي. خو د نن او پرون دریځ له دې پلوه څخه فرق کوي، چي هلته د حل پروسه په هیڅ وخت کي د مطلقیت درجې ته نه ده رسیدلې، بلکي د اجتماعي-اقتصادي رشده سره یو ځای د مسایلو ډولونه او د حل تدبیرونه وخت په وخت د بدلون په حال کي پاته سوي دي. د ځېړنو د بشپړتیا دپاره له هغو غربي مطالعاتو څخه هم مخ نه سي اړول کېدلای، چي کله علمي او کله تبلیغاتي خصوصیات لري.

# د ملیتونو د مسألې په باب دوه دریځونه

د دې دپاره چې په لوېدیځ کې له هغو نظریاتو سره لږ او ډېر آشنا سو، چې د شوروي د ملي او ایتنیکي مسایلو په باب کې څرګندیږي، نو د «بګراموف» له اثره څخه هغه برخه دلته را ترجمه کوم، چې هلته ئې دغه شان نظریات د انتقاد او تردید په منظوم له بېلابیلو مأخذونو څخه را ټول کړي دي. نوموړی لیکونکی تر پورتني عنوان لاندي داسي لیکي:

«د لوېدیځ په سیاسي ژبه کي د «ملت Nation»، «ملي ګټې National Interest» او «ملتپالني Nationalism» کلمات زیاتره په مختلفو معناګانو استعمالیږي؛ معمولاً د «ملي National» او «ناسونالیستیکي Nationalistic» توپیر نه سره کوي. د ملیتونو د مسألې تعبیر نه دئ روښانه او اکثره د ملتونو هغي علاقې ته راجع کیږي، چې غواړي خپل ځانګړی ایتنیکي خصوصیات خوندي وساتي؛ په خاصه توګه هغه مطالعات، چې په دې ځانګه کي سر ته رسیږي، د اجتماعي ژوند تر نورو ټولو ځانګو ئې اندازه خورا زیاته ده. خو دا مطالعات د دې پر ځای چې د ملي روابطو واقعي اجتماعي-اقتصادي محتوا تر څېړني لاندي ونیسي، یوازي د ایتنوسونو پر سطحي خصوصیاتو او د دوی د اړیکو پر روحیاتي اړخو باندي تمرکز کوي او اصله موضوع له پامه څخه اچوي.

په لوېدیځ کي ټولنپوهان او سیاسي عالمان تل تر تله د دې خبري په ثبوت کي زیار باسي، چې دغه روابط په اجتماعي چاپېریال او تاریخي شرایطو پوري اړه نه لري؛ ځکه دوی د داسي عواملو تر تاثیر لاندي منځ ته را ځي، چې ژوري ریښې لري او بشري فکر نه ور رسیږي. دوی استدلال کوي، چې پر ملي روابطو

باندي د اغېزې د اچولو اقدام نه یوازې دا چې ګټه نه لري، بلکې خطرناکه لا هم بلل کېږي، ځکه دا وېره ور سره سته، چې د ملتونو او وګړو تر منځ روحیاتي توازن پر له ګډوډ کړي.

د ملي روابطو په باره کې د اوسنیو بورژوازي نظریاتو اساسي هدف دا دئ، چې غواړي د ناسیونالیستیکي ویروس بې‌سارې قدرت او د ناسیونالیستیکې سیاست وژونکې ضرورت په اثبات ورسوي. په دې تلاښ کې د نړۍ د بېلابېلو سیمو تر منځ او یا د بېلابېلو اجتماعي- اقتصادي نظامونو تر منځ کوم توپیر ته نه قائلېږي. دا نظریات پر دې اساس را بناء دئ، چې ناسیونالیستیکې محرکات د تشدید له بابته عمومي حالت لري او د دوی له بیانه سره سم بشریت په دې باندې نه دی قادر، چې کنټرول ئې کړي. د ملیتونو مسأله له هغه اجتماعي- طبقاتي چارچېریال څخه ګوښې مطالعه کېږي، چې دا مسأله ئې منځ ته راوړې وي او نو ځکه هغې ته یو مستقل او حتی یو مرموز ماهیت ور کوي. له دې نظریې سره سم نو هغه «انفجاري مواد» چې ملي شخړې تحریکوي، د ایتنیکي طبیعت په ختېه کې اخښلې دي. زیات بورژوازي تیوریسنان عقیده لري، چې تر څو ملتونه موجود وي، تر هغو به ارو مرو د دوی تر منځ دښمني هم رواني وي. د دوی په فکر د دغو شخړو سرچینه د ملتونو په خپل ذاتي ماهیت کې پرته ده. په خپله د ملي توپیرونو موجودیت یو د بل سره نه جوړېدونکې ملي ګټې منځ ته راوړي، چې په نتیجه کې ناسیونالیزم او شوونیزم ته رسیږي. د حیرانتیا خبره نه ده، چې له دغې نظریې څخه خورا زیاته استفاده د دې دپاره کېږي، چې د ملي روابطو په باره کې مارکسیستي دریځ باطل کړي.

په دې ډول نو د امریکا یو سیاسي عالم، چې «واکرکونار» نومیږي، په خپل هغه کتاب کې «د ملیتونو د حل رسمي اسطوره» تردیدوي، چې په ۱۹۸۴م. کال کې ئې په دې نامه په امریکا کې چاپ کړی دئ: «په مارکسیستي- لیننستي تیورۍ او ستراتیژۍ کې ملي مسأله». دی په ټینګه وایي، چې «ځو ملتیز مارکسیستي- لیننستي دولتونه یقیناً د ملي ناآرامیو د پیښو له بابته بې‌ساري نه بلل کیږي. د مځکې پر مخ باندې ځو ملتیز دولتونه هر ډول رسمي ایډیالوجي چې لري، خو په دې وختو کې د ملي اغېز له اثره په ښور کې دي. هیڅ دولت په قانع‌کوونکې ډول دا ادعاء نه سي کولای، چې د ناسیونالیزم سره د مقابلې یو موډل وګټل سي.[۲۱]» ځکه نو ناسیونالیزم ته په دې سترګه کتل کیږي، چې د اوسني تمدن سره ارومرو تړلې دي او تر اوسه د همدې تړني چاره نه ده سوې.

غربي تیوریسنان په دې باندې پوره خبر دي، چې د ملیتونو د مسألې په باره کې بېخي یو مقابل نظر هم موجودیت لري. سوسیالیستي ایډیالوجي پر پرولتاري انترناسیونالیزم باندې را بناء ده او له دې فرضیې منشاء اخلي، چې بشري فکر د پېړیو پېړیو تر زړو تعصباتو ډېر غښتلی دئ. د کارګري طبقې په انترناسیونالیزم کې دا خبره شامله ده، چې د اجتماعي او ملي ستم له هیڅ شکله سره جوړه نه سي کولای. انترناسیونالیزم غواړي چې خواریکښ خلګ د مشترکو اهدافو دپاره په خپله مبارزه کې برابري، خپلواکي او یو د بل سره پیوستون ولري. همدا رنګه ایجابوي، چې د یوې نوي ټولني د جوړېدو په کار کې یو د بل سره متقابله مرسته وکړي، خو بورژوازي ناسیونالیزم بیا د دې پر خلاف په نظر او عمل کې دا هدف

[۲۱] Walker Conner, The National Question in Marxist-Leninist Theory and Strategy. Princeton, New Jersey, Princeton University Press, ١٩٨٤, P: ٤٧٩

پالي، چي په بين المللي روابطو کي د شخړو او نابرابريو د اثبات او تبرئې له لاري ملي نفرت او نباوري دائمي کړي. تر کاپيټاليزم لاندي د ټولنيزو روابطو نيمګړتيا په خپله د هغه انسان د نيمګړتيا په وجه معقوله ښکاري، چي د ملتونو تر منځ د خونړيو ټکرونو تر تهديد لاندي په ژوند کولو محکوم وي.

هغه کوم دلايل دي، چي بورژوازي تيوريسنان ئې د پرولتاري انترناسيوناليزم په مقابل کي وايي؟ دوی د طبقاتي مبارزې د تحليل په مقابله کي د اجتماعي پديدو په نسبت نام‌نهاده «ملي» دريځ را وړاندي کوي. دوی خپل تيزس پر ملي تضادونو او تخاصماتو باندي را بناء کوي او د طبقاتي مبارزې د تيزس په مقابل کي چي د ټولنيز پرمختګ محرکه قوه ګڼله کيږي، ملي عامل د تاريخي انکشاف محرک بولي. بالآخره نو د دې نظريې په اثبات کي چي د ملي او بين المللي عواملو د متقابل عمل په دوران کي ناسيوناليزم پر انترناسيوناليزم باندي غلبه پيدا کوي، دوی يو مخيزه مبالغې کوي.

دوی پر دې خبره ولاړ دي، چي مارکسيزم په داسي حالت کي، چي پر طبقاتي عامل باندي تاکيد کوي، البته نه سي کولای، چي د «ناسيوناليستيکي انفجار» وسعت او ماهيت ارزيابي کړي. دوی په دې نظر دي، چي د مارکسيستي دکتورين تعقلي خصلت (راسوناليزم) خپل پيروان له دې څخه را ګرځوي، چي د ناسيوناليزم په څېر د يوې داسي غيرتعقلي او معمائي پديدې ماهيت درک کړي. د دې بيان په ثبوت کي زياتره داسي څرګندوني کيږي: د مارکسيزم له ښوونو سره سم ناسيوناليزم بايد هغه وخت غائب سي، چي طبقاتي تخاصم پای ته ورسيږي، خو هغه سوسياليستي انقلابونه چي د لوېديځي اروپا او آسيا په

هیوادو کي سر ته ورسېدل، په دې نه سول بریالي، چي ملي پرابلمونه حل کړي او ناسیونالیزم له منځه یوسي. د دې خبري په پام کي نیولو سره نو دوی دا نتیجه را باسي، چي ناسیونالیزم له اجتماعي- اقتصادي عواملو څخه استقلال لري او د کاپیټالیستي ټولني له طبقاتي تخاصم څخه نه دئ را زېږېدلی، بلکي د بشري طبیعت له ځینو داسي خواصو څخه ئې منشاء اخیستې ده، چي تر ادارې او کنټرول لاندي نه را ځي.

بورژوازي مفکرین استدلال کوي، چي انترناسیونالیزم یو خالص ذهني تصویر دئ، چي د شعور په اعماقو کي تاثیر نه لري، خو ناسیونالیزم بیا برخلاف د تحت الشعور په ساحه کي ژوري ریښې لري او د ژوند په ټولو اړخو کي ئې نفوذ کړی دئ. فرانسوی ژورنالیست «ریګیس دیبري» وایي: «... هر وخت ملي غریزه له بین المللي وجدانه سره ټکر خوري او لومړی د دوهم په مقابل کي خورا ډېر زور لري[۲۲].»

د اجتماعیاتو او سیاسیاتو په برخه کي د بورژوازي مطالعاتو مشخصه دا ده، چي زیار باسي د ناسیونالیزم اجتماعي- اقتصادي محتوا له نظره پټه وساتي او هغه په ځینو حیاتي- روحیاتي میلاناتو پوري محدوده کړي. په دې ډول نو د «هارورډ» د پوهنتون «دوف رونین» په هغه یوولسمه نړیواله کانګره کي، چي د ۱۹۷۹م. کال د اګست له دوولسمي څخه تر اتلسمي پوري په مسکو کي «د سیاسي علومو د نړیوالي ټولني» له خوا جوړه سوې وه، خپله لیکنه «په پخوا او اوس کي ناسیونالیستي غورځنګونه او د خودِ ارادیت دپاره د هڅي تکامل» تر عنوان

[۲۲] New Left Review, ۱۹۷۷, No: ۱۰۵, P: ۳۵

لاندي وړاندي کړه. ده وويل، چي د خودِ اراديت دپاره هڅه يوه کُلي بشري غريزه ده.[23] يوازي همدغه ضرورت دئ، چي د ملي، ايتنيکي يا طبقاتي قيامونو په شکل را څرګنديږي. د دې سرچينه ټولنيز ټکر نه دئ، بلکي هغه له کابو وتلي انفرادي تمايل دئ، چي غواړي د فطري محرکاتو د تحقق په لار کي له ټولو خنډونو څخه آزادي واخلي. طبقاتي او ملي تعلقات ئې صرف د هغه پس‌منظر د زمينې په څېر ليدل کيږي، چي هلته د بشري ميلاناتو او غرائزو تر منځ منازعې پېښيږي. د تعجب ځای نه دئ، چي دغه ليکوال د ملي ميلاناتو تحقق د يوه يا بل اجتماعي- سياسي نظام په چوکاټ کي نه ګوري، بلکي پرته له هغه ئې د «آزاد روح» په ساحه کي تر کتني لاندي نيسي.

پر پرولتاري انترناسيوناليزم باندي، چي د هغو ميليونونو خلګو ايډيالوجي ده، چي نوی ژوند جوړوي او د اجتماعي او ملي آزادۍ دپاره مبارزې کوي، نو يا سترګي پټيږي او يا تر وخت تېر او ضدِملي بلل کيږي. مارکسيزم په دې ملامتيږي، چي د ملي عامل په شان يو رشد نه سي پيش‌بيني کولای او «د ملت يو تيوريکي تعريف» نه سي برابرولای.

بورژوازي ايډيالوجيستان ناسيوناليزم يوه غيرتاريخي پديده ګڼي او د سوسياليزم د ړنګېدو دپاره له همدې خبري سره خپلي هيلي تړي.

[23] Dov Ronen, “Nationalist Movements of the Past and Present; The Evolution of the Quest for self-determination” in: International Political Science Enters the ١٩٨٠s, Volume ١, ed, by Richard L. Merritt, IPSA, Ottawa, ١٩٧٩, PP: ١٤٧-١٤٨

دغه طرحه په څه ډول تدوین کیږي؟ د مارکسیستي - لیننستي تیزس له دې ټکي څخه، چي سوسیالیزم له ناسیونالیزم سره جوړه نه سي کولای، بورژوازي تیوریسنان دا ډول څرګنده غلطه نتیجه را باسي، چي سوسیالیزم د ملي ګټو سره په تضاد کي دئ. د دې نتیجې بنیادي محرک دا دئ، چي ملي له ناسیونالیستي عواملو سره یو شی ګڼل کیږي. په دې اساس نو مشکله نه ده، چي په بېلابیلو طریقو دا خبره وویل سي، چي یو داسي نظام، چي د خلګو د ګټو په تامین کي پاته را ځي، هیڅ آینده نه لري او یوازي د ملتونو د حقوقو د اجباري اختناق له لاري څخه پایېدلای سي. له دغه عمدي غیرعلمي دریځ څخه بورژوازي مفکران په شوروي کي د ملي روابطو خصوصیات تشریح کوي.

دا مفکوره چي د شوروي د خلګو اتحاد اجباري نوعیت لري، د هغو بورژوازي ادبیاتو په سر کي ځای سوې ده، چي د شوروي د څو ملتیز دولت د انکشاف اوسنۍ مرحلې ته وقف سوی دئ. (د مراجعې دپاره د الکساندر بینیګسین، ریچارد پایپس، هوغ سیتون واټسن، الفرید ډي. لو، لویس سنایډر، ګیوفري ویلر، تیریسا راکوسکا هارمستون او نورو لیکني کتلای سئ.) شوروي پېژندونکي که څه هم په مات زړه هغه بریالیتوبونه مني، چي ګڼ شمېر اولسونو د شوروي د واکمنۍ په دوران کي لاس ته راوړي دي، خو د دې ټکي په ثبوت کي زیار باسي، چي دغه بریالیتوبونه د ملي آزادۍ د اختناق په بیه لاس ته راوړل سوي دي. سربېره پر دې د ضدِ کمونیزم ایډیالوجیستان داسي هم وایي، چي دغه بریالیتوبونه به خورا ډېر وای، که چیري ملتونو دا غوره کړې وای، چي د شوروي اتحاد سره د یووالي پر ځای ئې خپل بېلابېل دولتونه جوړ کړي وای. تصادفي نه

ده، چي بورژوازي مفکران د همدې قضيې په اثبات کي، چي ثبوت ته نه سي رسېدلای، له رنګارنګ چلونو څخه کار اخلي؛ مثلاً وايي: لينن او کمونيستيانو دا خبره په صداقت نه وړاندي کوله، چي ټولو ملتونو ته د خودِ اراديت حق ور کوي.

شوروي پېژندونکي استدلال کوي، چي لينن او کمونيستيانو د پرولتاري طبقې د ديکتاتورۍ ټينګښت ته د خپلي اساسي دندي په سترګه کتله، خو د ملي آزادۍ وظائف له نظره لوېدلي او شا ته پاته سوي وه. په دې ضمن کي بايد هغه وضعه په نظر کي ونيول سي، چي د اکتوبر تر انقلاب دمخه په روسيه کي موجوده وه، څو ورته معلومه سي، چي د اټوکراسۍ، ملاکۍ او کاپيټاليستۍ د نظام له محوه کېدو څخه پرته، چي دا ملتونه ئې په بې‌وزلۍ او خوارۍ باندي محکوم کړي وه، دا ناممکنه ده، چي ملتونه آزاد سي؛ ځکه نو د کارګري طبقې له خوا د قدرت د لاس ته را وستلو دپاره لازمه وه، چي ژور ټولنيز اصلاحات سر تر پايه د ټولي پخوانۍ روسي امپراتورۍ په خاوره کي منځ ته را سي. د لينينيزم مخالفان چي د پرولتاري طبقې طبقاتي او ملي وظائف يو د بل سره ضد بولي، نو له دې څخه ئې د شکل د انتخاب يوه مصنوعي قضيه جوړه کړې ده، چي مبارزه يا بايد د کارګرو د قدرت دپاره وي او يا بايد د ملتونو د آزادۍ دپاره.

د بين المللي روابطو د يوه نوي تيپ را څرګندېده او د سوسياليستي دولتونو تر منځ د ورورګلويز وحدت انکشاف يوه ترکيبي تاريخي پروسه ده. بورژوازي ايډيالوګان د دې خبري په درک کي پاته را ځي، چي د اجتماعي- طبقاتي او ملي پرابلمونو تر منځ د هغه داخلي ارتباط په باره کي، چي موجوديت لري، په

مارکسیستي دیالیکټیکي تحلیل باندي وپوهیږي. دوی هغه ساده نظریه مارکسیزم ته منسوبوي، چي ګمان کوي، د سوسیالیستي انقلاب تر بري وروسته سمدستي ملي پرابلمونه په «اتوماتیکي» ډول یو دم له منځه ځي. د ناسیونالیستیکي تعصباتو مغلوبول او د ملي روابطو یو نوی تیپ ټینګول یوه تدریجي پروسه ده او په دې باندي پوهېدل نه یوازي دا چي اهمیت لري، بلکي دا معلومول هم غواړي، چي د ناسیونالیزم په مغلوبولو کي چي له پخواني نظام څخه په میراث پاته وي، عیني او ذهني عوامل متقابل شرایط تامینوي. په دې پروسه کي د واکمنو کمونیستي او کارګري ګوندونو منظم سیاست ستر نقش لوبوي. تر هغه وروسته چي سوسیالیستي انقلاب په زیاتو هیوادو کي سر ته ورسېدی، هلته د اجتماعي انکشاف له عمومي قوانینو سره سم د سوسیالیزم بناء جوړه سوه؛ خو د مشخصو تاریخي شرایطو او ملي توپیرونو په نسبت سوسیالیزم بېلابېل شکلونه واخیستل. د دې پروسې بریالیتوب د پرولتاري انترناسیونالیزم له اصولو سره په ټینګ مطابقت پوري اړه لري. دا کار د متقابلي مرستي او حمایې، برابری، حاکمیت او د یو د بل په کورنیو چارو کي د نه مداخلې له لاري څخه سر ته رسیږي.[٢٤]

د شوروي اتحاد د کمونیستي ګوند او د نورو مارکسیستي- لیننیستي ګوندونو تجربې دا ښیي، چي د ملیتونو د لیننی سیاست منظم تطبیق ضروري دئ. دغه کار نو ایجابوي، چي د ناسیونالیزم او شوونیزم سره په مبارزه کي باید د خلګو پرګنو ته د سوسیالیستي انترناسیونالیزم او هیوادپالني د روحیې په اساس تعلیم ور

[٢٤] See International Meeting of Communist and workers' Parties, Moscow, ١٩٦٩, Peace and Socialism Publishers, Prague, ١٩٦٩, PP: ٢١- ٢٢

کول سي. په دې وسیله نو د ملتونو تر منځ په روابطو کې د یوې نوي نوي فضا ټینګېده آسانه کیږي او د زاړه اجتماعي- سیاسي نظام د بقایاوو په امحاء کې مرسته کوي.

پوښتنه دا ده، چې د ملیتونو د مسألې ماهیت څه شي دئ او د هغې د علمي مطالعې اصول کوم دي؟

د ملیتونو مسأله د خپل ماهیت او تاریخي مبادیو له پلوه د ملي ستم او نابرابرۍ؛ یعني هغو غیرعادلانه او ناوړو روابطو د امحاء مسأله ده، چې د کاپیټالیزم تر شرایطو لاندې د ملتونو تر منځ موجودیت لري. د بورژوازي دریځ د تاریخي او سوسیولوجیکي موډلونو پر خلاف، چې د ملیتونو مسألې ته د یوې داسي دایمي پدیدې په سترګه ګوري، چې په خپله له ناسیونالیزم څخه منځ ته راغلې ده، علمي کمونیزم ملي روابطو او ناسیونالیزم ته د یوه تاریخي مشخص دریځ له خوا څخه د کتني غوښتنه کوي.

د ملیتونو هغه تمایل، چې غواړي د یوه ملت په توګه پیوستون ته ورسیږي او یو موټی سي، یوازې د ملیتونو د مسألې یو اړخ تشکیلوي. دا مسأله یو بل تاریخي تمایل هم لري، چې ورځ په ورځ ډېر پیاوړی کیږي او دا هغه تمایل دئ، چې د اقتصاد او اجتماعي ژوند په برخه کې د کاپیټالیستي بین المللي کېدو لوري ته روان دئ. دغه تمایل تر کاپیټالیزم لاندې ضرور دا نتیجه ور کوي، چې زورور ملتونه کمزوري لاندې کوي او ملتونه او ملي اقلیتونه د اجباري اسیمیلېشن له لارې انحلال ته رسوي او هم له دې سره ملي شخړې او بې‌اعتمادی منځ ته را ځي. یوازې تر سوسیالیزم لاندې د اجتماعي ژوند د بین‌المللي کېدو عملیه په دې وسیله پوره انکشاف کوي، چې د یوې نوي ټولنې د آزادو او مساوي الحقوقو

جوړوونکو د ګډو کوښښونو له خوا سر ته رسیږي او د بې‌ساري انکشاف او وروګلویزي همکارۍ پر اساس باندي د ملتونو د را یو ځای کېدو پروسې ته سرعت ور بخښي.

مارکس او اینګلس په کمونیستي مانیفیسټ کي د نړیوال انکشاف یو واقعي تصویر کښلی دئ او هلته ئې د طبقاتو او ملتونو تر منځ د متقابل عمل په ګډون د ټولني په ژوند کي هم د دوی حقیقي ځای ښوولی دئ. د سیاسي انکشاف ټوله سیر دا تائید کړې ده، چي د طبقاتي دریځ په یوه پراخ انترناسیونالیستي لید کي ټاکلي ملي خصوصیات ملاحظه کیږي او دا دریځ تر نام‌نهاده «ملي‌دریځ» هم ډېر ارت او هم زیات عمیق دئ. «ملي دریځ» اورمرو د بېلتون غوښتني او تنګ‌نظرۍ ناسیونالیستي خواوو ته انحراف کوي، چي د استثمارچي طبقاتو له ګټو سره سمون خوري. د مارکس، اینګلس او لینن آثار، چي د ناسیونالیزم په شمول د ملیتونو د مسألې دقیقه څېړنه کښېباسي، هغه جاري نظریه باطلوي، چي وایي د علمي کمونیزم د مؤسسانو له خوا لومړۍ درجه اهمیت طبقاتي مبارزې ته ور کول سوی دئ او د دغه کار ئې مخه را ګرځولې ده، چي د ملتونو سرنوشت ته په کافي اندازه توجه وکړي. په زړه‌پوري دا ده، چي مارکسیستي دکتورین هغه شان نه دئ، لکه څنګه چي د زیاتو بورژوازي عالمانو له خوا څخه «باطل» بلل کیږي. په حقیقت کي دوی هغه طرحي او فارمولونه باطلوي، چي په خپله ئې جوړ کړي دي او له هغو سره د علمي کمونیزم د افکارو واقعي ثروت په پله کي برابروي.

مارکس او اینګلس د بورژوازي ناسیونالیزم او شوونیم طبقاتي ریښې او ارتجاعي ماهیت څرګند کړ. دوی وښووله، چي د ملتونو تر منځ د دښمنۍ را پارول د بورژوا طبقې دپاره یوه مطلوبه وسیله ده، چي د هغې په ذریعه خواریکښ هم تر مادي او هم تر معنوي اسارت لاندي راولي. په دې وسیله واکمنه طبقه کولای سي، چي د اجتماعي مبارزې مخه ونیسي او ملتونه یو د بل په مقابل کي ودروي. مارکس او اینګلس چي د پرولتاري طبقې ستر ښوونکي دي، په بشپړه توګه ئې د پرولتاري طبقې انترناسیونالیستي ماهیت وسپاړه او څرګنده ئې کړه، چي یوازي د بېلابیلو هیوادونو د کارګرانو د ګډ زیار په وسیله پرولتاره طبقه آزادۍ ته رسېدلای سي.[25]

مارکس او اینګلس په دې لار کي کلکه مبارزه کوله، چي هر ملت په بشپړه توګه خپلواک، آزاد او مساوي، یعني «...د خپل کور مالک سي![26]» اینګلس لیکي: د ملتونو تر منځ انترناسیونالیستي اتحاد یوازي هغه مهال ممکن دئ، چي د دوی هستي، خودمختاري او په کورنیو چارو کي خپلواکي په سرسره د انترناسیونالیزم په مفکوره کي شامله وي.[27]» له هغو الزامو سره چي بورژوازي ایډیالوګانو په دې نامه پر مارکس او اینګلس لګولي دي، چي یوازي اروپائي سیمه د دوی په نظر کي وه، خو د علمي کمونیزم موسسانو په ډاګه د زیاترو هیوادو مترقي غورځنګونه

[25] See K. Marx, F. Engels, “Manifesto of the Communist Party, Collected works, Vol ٦, Progress Publishers, Moscow, ١٩٧٦, PP: ٤٩٥, ٤٩٦, ٥٠٢

[26] K. Marx and F. Engels, “The Role of Force in History”, selected works, in three volumes, Vol ٣, Progress Publishers, Moscow, ١٩٧٦, P: ٣٧٧

[27] K. Marx, F. Engels, “Engels an Laura Lafargue in Le Perreux”< Werke, Bd. ٣٩, Dietz Verlag, Berlin, ١٩٦٨, S ٨٥

تائید کړي دي. دوی هغه اړیکي ښوولي دي، چي د اروپائي پرولتاریانو د انقلابي مبارزو او په نورو قارو کي د آزادۍ غوښتني د غورځنګونو تر منځ موجودیت لري.

لینن چي د کمونیستي ګوند او شوروي اتحاد مؤسس دئ، په خپل وخت کي ئې د پرولتاري انترناسیونالیزم ماهیت او محتوا څرګنده کړه. ده په شوروي کي د ملیتونو د سیاست ماهیت وښووی او د هغه مارکسیستي ګوند انترناسیونالیستي اصول ئې تائید کړه، چي د اجتماعي او ملي آزادۍ دپاره ئې د روسیې د خواریکښو پرګنو لارښوونه کوله.

د لینن ټوله فعالیتونه د غربي شوروي پېژندونکو هغه څرګندوني باطلوي، چي وایي، ده ملي پرابلمونو ته په دې سترګه نه کتل، چي حل ئې کړي، بلکي غوښته ئې چي له هغو څخه استفاده وسي. کمونیستي ګوند په یوه داسي هیواد کي فعالیت کاوه، چي د څو ملتیز ترکیب یوه مجتمع ئې تشکیلوله. هلته د مرکزي او اطرافي سیمو تر منځ د اقتصادي سطحي په حساب خورا زیاتي فاصلې موجودي وې. په هغه هیواد کي زیات شمېر اجتماعي جوړښتونه او کلتوري عنعنات ځای پر ځای وه. تزاري حکومت د امپریالیزم تر شرایطو لاندي د ملي ستم د ارتکاب له لاري بشپړتیا تامین کړې وه. هغه یوه شوونیستي پالیسي شړله، چي هدف ئې د ملي نفاق خپرېده او د خواریکښو تر منځ د بېلېدو ټینګېده وه.

د ټولو ملتونو کارګران چي په واحد طبقاتي سازمان؛ یعني انقلابي ګوند کي یو ځای سوه، نو هغه د ملیتونو د مسألې په باره کي د بلشویکي پروګرام د عملي کېدو یوازنی تضمین بلل کېدی. بلشویکان چي مشري ئې د لینن په غاړه وه، په

خپلو هغو مخالفتونو کي، چي د «بوندیستانو» او نورو ناسیونالیستي ډلو سره ئې درلوده، د گوند د نوي تیپ له انترناسیونالیستي اساساتو څخه دفاع کوله. لینن چي د اکتوبر د انقلاب لارښود وو، په دې خبره ئې ویاړ کاوه، چي تر انقلاب وړاندي بلشویکان په دې بریالي سوي وه، چي د روسیې د زیاتو ملیتونو ډېر ښه نمایندگان په سوسیالي ډیموکراټیک سازمانو کي یو موټی کړي. ده لیکلي دي، چي «په روسیه او ققفاز کي گرجي+ ارمني+ تاتاري+ روسي سوسیال ډیموکراټیانو تر لس کاله زیات یو ځای په یوه واحد سوسیال ډیموکراټیک سازمان کي کار کړی دئ. دا تشي خبري نه دي، بلکي د ملیتونو د پرابلم پرولتاري حل بلل کیږي.[۲۸]»

د شوروي اتحاد کمونیستي گوند هیڅ کله د ملیتونو مسأله د انقلابي مبارزې له وظایفو څخه بېله نه ده گڼلې او نه ئې هم د ملیتونو وظائف د کارگري طبقې د مهمو اجتماعي- طبقاتي منافعو له وظائفو سره متضاد بللي دي. د ملیتونو عوامل هر کله د بین المللي عواملو سره یو ځای ملاحظه سوي دي. دا خبره هم نه سي منل کېدلای، چي ملي خصوصیات یا مطلق وگڼل سي او یا بېخي له نظره واچول سي. هره ملي غوښتنه د خواریکښو خلگو د هغي طبقاتي مبارزې له دریځه څخه ارزیابي کیږي، چي د انترناسیونالیستي ارمانو د پوره کولو دپاره ئې سر ته رسوي. په دې ډول نو د پرولتاریانو د طبقاتي مبارزې ترکیب له هغي مبارزې سره، چي د ملي ستم د امحاء دپاره کېده او د سوسیالیزم دپاره د مبارزې ترکیب له هغي آزادي‌غوښتونکي مبارزې سره، چي د محکومو ملتونو له خوا څخه د امپریالیزم

[۲۸] V. Lenin, “To Maxim Gorky”, Collected works, Vol ۳۵, Progress Publishers, Moscow, ۱۹۷٦, PP: ۸٤- ۸۵

په مقابل کي سر ته رسېده، هغه یوازنی سمه تګلاره وه، چي د روسیې د کارګري او بزګري پرګنو حمایه ئې د کمونیستي ګوند دپاره تضمین کړه.

د ملیتونو د سیاست اصول، چي د لینن له خوا څخه تثبیت سوه، په منظمه توګه د شوروي حکومت په وسیله تر عملي تطبیق لاندي راغلي دي. دوی هر کله نړیوال اهمیت لري، ځکه د انترناسیونالیزم یو ښتینی عملي تحقق ګڼل کیږي.

په هغو زیاتو جملو کي، چي د غربي ایډیالوګانو له خوا د لینن د ملیتونو پر سیاست باندي واردیږي، یوه هم دا خبره شامله ده، چي له ادعاء سره سم لیننیزم د ملتونو د منافعو په نسبت ځان کونږ اچولی دئ او ګومان کیږي، چي ګوند د پرولتاري طبقې د دیکتاتورۍ دپاره په مبارزه کي یا ملي عامل له پامه اچولی دئ او یا ئې د استفادې په منظور «د یوې آلې د ارزښت» په سترګه ورته کتلي دي. فرانجو توجمان په هغه کتاب کي، چي «په نننۍ اروپا کي ناسیونالیزم» نومیږي او په امریکا کي چاپ سوی دئ، داسي لیکي: «د مارکسیزم مرکزي مسلمه قضیه دا وه، چي کمونیزم به د کاپیټالیستي اقتصادي نظام له ایسته کولو سره یو ځای ملي توپیرونه هم له منځه یوسي.[۲۹]»

دا خبره بالکل بې اساسه ده. علمي کمونیزم له دې فرضیې څخه خپل نظر را پیل کوي، چي ملت یو ثابت جمعیت دئ، چي تر کاپیټالیزم لاندي ئې منشاء اخیستې ده او په کمونیستي اجتماعي- سیاسي نظام کي خپل تکامل ته ادامه ور کوي. د ملي توپیرونو غایبېده د طبقاتي توپیرونو د امحاء په تناسب یوه ډېره اوږده پروسه

[۲۹] Franjo Tudjman, Nationalism in Contemporary Europe, Columbia University Press, New York, ۱۹۸۱, P: ۳

ده. په همدې سبب لينن په هغه اثر کي، چي د «کيڼ اړخ په کمونيزم کي- يوه طفلانه ناروغي» نوميږي، داسي بيان کړی دئ، چي: «د ټولو هيوادو د کمونيستانو د کارگري طبقې په غورځنگ کي د انترناسيوناليستي تاکتيکونو وحدت دا نه غواړي، چي د ملي تفاوتونو تنوع له منځه واخيستل سي او يا تر فشار لاندي ونيول سي... بلکي د کمونيزم بنيادي اصول يو تطبيق ايجابوي... چي هغه به په سمه توگه دغه اصولو ته په ځينو خاصو مواردو کي تغير ور کړي او د ملي او ملي- دولتي توپيرونو په برخه کي ئې په صحيح ډول په کار واچوي او تطبيق ئې کړي.[٣٠]»

دلته موږ د انترناسيوناليزم په باره کي د لينني پوهي په يوه مهم اړخ باندي خبريږو. هغه اړخ دا دئ، چي د ناسيوناليزم له ټولو اشکالو سره په مبارزه کي مارکسيستان بيا هم له دې دريځه ځخه ليري دي، چي د ملي نفي مکتب ترويج کړي. دوی د خپل هيواد د سرنوشت، د خپلي ژبي او کلتور په نسبت بې‌تفاوته نه دي. دوی د خپل وطن په پخوانيو او اوسنيو انقلابي جرياناتو باندي وياړي. د دوی په عقيده رشتيانی ملي منافع له انترناسيوناليستي طبقاتي منافعو ځخه نه سي بېلېدلای. د خپلو خلگو د خوښۍ او نېکمرغۍ دپاره هلي ځلي دا معنا لري، چي د هغو مبارزانو د نړيوال اردو په صف کي ودريږي، چي د سوسياليزم دپاره مبارزې کوي. دغه دئ د مليتونو د مسألې په باره کي د لينني نظريې ماهيت.

---

٣٠ V. I. Lenin, “Left-Wing Communism; an Infantile Disorder”, Collected Works, Vol ٣١, ١٩٨٢, P: ٩٢

د شوروي اتحاد د کمونیستي گوند له خوا د ملیتونو په باب په سیاسي کرښلاره کي دغه ټوله بیانونه راغلي دي. دا سیاسي کرښلاره پر دې بنیادي اصولو باندي را بناء ده: د ملي پرابلمونو په نسبت انترناسیونالیستي طبقاتي دریځ؛ د ملتونو دپاره د خودِ ارادیت د حق منل، چي په خپله خوښه د ملتونو په وروگلویزه اتحادیه کي ور گډ سي او هر جمهوریت او هر ملیت آزادانه انکشاف وکړي؛ د ټولو غټو او وړو ملتونو دپاره د اجتماعي ژوند په گردو ساحو کي بشپړه برابري؛ یو داسي سیاست عملي کول، چي پرته د ملیت له نسبته څخه کارگري پرگنې په یوه بین المللي اتحادیه کي یو او بل ته را نژدې کړي؛ او د هر ډول بورژوازي ناسیونالیزم د ټولو مظاهرو په مقابل کي مظاهره.

کمونیستي گوند دا حق وگاټه، چي د هیواد د ټولو ملیتونو د خواریکښو خلگو د نمایندگانو لارښود سي. هغه دا حق له دې لاري لاس ته راوړ، چي د کارگري طبقې او د پراخو پرگنو له حیاتي منافعو څخه ئې تل تر تله حمایه کوله، هغه کمونیستي ایډیالونو ته وفاداره وو او د ټولو ملتونو او ملیتونو د ملي منافعو او احساساتو رعایت ئې کاوه، هغه د بورژوازي ناسیونالیزم او شوونیزم یا ملي نفي له هر ډول مظاهرو سره خپل مخالفت جاري ساتئ او جوړه ئې نه ور سره کوله.

هغه تجربه چي د شوروي د کمونیست گوند او نورو مارکسیستي- لیننیستي گوندونو له خوا د ملي روابطو د نوي شکل ور کولو په برخه کي لاس ته راغلې ده، د نړیوال سوسیالیزم او ټوله مترقي بشریت میراث بلل کیږي. دا د انترناسیونالیستي افکارو یو تحقق دئ او د سوسیالیزم د مخالفانو دپاره د دایمي اندېښني یوه موضوع گڼل کیږي. د دې دپاره چي دغه تجربه له اعتباره څخه

واچوي، نو «د شوروي د ملتي پرابلمونو» په نامه پروګرام په ۱۹۷۰م. کال په امریکا کي د شوروي پېژندونکو د يوې ډلي له خوا د «پروفیسور ایډوارډ الي ورت» تر رياست لاندي جوړ سو. خاص د نونس سوه اويايمو کلونو موده د شوروي پېژندونکو له خوا څخه د مليتونو د پرابلمونو د څېړني د لسيزي په توګه اعلام سوه.[۳۱]

په اوسني حال کي سړی کولای سي د غربي مطالعاتو یو شمېر هغه تمایلات تشخیص کړي، چي غواړي د مليتونو د مسألې په وړاندي سوسياليستي تيوري او عمل تر حملې لاندي ونيسي، دا تمايلات کوم دي؟

لومړی: دوی اراده لري، چي د مليتونو د مسألې په باره کي د مارکسيزم- لينينيزم اصلي دريځ په تيوريکي لحاظ باطل کړي او په لوستونکي باندي یو بورژوازي تعبير وتپي. د بوژوازي ليکونکو هدف د دې خبري اثبات دئ، چي آينده په پرولتاري انترناسيوناليزم اړه نه لري، بلکي په ناسيوناليزم اړه لري.

دوهم: دا کوښښ کوي، چي د اکتوبر تر انقلاب وړاندي او وروسته د لينن دريځ د مليتونو د مسألې په باره کي په بېلابيلو اختراعي تعبيراتو سره بيانوي او غواړي، د دې مسألې په نسبت د شوروي د کمونيستي ګوند پروګرام درواغ ثابت کړي. له داسي افتراګانو څخه ئې هدف د دې خبري اثبات دئ، چي کمونيستان د مليتونو د مسألې په وړاندي بې‌تفاوته دي او غواړي لينن په دې باندي بې‌اعتباره

[۳۱] Soviet Nationality Problems, Columbia University Press, New York, ۱۹۷۱, PP: ۱- ۱۷

کړي، چي نه د ملتونو د حقوقو مدافع او نه هم د ملي آزادۍ دپاره رښتینی مبارز وو.

دریم: دا چي دوی تاریخ او همدا رنګه په خپله هغه وقایع سره مرورړي، چي د شوروي اتحاد د جوړښت په جریان کي منځ ته راغلي دي، څو په دې وسیله ئې له خپلو مقاصدو سره برابر کړي. بورژوازي مؤرخان تاریخ له نوي سره لیکي، څو وکړای سي، چي بېلابېل ناسیونالیستي غورځنګونه په ډاګه کړي. په دې راز زمینه کي نو د شوروي اتحاد جوړېده داسي لیدل کیږي، لکه هغه چي د خلګو د بنیادي غوښتنو په مقابل کي منځ ته راغلی وي.

تر دغه شان چپه تعبیراتو وروسته نو یو شی، چي معلومداره باید وویل سي، هغه د شوروي پېژندونکو له خوا په شوروي اتحاد کي د ملیتونو د مسألې د حل په باب له حقایقو څخه انکار دئ. لوستونکو ته په ټینګه دا تلقین کیږي، چي سوسیالیزم د انترناسیونالیستي روابطو په ساحه کي اصولاً کوم نوی شی منځ ته نه دئ راوړی. د هغو دیموګرافیکي او مهاجرتي جریاناتو په باب، چي په شوروي اتحاد کي روان دي، په پراخه توګه رنګارنګ اټکلونه کیږي.

په غرب کي سیاسي عالمان زیار باسي د شوروي د کمونیست ګوند سیاست، چي کمونیستي او کارګري ګوندونه یو موټی کوي، د خلګو او ملتونو له هغه اجباري ادغام او استعماري انحلال سره ئې یو شی وښیي، چي د تزاري روسیې په وخت کي ئې رواج درلودی. په دې ډول نو دوی داسي پېښي یو د بل سره یو شی کوي، چي مخامخ تضاد سره لري؛ یعني د تزاري روسیې شوونیستي جریان د کمونیستي ګوند د انترناسیونالیستي سیاستونو سره یو شی بولي. دوی ئې داسي

تصویروي، لکه یو چي د هغه بل مستقیمه نتیجه وي او په دې ډول نو «شوروي خلگ- چي یوه نوې تاریخي ټولنه ده» د مفهوم له پلوه غلطه تعبیروي، ځکه دا ټولنه پر هغو واقعي اجتماعي او ملي جریاناتو باندي را بناء سوې او په هغه هیواد کي منځ ته راغلې ده، چي هلته سوسیالیزم بري ته رسېدلی دئ. دوی دا ټولنه د «ماورای ملت شوروی- روسي تیپ» بولي، چي پرته له یو اختراعي تیزسه څخه بل څه نه ګڼل کیږي.

بالآخره د یو بې اساسه کوښښ له لاري غواړي په بین المللي صحنه کي د شوروي اتحاد د کمونیستي ګوند سیاست داسي تحریف کړي، چي په هغه پوري د شوونیزم او لوړتیا غوښتني تورونه وتړي.

د ملي روابطو په زمینه کي د دغو تمایلاتو د شمېر زیاتوالی دا څرګندوي، چي د نن ورځي په ایډیالوجیکي مبارزو کي پر دې ټکي باندي زور اچول کیږي، چي د ملتونو تر منځ د لینني ملګرۍ اساس تخریب کړي. موجود حقایق ثابتوي، چي د ملیتونو د سیاست په ساحه کي د شوروي تجربې بېاعتباره کولو ته له هري لاري څخه کوښښونه متوجه دي او غواړي پر هغو مبارزو باندي د دې تجربې زیاتېدونکي تاثیرات خنثی کړي، چي په پرمختلونکو هیوادو کي د اولسونو له خوا څخه د انترناسیونالیستي روابطو په زمینه کي د ملي حریت او مساوات دپاره جریان لري او د نوي استعمار په مقابل کي هلي ځلي کوي، چي د خپل سرنوشت د آزادانه ټاکلو حق لاس ته راوړي.» (ش: ۲۸، م: ۸-۲۶)

دا قضاوت په لوستونکو اړه لري، چي «بګراموف» په کومه اندازه بریالی سوی دئ، چي د غربي لیکوالانو څرګندوني تردید کړي. خو غربي نظریات وینو، چي

د شوروي په اکاډيميکو حلقو کي ئې نفوذ کړی دئ او دلته هلته ئې نن په شوروي ليکنو کي ځرگندي نښي ليدل کيږي. مثلاً په ۱۹۹۰م. کال کي اکاډيميسن موسی‌يف يوه مقاله خپره کړې ده، چي د دې خبري شواهد هلته موندل کېدلای سي. دی وايي: «د ايتنوسونو تکامل، پيدايښت او له منځه تلل، چي د ټولني په تانسته کي ئې ژور ځای نيولی دئ، د هغو پروسو له جملې څخه دي، چي بشري پرمختگ ټاکي. موږ نه سو کولای، چي د خپلي ارادې سره سم ئې کومي مجرا ته واچوو.» (ش: ۲۹، م: ۱۱۲) بل ځای بيا ليکي: «ځانگړي ملي خصوصيات د ژوند له حقايقو څخه يو حقيقت بلل کيږي او له منځه تلل ئې په اټکل کېدونکې آينده کي نه سي کېدلای. دوی غالباً د «هومو ساپينز» د هغو بنيادي عناصرو له جملې څخه دي، چي په بيالوجيکي توگه ټاکل کيږي.» (ش: ۲۹، م: ۱۱۳)

# د ایتنیکي هویت په ټاکنه کي د شاخص مسأله

د «ایتنوس» یا «ایتنیکي واحد» او یا «ایتنیکي ټولی» کلمات په مشخصه معنا هغه وخت پر خپل ځای سم استعمالولای سو، چي د شاخص نوعیت ئې تر هر څه دمخه ښه وپېژنو. د تیوری په ډېرو عامو الفاظو کي په دې څرگندونه غاړه ایستل کېدلای سي، چي هر «ایتنوس» یا «ایتنیکي هویت» هغه ټولنیز جمعیت دئ، چي د یوې تاریخي او یا خو کله ناکله د یوې طبیعي ممیزې په موجب ئې له نورو هم مثله ټولیو څخه ځانگړی او بېل هویت د ځان دپاره تثبیت کړی وي. خو کله چي د دې تاریخي ممیزې د پېژندلو او په خاصو الفاظو کي د هغې د ټاکلو خبره را وړاندي سي، نو د مسألې اصلي اشکال هم ور سره را څرگندیږي.

په تېر بیان کي البته د یو ټیپیک ایتنوس د تاریخي جوړښت دپاره مشترکه سیمه، مشترکه ژبه، مشترک کلتور، مشترک روحیات او د ځانگړیتوب مشترک احساس د عواملو په توگه وښوول سول. داسي گڼ عوامل چي د یوه یا بل ایتنوس د تاریخي جوړښت په سابقه کي لټول کېدلای سي، د روانو ورځنیو مسایلو په حل کي د کوم ایتنوس له څرگندي او روښاني پېژندني سره بشپړه یا پوره مرسته نه سي کولای؛ ځکه د سر په سترگو وینو، چي پرته له دغو مشخصاتو کله ناکله نسبي دودونه، جینیټیکي مشخصات، فرقوي عنعنات، مذهبي عقاید، اخلاقي عادات، حرفوي نسبتونه او داسي نور هم د اشتراک په حالت کي یوه ټولنیز جمعیت ته په اجتماعي او سیاسي زمینه کي د ځانگړیتوب ایتنیکي غوندي خصلت ور کوي. دغه وضعه نو ایجابوي، چي د ایتنیکي هویت دپاره د شاخص په ټاکنه

کي هر کله له ډېره علمي دقته څخه کار واخیستل سي؛ په تېره بیا هغه وخت چي په دې ټاکنه کي د دولتي حقوقو او وظائفو چاري مطرح وي.

د دې دپاره چي د «ایتنوس» د بېلوونکي عامل یا ټاکونکي شاخص پر ټکي باندي ښه غور وکړو، نو ارومرو په دې زمینه کي زیات شمېر عوامل او شاخصونه مخ ته را ځي، چي هر یو ئې لږ یا ډېر د بېلوونکي ممیزې په څېر ځان را ښیي. د دې راز عواملو او یا شاخصونو مجموعي شمېر چي په ځینو ایتنوسونو کي لږ او په ځینو کي ډېر وي، د نوعیت له مخي هم په بېلابیلو مواردو کي فرق سره کوي. خو تر هغه ځایه چي خبره د ایتنوسو له تاریخي جوړښته سره اړه لري، نو لیدل کیږي، چي د زمانې په اوږدو کي یو واحد او ثابت قرار نه لري، بلکي په یوه یا بل وخت او په یوه یا بل ځای کي ئې نوعیت الیشیږي. مثلاً په یوه وخت کي مذهبي اشتراک او په یوه بل ځای کي بیا حرفوي اشتراک او یو بل چیري بیا جینیټیکي اشتراک داسي ښکاري، چي د کوم ا یتنوس په ځانګړیتوب کي ئې د بېلوونکي عامل او اساسي شاخص په ډول خپل نقش لوبولی وي. په دغه راز ترکیبي تعدد کي څوک نه سي کولای، چي د ایتنوس د ټاکني او پېژندني دپاره پر یوه اساسي شاخص باندي ګوته کښېږدي. خو که د تاریخي سابقې پر ځای تر سترګو لاندي جاري لاحقه په پام کي وساتل سي، نو کېدلای سي، چي تر ډېره حده پوري د دې مسألې په حل کي د ذهني او تصوري انتخاب پر ځای له عیني مقیاسه څخه استفاده وسي.

په نن ورځ کي چي د علمي او تخنیکي پرمختګ له پلوه د انسانانو پر اجتماعي او اقتصادي مؤسساتو باندي ژوري اغېزې په ډېر قوت او سرعت واردیږي، نو د

ایتنیکي واحدونو تر منځ ئې کلتوري توپیرونه، اعتقادي تفاوتونه، جینیټیکي فرقونه، نسبي حسابونه، حرفوي اختلافونه او داسي نور شاخصونه په زیاترو ځایو کي د ایتنیکي حدبندۍ له ښکاره اعتباره څخه اچولي او یا خو هره ورځ د غایبېدو په جریان کي روان دي. خو هغه عیني او ذهني شاخص چي د خپل مقاومت درجه ئې د نورو خصوصیاتو په تناسب دلته هلته ټینګه ساتلې ده او په ځینو ځایو کي ئې لا د نوي رشد دپاره یو شمېر جریانات را سربېره سوي دي، هغه د ژبي شاخص دئ، چي نن د یو ایتنوس تاریخي، اجتماعي، اقتصادي، سیاسي، کلتوري، روحیاتي او حتی د صوتي میکانیزم فیزیولوجیکي مشخصات غونډ یکښي را ټول سوي دي. که د هغه عامل د کار لویه فیصدي په نظر کي ونیول سي، چي د یو ایتنوس په تشکل او تحفظ کي ئې تاریخي نقش لوبولی وي، نو پرته له ژبي څخه بل شی په دې زمینه کي زیات مؤثر نه معلومیږي؛ ځکه دودونه ژر بدلیږي، تعاملات هم په بېړه له منځه تللای سي او د ژوند طرز هم په یوه دوږدنګ کي اوړي. خو ژبه د خپل ثبات په وجه د انساني جمعیت ګروپونه یو له بل څخه بېل او ګوښي ساتي. په دې ترتیب نو موږ ویلای سو، چي همدا اوس د یو ټیپیک ایتنوس دپاره اساسي او بنیادي شاخص یا د تجانس عامل د هغه خپله ژبه ګڼل کېدلای سي. هغه کسان چي دوې یا درې خارجي ژبي ئې زده وي، نو په دې رمز پوره پوهیږي او هم ئې سمه اندازه لګولای سي، چي خپله ژبه د تاریخي توپیر په کومه ټینګه محدوده کي په څونه قوت باندي یو ایتنوس ساتلای سي. د خپلي او د بلي ژبي تر منځ تاریخي حقیقت حتی د یوه شخص په وجود کي له دې تکي څخه اندازه کېدلای سي، چي بله ژبه ډېره ښه زده کېدلای سي، اما خپلېدلای نه سي.

د ژبي اجتماعي مطالعه که څه هم تر اوسه پوري په ځانګړې توګه تر علمي رواج لاندي نه ده راغلې، خو د مقاومت پر خصلت باندي ئې وختي لا يو چيري او بل چيري ځيني ټکي ويل سوي دي. د مثال دپاره افاناسيف د رواني پېړۍ په نيمايي کي د همدې واقعيت څرګندونه په خپلو الفاظو کي داسي کوي: «د کمونيزم له بري سره به هر راز طبقاتي فرقونه غايب سي، لاکن ملي او په تېره بيا ژبني فرقونه به نور هم د اوږدې زمانې دپاره پاته سي.» (ش: ١٧، م: ٢٩۴)

ژبه چي د ايتنيکي شاخص په توګه ومنل سي، نو د دې ټکي پاملرنه هم ور سره په کار ده، چي دغه خبره په يو مخيزه توګه د ټولو ايتنوسونو په باره کي يو شان نه سي تطبيق کېدلای، بلکي يوازي د زيات شمېر مواردو په برخه کي علمي اعتبار پيدا کولای سي. په دې دليل نو چيري چي د چا ژبنی جمعيت او ايتنيکي هويت يو د بل سره بشپړ مطابقت کوي، هغه بايد «ټيپيک ايتنوس» وبلل سي. خو چيري چي بيا ايتنوس د خپلو ځانګړو شرايطو په زمينه کي د دوو ژبو خاوند وي او يا د قومي جمعيت په حساب په يوه ايتنوس او د ژبني جمعيت په حساب په بل ايتنوس پوري اړه پيدا کوي، نو دغسي مثالونه بايد د «ترکيبي ايتنوس» په نامه باندي ياد سي. د ترکيبي ايتنوسونو د موجوديت له مخي هر څوک په دې تاريخي حقيقت باندي هم پوهېدلای سي، چي ايتنيکي هويت هر کله يوه متحرکه او متغيره پديده ده، چي په بېلابيلو تاريخي شرايطو کي د اختلاط، ادغام او انحلال تر ګڼو جرياناتو لاندي خپل ځيني شاخصونه له لاسه ور کوي او په عوض کي ئې نور شاخصونه اخلي. په دې اساس نو د ايتنوس هغه لغوي ترجمه

چي په ځينو آثارو کي د نژاد په کلمه راغلې ده او يا د ايتنوس جوړېدنه يوه بيالوجيکي پديده ګڼل سوې ده، له اصله څخه يوه بې بنياده خبره ده.

د ژبي تر شاخص وروسته نو بيا کېدلای سي، چي نور شاخصونه هم د هغه په تابعيت کي يو په بل پسي وټاکل سي او د ايتنوس د مشخصاتو په رديف کي تر محاسبې لاندي را سي. خو چيري چي جينيټيکي نسبي او ځانګړتياوي د ايتنوس په ټاکنه کي زيات تبارز لري، نو هلته هم يوازي بيالوجيکي مسأله نه سي مطرح کېدلای، بلکي دغه جينيټيکي شاخص ئې هم د اجتماعي روابطو او درجاتو په تاريخي زمينه کي د ايتنوس د ټولنيزي مميزې په توګه تلقي کيږي.

د ژبي له پلوه د ايتنوسونو پېژندنه او د دوی د هويت ټاکنه يوه داسي طريقه ده، چي د ايتنيکي جرياناتو د پخواني او ورځني تحليل دپاره په زياترو مواردو؛ په تېره بيا په هغه تاريخي زمينه کي، چي د ګڼو اولسونو تر منځ التقائي خصلت لري؛ د پوهانو له خوا منل سوې ده. ګالکوفسکي چي کله د پاکستان د اوسنۍ سياسي حوزې ايتنيکي تاريخ تر څېړني لاندي نيسي، نو په خپل اثر کي له همدې طريقې يا مېتود څخه د استفادې په باب دا ډول يادونه کوي: «د پاکستاني وګړو د ايتنيکي ترکيب په پېژندنه کي شوروي پوهان تر ډېري اندازې پوري پر ژبنيو مشخصاتو باندي خپل نتايج بناء کوي او د همدې نتايجو په بشپړېدو او ټينګېدو کي له داسي شواهدو څخه کار اخلي، چي د مبدی، کلتور، ټولنيز جوړښت، نسبي پيوند او نورو شاخصونو څخه لاس ته را ځي.» (ش: ۱۳، م: ٦)

# مأخذونه

د شمارې په هغه ترتیب، چې په دې لیکنه کې راغلي دي:

١. Brook S., Ethno-demographic Processes..., Moscow, ١٩٨٦

٢. Encyclopedia Britannica, USA, ١٩٧٠

٣. Group of Authors, A Dictionary of the Social Science, USA, ١٩٦٥

٤. Social Science, Issue ١, ١٩٨٨

٥. سورة البقره

٦. سورة آل عمران

٧. قرآن مجید با ترجمه و تفسیر، جلد اول، د کتاب چاپولو مؤسسه، ۱۳۴۵ش.

٨. لویس معلوف، المنجد، بیروت، ۱۹۴۷م.

٩. دیوان خواجه حافظ شیرازی

١٠. ارمغان خوشحال، لومړی ټوک، د قصیدې برخه، د پېښور چاپ

١١. غیاث الدین، فرهنگ غیاث اللغات، جلد دوم، تهران، ۱۳۳۷ش.

١٢. محمد معین، دکتر، فرهنگ فارسی، جلد چهارم، تهران، ۱۳۳۷ش.

١٣. Gankovsky Yu.v., The People of Pakistan, Moscow, ١٩٧١

١٤. Nehru G., The Discovery of India, New York, ١٩٦٠

١٥. Stalin J., Marxism and the National Question, Moscow, ١٩٥٤

١٦. Bromley Yu., Major Ethno-social Trends in the USSR, Moscow, ١٩٨٨

١٧. Afanasyev V., Marxist Philosophy, Moscow

١٨. امیر نیک آئین، ماتریالیسم تاریخی

١٩. سراج الاخبار، سال یکم، نمبر ٥، ١٢٩٠ش.

٢٠. Mao Tse-Tung, On Art and Literature, Peking, ١٩٦٠

٢١. نظامنامۀ تشکیلات اساسیه (افغانستان)، کابل، ١٣٠٠ش.

٢٢. قانون اساسی جمهوری افغانستان، ٩ قوس، ١٣٦٦ش.

٢٣. Karl Marx and F. Engels, Selected Works, Volume ١, Moscow, ١٩٥٥

٢٤. Lenin, Marx-Engels Marxism

۲۵. K. Marx and F. Engels, Selected Correspondence, Moscow, ۱۹۵۳

۲٦. Momjan Kh., Landmarks in History, Moscow, ۱۹۸۰

۲۷. اولیانوفسکی، مقالات پیرامون مبارزه ملی آزادی‌بخش، ترجمه دری، مسکو، ۱۹۸۳م.

۲۸. Bagramov E., The CPSU's Nationalities Policy; Truth and Lies, Moscow, ۱۹۸۸

۲۹. Social Science, Issue ۳, ۱۹۹۰